(۲) حقوقی عریضی محکموته په مستقیم ډول یا د حقوقو څانګو له لیاری محکموته وړاندی کیږی او تر څېړلو لاندی نیول کیږی.

باب دوم
فصل اول
استدعا

مادۀ دوازدهم:
(۱) استدعای حق مدنی توسط عریضۀ رسمی مطالبه می‌شود.
(۲) عریضۀ حقوقی مستقیماً به محاکم یا از طریق شعبات حقوق به محاکم تقدیم و مورد رسیدگی قرار می‌گیرد.

دیارلسمه ماده:
حقوقی عریضه د لاندنیو مطالبو لرونکی ده:
۱- د مدعی او مدعی علیه نوم د پلار نوم، اصلی او اوسنی استوګنځی، دنده، د تذکری نمبر.
۲- د مدعی بها د اندازی ټاکل او د دعوی لنډ مطلب.
۳- د مدعی بها د جنس، ډول او بیه بیانول په هغه صورت کې چې منقول وی. په هغه صورت کې چې مدعا بها عقاروی د هغی د بیی ډول او ساحی بیانول هم حتمی دی.
۴- د عارض لاسلیک یا د ګوتی نښه، په هغه صورت کې چې عارض وکیل، وصی یا قیم وی د وکالت، وصایت او قیمومیت د سند د نمری او نېټی د ده د بشپړی پیژندنی په یادولو سره هرو مرو ده.
۵- د حق د رامنځته کیدو نېټه او د عریضی وړاندی کولو نېټه.

څوارلسمه ماده:
په هغه صورت کې چې مدعا بها مشترک او مدعی متعددوی استدعا د یوی عریضی په واسطه

مادۀ سیزدهم:
عریضۀ حقوقی حاوی مطلب ذیل می‌باشد:
۱- اسم، ولد، محل سکونت اصلی و فعلی، پیشه، نمره تذکرۀ مدعی ومدعی علیه.
۲- تعیین اندازۀ مدعی بها و خلص مقصد دعوی.
۳- بیان جنس، نوع، قیمت مدعی بها درصورتی‌که منقول باشد. در صورتی‌که مدعی بها عقار باشد ذکر موقعیت،نوعیت ومساحت آن نیز حتمی است.
۴- امضاء یا نشان انگشت عارض. درصورتی‌که عارض وکیل، وصی یا قیم باشد ذکر نمره وتاریخ سند وکالت، وصایت و قیمومیت با شهرت مکمله آن ضرور است.
۵- تاریخ ایجاد حق وتاریخ تقدیم عریضه.

مادۀ چهاردهم:
درصورتی‌که مدعی بها مشترک ومدعی متعدد باشد استدعا توسط عریضۀ واحد

صورت نیسی.

پنځلسمه ماده:
په مدعا بها کې د دعوی د سبب د یووالی او د مدعی علیه د تعدد په صورت کې استدعا د یوی عریضی په واسطه صورت نیسی.

شپاړسمه ماده:
(۱) هغه عریضه چې واکمنی محکمی ته وړاندی کیږی محکمه یی د معروض علیه د حاضریدو نه وروسته څېړی د معروض علیه د قناعت په صورت کې قضائی قرار صادروی او د اجرأ له پاره د حقوقو اداری ته یی استوی.
(۲) د معروض علیه د انکار په صورت کې محکمه د قانون د حکمونو سره سم رسیده ګی کوی.

اووه لسمه ماده:
هغه عریضه چې د حقوقو اداری ته وړاندی کیږی د مدعی علیه یا د دواړو خواوو د نه قناعت په صورت کې محکمی ته سپارل کیږی.

صورت می‌گیرد.

مادۀ پانزدهم:
درصورت وحدت سبب دعوی در مدعی بها و تعدد مدعی علیه استدعا توسط عریضۀ واحد صورت می‌گیرد.

مادۀ شانزدهم:
(۱) عریضه ایکه به محکمۀ ذیصلاح تقدیم می‌گردد محکمه بعد از احضار معروض علیه آنرا بررسی نموده در صورت قناعت معروض علیه قرار قضائی صادر وجهت اجرأ به ادارۀ حقوق ارجاع می‌دارد.
(۲) درصورت انکار معروض علیه محکمه مطابق به احکام قانون رسیدگی می‌نماید.

مادۀ هفدهم:
عریضه ایکه به ادارۀ حقوق تقدیم می‌گردد درصورت عدم قناعت مدعی علیه یا طرفین محول محکمه می‌شود.

دوهم فصل
د دعوی مبادی

اتلسمه ماده:
د واکمنی محکمی د تحریراتو څانګه را رسیدلی عریضی اخلی او د محکمی د رئیس له کتلو نه وروسته اړوند دفتر کې یی ثبتوی.

نولسمه ماده:
په هغه صورت کې چې محکمه په قضیه کې ځان واکمن ونه بولی د هغی دردولو قرار صادروی.

شلمه ماده:
په هغه قضیه کې چې لومړنی اعتراضونه صورت ونیسی محکمه دغه اعتراضات په هغه قضائی غونډه کې چې د محکمی له خوا ټاکل کیږی څېړل کیږی او قضائی تصمیم پری نیول کیږی.

یو ویشتمه ماده:
لومړنی اعتراضونه په لاندی ډول دی:
۱- د محکمی له خوا د قضیی د څېړلو د واک نشتوالی.
۲- د مدعی او مدعی علیه د واک

فصل دوم
مبادی دعوی

مادهٔ هجدهم:
تحریرات محکمهٔ ذیصلاح عرایض وارده را تسلیم وبعد از ملاحظه رئیس محکمه به دفتر مربوط ثبت می‌نماید.

مادهٔ نزدهم:
در صورتی‌که محکمه در رسیدگی به قضیه خود را ذیصلاح تشخیص نه‌نماید قرار رد آنرا صادر می‌کند.

مادهٔ بیستم:
درقضیه ایکه اعتراضات ابتدایی صورت گیرد محکمه اعتراضات را درجلسهٔ قضائی که از طرف محکمه تعیین می‌گردد رسیدگی و تصمیم قضائی اتخاذ می‌گردد.

مادهٔ بیست ویکم:
اعتراضات ابتدائی قرار ذیل است:
۱- عدم صلاحیت رسیدگی قضیه از طرف محکمه.
۲- فقدان صلاحیت واهلیت

او اهلیت نشتوالی.
۳- پر مدعی علیه باندی په عریضه کې د لیکل شوی ادعا نه متوجه کیدل.
۴- د عارض او معروض په منځ کې د مخکینی قضائی حکم صادریدل.
۵- په غیر منقوله مدعا بها کې د مثبته سندونو پر بنسټ د مدعی علیه د ذوا لیدی نشتوالی.
۶- له هغی دعوی سره چې په بله محکمه کې دایره ده د قضیی ارتباط.
۷- په بله محکمه کې د عریضی د مندرجی قضیی دایریدل.
۸- تر مرور زمان لاندی د دعوی کړای شوی قضیی راتلل.

دوه ویشتمه ماده:
د دغه قانون د یوویشتمی مادی په مندرجو موردونو کې قضائی هیأت د دواړو خواوو په حضور کې موضوع څېړی قضائی قرار صادروی او دواړو خواوو ته اوروی.

در ویشتمه ماده:
هغه خوا چې د دغه قانون د (۲۲)

مدعی ومدعی علیه.
۳- متوجه نبودن ادعای مندرج عریضه برمدعی علیه.
۴- صدور حکم قضائی قبلی درموضوع بین عارض و معروض.
۵- عدم ذوالیدی مدعی علیه متکی براسناد مثبته درمدعی بهای غیر منقول.
۶- ارتباط قضیه با دعوی ایکه در محکمهٔ دیگر دایر است.
۷- دایر بودن قضیهٔ مندرج درعریضه درمحکمهٔ دیگر.
۸- تحت مرور زمان بودن قضیهٔ مورد دعوی.

مادهٔ بیست ودوم:
هیأت قضائی درموارد مندرج مادهٔ (۲۱) این قانون بحضور طرفین موضوع را رسیدگی نموده قرار قضائی صادر وبه طرفین ابلاغ می‌دارد.

مادهٔ بیست وسوم:
طرفیکه به قرار قضائی

مادی پرلیکل شوی قضائی قرار باندی قناعت ونه لری کولای شی د شلو ورځو د مودی په ترڅ کې حاکمی محکمی یا پورتنی محکمی ته خپل اعتراض وړاندی کړی په دغه حالت کې حاکمه محکمه مکلفه ده معترض ته د نېټې په قید کولو سره رسید ورکړی او اعتراض یی په اړوند دفتر کې له ثبتولو نه وروسته پورتنی محکمی ته وسپاری.

څلیر ویشتمه ماده:

د معقول عذر نه پرته د صورت دعوی او د دعوی د ځواب د وړاندی کولو موده له پنځلسو ورځو نه نه شی زیاتېدای.

پنځه ویشتمه ماده:

د محکمی د تحریراتو څانګه مکلفه ده د صورت دعوی د دعوی د ځواب او ضمیمو له رارسیدونه د رارسیدو د نېټې په قید کولو سره مدعی او مدعی علیه ته دی رسید ورکړی.

شپږ ویشتمه ماده:

د محکمی د تحریراتو څانګه د دعوی د رارسیدو نه وروسته د مندرج مادۀ (۲۲) این قانون قناعت نداشته باشد می‌تواند طی مدت بیست روز اعتراض خود رابه محکمۀ حاکمه یا محکمۀ فوقانی تقدیم نماید درین حالت محکمۀ حاکمه مکلف است به معترض به قید تاریخ رسید داده و اعتراض را بعد از ثبت در دفتر مربوط به محکمۀ فوقانی احاله نماید.

مادۀ بیست وچهارم:

میعاد تقدیم صورت دعوی و جواب دعوی بدون عذر معقول از پانزده روز بیشتر بوده نمی‌تواند.

مادۀ بیست و پنجم:

تحریرات محکمه مکلف است از وصول صورت دعوی، جواب دعوی وضمایم آن به مدعی ومدعی علیه باقید تاریخ رسید بدهد.

مادۀ بیست وششم:

تحریرات محکمه بعد از وصول دعوی درصورت

قضائی هیأت په تشخیص د هغه د سموالی په صورت کې د قانون سره سم په محصول پوری اړوند اجراآت سرته رسوی او د محکمی د رئیس په لیکلی امر سره صورت دعوی یی په ټاکلی فورمه کې لیکی او یوه نسخه یی د وخت په ټاکلو سره مدعی علیه ته د ځواب د برابرولو له پاره سپاری. او د دعوی د نه سموالی په صورت کې مدعی د صورت د عوی په تصحیح مکلف کیږی.

اووه ویشتمه ماده:
د مدعی علیه د ځواب د برابریدو نه وروسته محکمه د قضیی د څېړلو نېټه دواړو خواووته اوروی.

اته ویشتمه ماده:
په بسیطو دعواوو او هغی دعوی کې چې د سملاسی رسیده ګی غوښتونکی وی د استدعا او د دواړو خواوو د شفاهی څرګندونو له مخی رسیده ګی کیږی. بسیطی دعوی د دعوا ګرو د اوضاعو او احوالو او د ژوندا نه د شرایطو له مخی د واکمنی محکمی په تشخیص پوری اړه لری.

صحت آن به تشخیص هیأت قضائی اجراآت مربوط به محصول را مطابق قانون انجام وصورت دعوی را به امر تحریری رئیس محکمه درج فورمه معین نموده ویک نسخه آنرا به تعیین وقت به مدعی علیه غرض تهیهٔ جواب تسلیم می‌دهد. و درصورت عدم صحت دعوی مدعی به تصحیح صورت دعوی مکلف می‌شود.

مادهٔ بیست وهفتم:
محکمه بعد از تهیهٔ جواب مدعی علیه تاریخ جلسهٔ رسیدگی قضیه را به طرفین ابلاغ نماید.

مادهٔ بیست وهشتم:
در دعاوی بسیط و دعوی ایکه ایجاب رسیدگی عاجل را نماید به ملاحظه استدعا واظهارات شفوی طرفین رسیدگی بعمل می آید. دعاوی بسیط نظر به اوضاع واحوال متداعیین و شرایط زیست به تشخیص محکمهٔ ذیصلاح مربوط است.

نهه ویشتمه ماده:
هغه مدعی چې خپلی دعوی په قانونی وخت کې محکمی ته وړاندی نه کړی محکمه دنه خصومت کولو قضائی قرار صادروی او عریضه یی اړوندی مرجع ته مستردوی.

دېرشمه ماده:
په هغه صورت کې چې مدعی علیه په قانونی وخت کې خپله لیکلی ځواب محکمی ته وړاندی نه کړی محکمه به د هغه په شفاهی ځواب بسنه وکړی او پر موضوع باندی به قضائی رسیده گی وکړی.

یو دېرشمه ماده:
که مدعی په نهه ویشتمه ماده کې د مندرج قضائی قرار له صادریدو نه وروسته محکمی ته راشی محکمه د موضوع سابقی غواړی او د بلی خوا د حاضریدو نه وروسته پر موضوع باندی رسیده گی کوی، پدغه حالت کې مدعی د خپلی دعوی په وړاندی بیولو مکلف دی.

مادۀ بیست ونهم:
مدعی ایکه دعوی خود را در میعاد قانونی به محکمه تقدیم نه نماید محکمه به ترک خصومت قرار قضائی صادر و عریضه را به مرجع مربوط مسترد می‌نماید.

مادۀ سی ام:
درصورتی‌که مدعی علیه جواب تحریری خود را درمعیاد قانونی به محکمه تقدیم نه نماید محکمه به جواب شفوی او اکتفا نموده در موضوع رسیدگی قضائی نماید.

مادۀ سی ویکم:
هرگاه مدعی بعد از صدور قرار قضائی مندرج مادۀ (۲۹) به محکمه مراجعه نماید محکمه سوابق موضوع رامطالبه و بعد از احضار طرف مقابل درموضوع رسیدگی می‌نماید. مدعی درایـن حالت به تعقیب دعوی خود مکلف می‌باشد.

دوه دېرشمه ماده:
که مدعی دوهم ځل بیا په قانونی وخت کې د دعوی د اقامه کولو له پاره حاضر نه شی او د قانونی عذر له امله محکمی ته خبر ورکړی نه وی محکمه بیا دنه خصومت کولو قرار صادروی.

دری دېرشمه ماده:
د دغه قانون په دوه دېرشمه ماده کې لیکل شوی قرار د استیناف غوښتنی د حکمونو تابع دی خو دا چې قانون د هغه پر خلاف حکم کړی وی.

څلور دېرشمه ماده:
(۱) هغه محکمه چې په دوه دېرشمه ماده کې لیکل شوی قرار صادر کړی دی خو نومړی قرار د پورتنی محکمی په واسطه نقض شی مکلفه ده چې د قضیی په څېړلو لاس پوری کړی.
(۲) پورتنی محکمه مکلفه ده د خپل نقض او د لومړی محکمی په واسطه د قضیی د بیا څېړلو په هکله قرار دواړو خواووته واوروی.

پنځه دېرشمه ماده:
د محکمی دفتر ته د بیا څېړلو له

مادۀ سی ودوم:
هرگاه مدعی بار دوم درمیعاد قانونی به اقامۀ دعوی خود حاضر نه شود و اطلاع دایر بر عذر قانونی به محکمه نداده باشد محکمه مجدداً به ترک خصومت قرار صادر می‌نماید.

مادۀ سی وسوم:
قرار مندرج مادۀ (۳۲) این قانون تابع احکام استیناف خواهی بوده مگر اینکه قانون برخلاف آن حکم نموده باشد.

مادۀ سی وچهارم:
(۱) محکمه ایکه قرار مندرج مادۀ (۳۲) راصادر نموده و قرار مذکور توسط محکمۀ فوقانی نقض گردد مکلف است به رسیدگی قضیه اقدام نماید.
(۲) محکمۀ فوقانی مکلف است قرار نقض خود و رسیدگی مجدد قضیه را توسط محکمۀ اولی به طرفین ابلاغ نماید.

مادۀ سی وپنجم:
مدعی بعد از ورود قضیه به دفتر

پاره د قضیی د را رسیدو نه وروسته مدعی مکلف دی د یوی میاشتی په بهیر کې خپله دعوی په اړونده محکمه کې اقامه کړی په هغه صورت کې چې د قانونی عذر نه پرته په تاکل شوی موده کې خپل دعوی اقامه نه کړی محکمه دنه خصومت کولو قرار صادروی او دغه قرار وروستی دی.

شپږ دېرشمه ماده:

د نکاح په دعوی کې مدعی مکلف دی چې د مؤجه عذر نه لرلو په حالت کې د عریضی د رارسیدو له نېټې څخه د یوی میاشتی په بهیر کې خپله دعوی محکمی ته وړاندی کړی د دغی مودی په تیریدو سره محکمه کولای شی د نه خصومت کولو قرار صادر کړی، مدعی ته یوازی یوه پلا د استیناف غوښتنی حق ورکول کیږی.

که لومړنی محکمه دوهم ځل بیا د نه خصومت کولو قرار صادر کړی دغه قرار وروستنی دی.

اووه دېرشمه ماده:

محکمه د لاندنیو دفترونو لرونکی ده:

محکمه غرض رسیدگی مجدد مکلف است در خلال یکماه دعوی خود را به محکمهٔ مربوطه اقامه نماید درصورتی‌که بدون عذرقانونی بداخل میعاد مقرره دعوی خود را اقامه نه نماید محکمه به ترک خصومت قرار صادر می‌نماید واین قرار نهائی می‌باشد.

مادهٔ سی وششم:

در دعوی نکاح، مدعی مکلف است درحال عدم عذر مؤجه از تاریخ وصول عریضهٔ دعوی خود را در خلال مدت یکماه به محکمه تقدیم نماید با سپری شدن این موعد محکمه می‌تواند به ترک خصومت قرار صادرنماید برای مدعی صرف یکبار حق استیناف خواهی داده می‌شود.

هرگاه محکمهٔ اولی بار دوم به ترک خصومت قرار صادرنماید این قرار نهائی می‌باشد.

مادهٔ سی وهفتم:

محکمه دارای دفاتر ذیل می‌باشد:

۱- د واردی او صادری کتاب.
۲- د جزائی دوسیو د اندارج کتاب.
۳- د مدنی او تجارتی قضیو د اندراج کتاب.
۴- د عاجلو قضیو دغونډو اجندا.
۵- د عادی قضیو د غونډو اجندا.
۶- د قضائی حکم د پاڼو فورمه.
۷- د قضائی حکم د پاڼو د ثبت فورمه.
۸- د قضائی قرارونو د اصل او ثبت فورمه.
۹- د اوصیاء د محاسبی دفتر.
۱۰- د ولایتونو د محکمو پر نهایی او غیر نهایی حکمونو باندی د شکایتونو او اعتراض د ثبت دفتر.
۱۱- د استیناف غوښتنی د ثبت دفتر.
۱۲- ابلاغ پاڼه.
۱۳- د محصولی سندونو د ثبت کتاب.
۱۴- شهریه (تابلو).
۱۵- د عریضو د ثبت کتاب.

۱- کتاب وارده و صادره.
۲- کتاب اندراج دوسیه های جزائی.
۳- کتاب اندراج قضایای مدنی و تجارتی.
۴- اجندای جلسات قضایای عاجل.
۵- اجندای جلسات قضایای عادی.
۶- فورمۀ اوراق حکم قضائی.
۷- فورمۀ ثبت اوراق حکم قضائی.
۸- فورمۀ اصل و ثبت قرارهای قضائی.
۹- دفتر محاسبه اوصیا.
۱۰- دفتر ثبت شکایات و اعتراض براحکام نهائی و غیرنهائی محاکم ولایات.
۱۱- دفتر ثبت استیناف خواهی.
۱۲- ابلاغ نامه.
۱۳- کتاب ثبت سندات محصولی.
۱۴- شهریه (تابلو).
۱۵- کتاب ثبت عرایض.

۱۶- د محصولی تعرفی دفتر.
۱۷- د حاضری دفتر.
۱۸- د قطعی پریکړو پر تطبیق باندی د څارنی دفتر.
۱۹- د اړتیاوړ نور دفترونه.

اته دېرشمه ماده:
د محکمو د دفترونو او کتابونو شمیر او ډول د هری محکمی د کارد ځانګړی توب له مخی سره توپیر لری او محکمو هر یو د خپل کار د ځانګړتیا سره سم د دغه قانون د اووه دېرشمی مادی له مندرجو دفترونو څخه استفاده کوی.

نهه دېرشمه ماده:
د محکمو د اداری کارمندانو نور مکلفیتونه د دغه قانون د حکمونو د په نظر کې نیولو سره د هغی ځانګړی لایحی په واسطه چې د ستری محکمی عالی شورا یی تصویبوی تنظیمیږی.

۱۶- دفتر تعرفهٔ محصولی.
۱۷- دفترحاضری.
۱۸- دفتر نظارت بر تطبیق فیصله های قطعی.
۱۹- سایر دفاتر مورد نیاز.

مادهٔ سی وهشتم.
تعداد و انواع دفاتر وکتب محاکم نظر به خصوصیات کار هر محکمه متفاوت بوده و هر یک از محاکم مطابق به خصوصیت کار خود از دفاتر مندرج مادهٔ (۳۷) این قانون استفاده می‌نماید.

مادهٔ سی ونهم:
با در نظر داشت احکام این قانون سایر مکلفیت های کارمندان اداری محاکم توسط لایحهٔ جداگانه ایکه شورای عالی ستره محکمه آنرا تصویب می‌نماید تنظیم می‌گردد.

درېیم فصل
په محکمو کې د مدنی قضیو د څېړلو بهیر

څلوېښتمه ماده:
د افغانستان جمهوریت په محکمو کې د ټولو مدنی دعواوو څېړل په ښکاره ډول دی. پرته له هغو حالتونو څخه چې ښکاره څېړنه عامه نظم ګډوډ کړی او یا د اشخاصو د ژوند د پټو اسرارو د افشا کېدو سبب شی.

یو څلوېښتمه ماده:
ښکاره غونډې په رسمی ورځو کې دایریږی او مینه والو ته د ننوتلو اجازه ورکول کیږی.

دوه څلوېښتمه ماده:
په ټولو حالتونو کې به د محکمی د حکم ابلاغ علنی وی.

دری څلوېښتمه ماده:
پټې غونډې په قضیه کې د شاملو کسانو او د هغوی د قانونی ممثل په حضور دایریږی او د لزوم په صورت کې شاهدان، اهل خبره او ژباړونکی ګډون کوی.

فصل سوم
جریان رسیدگی قضایای مدنی در محاکم

مادۀ چهلم:
رسیدگی به تمام دعاوی مدنی درمحاکم جمهوری افغانستان علنی می‌باشد. مگر در حالاتیکه رسیدگی علنی نظم عامه را اخلال و یا سبب افشای اسرار محرمانه زندگی اشخاص گردد.

مادۀ چهل ویکم:
جلسات علنی در روز های رسمی دایر به علاقه مندان اجازه حضور داده می‌شود.

مادۀ چهل ودوم:
ابلاغ حکم محکمه در تمام حالات علنی می‌باشد.

مادۀ چهل وسوم:
جلسات سری بحضور داشت اشخاص شامل قضیه وممثل قانونی آنها دایر و درصورت لزوم شهود، اهل خبره و ترجمان اشتراک می‌نمایند.

څلور څلوېښتمه ماده:
چا چې پنځلس کلنۍ سن پوره کړی نه وی او په قضیه کې ګډون و نه لری په قضائی غونډو کې ګډون کولای نه شی.

پنځه څلوېښتمه ماده:
د محکمی د تحریراتو څانګه مکلفه ده د غونډی د دایریدو نه د مخه مدعی او مدعی علیه یا د هغوی قانونی ممثل، شاهدان، اهل خبره او ژباړونکی په ټاکل شویو ځایونو کې کینوی.

شپږ څلوېښتمه ماده:
قضائی هیأت هغه وخت د غونډی خونی ته راننوزی چې د غونډی د داېرېدو وخت رسیدلی وی او په پنځه څلوېښتمه ماده کې لیکل شوی کسان حاضر شوی وی.

اووه څلوېښتمه ماده:
د غونډی خونی ته د قضائی هیأت د راننوتلو په وخت کې ټول حاضر شوی کسان پورته کیږی او کوم وخت چې قضات خپل ځایونه نیسی په خپل ځای کینی.

مادۀ چهل وچهارم:
شخصی‌که سن (۱۵) سالگی را تکمیل نکرده و شامل قضیه نباشد درجلسات قضائی اشتراک کرده نمی‌تواند.

مادۀ چهل و پنجم:
تحریرات محکمه مکلف است قبل از دایر شدن جلسه، مدعی و مدعی علیه یا ممثل قانونی شان، شهود ،اهل خبره و ترجمان را درمحل مختص به آن جابجا نماید.

مادۀ چهل وششم:
هیأت قضائی زمانی وارد اطاق جلسه می‌گردد که وقت تدویر جلسه آماده و اشخاص مندرج مادۀ (۴۵) حاضر گردیده باشند.

مادۀ چهل وهفتم:
حین داخل شدن هیأت قضائی به اتاق جلسه تمام حاضرین به پا ایستاده می‌شوند زمانیکه قضات اخذ موقع نمودند بجای خود می نشینند.

اته څلوېښتمه ماده:
د قضائی غونډې رئیس د غونډې رسمیت د لوی او دادګر خدای په نامه پرانیزی، د قضائی هیأت جوړښت، څارنوال، اهل خبره، ژباړونکی او د غونډې منشی حاضرینوته ورپیژنی.

نهه څلوېښتمه ماده:
د قضائی غونډې رئیس د قضیی او غونډې د شاملو کسانو حقوق، وجیبی او مکلفیتونه توضیح کوی او د قضائی غونډې او منشی ته د غونډې د اجندا د لوستلو دستور صادروی او د مدعی، مدعی علیه او یا د هغوی د قانونی ممثل په پیژندلو سره د قضیی څېړلو ته پیل کوی.

پنځوسمه ماده:
د غونډې رئیس د قضیی د څېړلو په وخت کې لومړی مدعی یا د هغه قانونی ممثل ته او وروسته مدعی علیه او یا د هغه قانونی ممثل ته وخت ورکوی چې خپله دعوی او دفاع ولولی.

مادۀ چهل وهشتم:
رئیس جلسۀ قضائی رسمیت جلسه را بنام خداوند توانا وداد گر افتتاح، ترکیب هیأت قضائی، څارنوال واهل خبره، ترجمان ومنشی جلسه به اطلاع حاضرین میرساند.

مادۀ چهل ونهم:
رئیس جلسۀ قضائی حقوق و وجایب و مکلفیت های اشخاص شامل قضیه وجلسه را توضیح و منشی جلسۀ قضائی دستور قرائت اجندای جلسه را صادر وبعد از معرفی مدعی و مدعی علیه و یا ممثل قانونی آنها رسیدگی قضیه را آغاز می‌نماید.

مادۀ پنجاهم:
رئیس جلسه حین رسیدگی قضیه نخست به مدعی یا ممثل قانونی او و سپس به مدعی علیه و یا ممثل قانونی او موقع می‌دهد تا دعوی و دفاع شان راقرائت نمایند.

یو پنځوسمه ماده:
د دعوی دواړو خواوو په پوره آزادی خپلی غوښتنی لولی او څرګندونی کوی د یوی خوا د وینا د پای ته رسیدو نه د مخه بله خوا حق نه لری د مقابل خوا وینا پری کړی.

مادۀ پنجاه ویکم:
طرفین دعوی به کمال آزادی مطالبات خود راقرائت و توضیحات می‌دهد قبل از ختم گفتار یکطرف، طرف دیگر حق ندارد صحبت جانب مقابل را قطع کند.

دوه پنځوسمه ماده:
د مدعی، مدعی علیه او نورو اړوندو کسانو څخه استیضاح د غونډی د رئیس په واک کې ده که د محاکمی په بهیر کې ځینی مطالب د غونډی د قضائی غړیو سره د استیضاح وړ وی د غونډی د رئیس په اجازه له دواړو خواوو څخه پوښتل کیږی.

مادۀ پنجاه ودوم:
استیضاح ازمدعی، مدعی علیه وسایر اشخاص ذیربط از صلاحیت رئیس جلسه بوده هرگاه درجریان محاکمه مطالبی نزد اعضای قضائی جلسه قابل استیضاح باشد به اجازۀ رئیس جلسه از طرفین استفسار به عمل می آید.

دری پنځوسمه ماده:
د غونډی منشی مکلف دی، د دعوی، مدافعاتو، د شاهدانو د شهادت او د اهل خبره په څرګندونو پوری مربوط د محاکمی ټول بهیر بی له کموالی څخه د غونډی په محضر کې قید کړی او د هغه په پای کې د رئیس او اړوندو کسانو لاسلیک تر لاسه کړی.

مادۀ پنجاه وسوم:
منشی جلسه مکلف است تمام جریان محاکمه را به ارتباط دعوی و مدافعات شهادت شهود و اظهارات اهل خبره بدون کم وکاست قید محضر جلسه نموده و در پای آن امضای رئیس واشخاص مربوط را اخذنماید.

څلور پنځوسمه ماده:
د قضائی غونډې لارښوونه او سمون د غونډې د رئیس په واک کې دی.

مادهٔ پنجاه وچهارم:
رهبری و انتظام جلسهٔ قضائی از صلاحیت رئیس جلسه می‌باشد.

پنځه پنځوسمه ماده:
په قضیه کې شامل کسان، د دعوی د دواړو خواوو قانونی ممثل، شاهدان، اهل خبره، ژباړونکی او په قضائی غونډه کې نور شامل کسان د غونډې د نظم په رعایت کولو او د غونډې د رئیس له امرونو څخه په اطاعت کولو مکلف دی.

مادهٔ پنجاه وپنجم:
اشخاص شامل قضیه، ممثل قانونی طرفین دعوی، شهود، اهل خبره، مترجمین و سایرشاملین جلسهٔ قضائی مکلف به رعایت نظم جلسه و اطاعت از اوامر رئیس جلسه می‌باشند.

شپږ پنځوسمه ماده:
مدعی، مدعی علیه او یا د هغوی قانونی ممثل، شاهدان، اهل خبره او ژباړونکی مکلف دی د څرګندونو او د مطلبونو د توضیح کولو په وخت کې په پښو ودریږی خو دا چې د غونډې رئیس هغو ته د کښیناستلو اجازه ورکړی.

مادهٔ پنجاه وششم:
مدعی، مدعی علیه ویا ممثل قانونی آنها، شهود، اهل خبره و مترجمین مکلف اند حین اظهارات و توضیح مطالب به پا بایستند مگر اینکه رئیس جلسه اجازهٔ نشستن را به آنها بدهد.

اووه پنځوسمه ماده:
څوک چې د غونډې نظم ګډوډ کوی، د غونډې رئیس ورته اخطار ورکوی او د سرغړولو په صورت کې رئیس کولای شی اخلال

مادهٔ پنجاه وهفتم:
شخصی‌که نظم جلسه را برهم می زند رئیس جلسه او را اخطار می‌دهد درصورت تخلف رئیس می‌تواند اخلال کننده

کوونکی سړی د غونډې له خونی څخه وشړی.

اته پنځوسمه ماده:
که د غونډې د نظم اخلال کوونکی مدعی، مدعی علیه، یا د هغوی قانونی ممثل وی د بیا تخلف کولو په صورت کې محکمه کولای شی اخلال کوونکی په نغدی جزاء چې له دری زره افغانیو څخه زیاته نه وی یا تر یوی اونی پوری په بند محکوم کړی.

نهه پنځوسمه ماده:
که اخلال کوونکی مدنی څارنوال وی محکمه د قضائی قرار په صادرولو سره د هغه په بدلولو لاس پوری کوی.

شپیتمه ماده:
په هغه صورت کې چې اخلال کوونکی مدافع وکیل وی محکمه هغه د قانون د حکمونو سره سم تأدیب کوی.

یو شپیتمه ماده:
که څوک په قضائی غونډه کې د قباحت یا د جنحی د جرم مرتکب شی د محکمی له خوا د قانون د حکمونو سره سم مجازات کیږی.

را از اتاق جلسه خارج نماید.

مادۀ پنجاه وهشتم:
هرگاه اخلال کننده نظم جلسه مدعی، مدعی علیه یا ممثل قانونی آنها باشد درصورت تکرار تخلف محکمه می‌تواند اخلال کننده را به جزای نقدی که از سه هزار افغانی بیشتر نباشد یا حبس الی یک هفته محکوم نماید.

مادۀ پنجاه ونهم:
اگر اخلال کننده څارنوال مدنی باشد محکمه با صدور قرار قضائی به تعویض وی اقدام می‌نماید.

مادۀ شصتم:
درصورتی‌که اخلال کننده وکیل مدافع باشد محکمه او را مطابق احکام قانون تأدیب می‌نماید.

مادۀ شصت ویکم:
هرگاه شخص در جلسۀ قضائی مرتکب جرم قباحت و یا جنحه گردد از طرف محکمه مطابق به احکام قانون مجازات می‌گردد.

دوه شپیتمه ماده:
محکمه د دغه قانون له اته پنځوسمی څخه تر شپیتمی مادو پوری مندرج مجازات په واجب التعمیل قضائی حکم کې تاکی او دا حکم د استیناف وړ نه دی.

دری شپیتمه ماده:
د دغه قانون له اته پنځوسمی څخه تر شپیتمی مادو پوری په مندرجو حالتونو کې محکمه کولای شی د غونډې د پای ته رسیدو نه د مخه صادر شوی حکم لغو کړی.

څلور شپیتمه ماده:
که محکمه د جنحی په جرم کې په هماغه قضائی غونډه کې تورن په جزأ محکوم نه کړی او یا ارتکاب شوی جرم جنایت وی محکمه مکلفه ده د پیښې محضر جوړ کړی او د تورن د نیولو امر صادر کړی او موضوع اړوندی څارنوالی ته احاله کړی. په دغه مورد کې د حکم صدور په نړدی ګاونډی محکمه کې صورت نیسی.

مادۀ شصت ودوم:
محکمه مجازات مندرج مواد (۵۸) الی (۶۰) این قانون را به داخل حکم قضائی واجب التعمیل تعیین و حکم مذکور غیرقابل استیناف است.

مادۀ شصت وسوم:
در حالات مندرج مواد (۵۸) الی (۶۰) این قانون محکمه می‌تواند قبل از ختم جلسه حکم صادر شده را لغو نماید.

مادۀ شصت وچهارم:
هرگاه محکمه در جرم جنحه در همان جلسۀ قضائی متهم را محکوم به جزأ نه نماید و یا جرم ارتکابیه جنایت باشد محکمه مکلف است، محضر واقعه را ترتیب وامر گرفتاری متهم راصادر و موضوع رابه څارنوال مربوط احاله نماید اصدارحکم در این مورد درمحکمۀ مجاور قریب صورت می‌گیرد.

څلورم فصل
د قاضی ډډه کول او ردول

پنځه شپیتمه ماده:
د محکمی رئیس او هر یو غړی په لاندنیو حالتونو کې د محکمی په جوړښت کې له ګډون کولو او د مدنی دعوی له څېړلو څخه ډډه کوی:
۱- په هغه صورت کې چې د ترڅېړلو لاندی په قضیه کې ذینفع وی او یا دعوی په اصول او فروع، میړه، میرمن او یا د هغوی په خپلوانو پوری اړه ولری.
د دی منظور له پاره خپلوان عبارت دی له ورور، وراره، خور، خورزه، تره، عمه، خاله، ماما، خسر او خوابنی څخه.
۲- په هغه صورت کې چې په محکمه کې د طرح شوی قضیی په اړوندو سندونو کې کوم سند لیکلی وی یا لاسلیک کړی وی یا د دعوی په موضوع کې پخوا د څارنوال، حکم، اهل خبری یا شاهد په توګه د عقیدی اظهار کړی وی.
۳- په هغه صورت کې چې د رئیس

فصل چهارم
اجتناب و رد قاضی

مادهٔ شصت وپنجم:
رئیس واعضای محکمه هریک در حالات آتی از اشتراک در ترکیب محاکمه ورسیدگی بدعوی مدنی اجتناب می‌ورزند.
۱- درصورتی‌که در قضیه مورد رسیدگی ذینفع و یا دعوی مربوط به اصول و فروع، زوج، زوجه و یا اقارب آنها باشد.
اقارب به این منظور عبارت است از برادر، برادر زاده، خواهر، خواهر زاده، کاکا، عمه، خاله، ماما، خسر و خشو.
۲- در صورتی‌که در اسناد مربوط به قضیهٔ مطروحه در محکمه سند را تحریر یا امضاء نموده یا در موضوع دعوی قبلاً بحیث څارنوال، حکم، اهل خبره یا شاهد اظهار عقیده کرده باشد.
۳- درصورتی‌که بین رئیس یا

یا د محکمی د غړیو یا د قضیی د دواړو خواوو د یو تن په منځ کې دعوی وی.

۴- په هغه صورت کې چې د دعوی د یوی خوا او د رئیس یا د محکمی د غړیو د یو تن تر منځ مخکینی خصومت موجود وی.

شپږ شپیتمه ماده:

هغه قاضیان چې د دغه قانون د پنځه شپیتمی مادی د لومړی فقری د مندرج حکم سره سم یو بل سره خپلوی لری د مدنی قضیی د څېړلو د محاکمی په جوړښت کې نه شی شاملیدای.

اووه شپیتمه ماده:

قاضی کولای شی د دغه قانون په پنځه شپیتمه او شپږ شپیتمه مادوکی د مندرجو حالتونو څخه بهر د بل سبب د رامنځته کیدو په صورت کې د دعوی په څېړلو کې له ګډون څخه ډډه وکړی.

اته شپیتمه ماده:

په لاندنیو حالتونو کې د قضیی په وروستی رسیده ګی کې د رئیس او د محکمی د غړیو ګډون مجاز نه دی:

اعضای محکمه یا یکی از طرفین قضیه دعوی موجود باشد.

۴- درصورتی‌که بین رئیس یا یکی از اعضای محکمه با یکطرف دعوی خصومت قبلی موجود باشد.

مادۀ شصت وششم:

قضاتی‌که برطبق حکم مندرج فقره (۱) مادۀ (۶۵) این قانون با همدیگر قرابت داشته باشند نمی‌توانند در ترکیب محاکمه در رسیدگی قضیۀ مدنی شامل شوند.

مادۀ شصت وهفتم:

قاضی می‌تواند درصورت بروز اسبابی خارج از احوال مندرج در مواد (۶۵ و ۶۶) این قانون از اشتراک در رسیدگی دعوی اجتناب نماید.

مادۀ شصت وهشتم:

دراحوال آتی اشتراک رئیس واعضای محکمه در رسیدگی بعدی قضیه مجاز نمی باشد:

۱- د قضیی په لومړنی څېړنه کې د ګډون په صورت کې.
۲- د ستری محکمی په دیوانونو د قضیی په څېړلو کې د ګډون په صورت کې.

نهه شپیتمه ماده:
د دغه قانون په اووه شپیتمه او اته شپیتمه مادو کې د مندرجو حالتونو د شته والی په صورت کې قاضی مکلف دی په قضیه کې د خپل ډډه کولو موضوع محکمی ته وړاندی کړی.

او یایمه ماده:
د دعوی دواړه خواوی کولای شی د دغه قانون په اووه شپیتمه او اته شپیتمه مادو کې یو د مندرجو حالتونو د شته والی په صورت کې د موضوع له څېړلو څخه د قاضی درد غوښتنه وکړی.

یو اویایمه ماده:
د قاضی درد غوښتنه د دریو ورځو په بهیر کې د موضوع د څېړلو د پیل نه د مخه په لیکلی او مستند ډول محکمی ته وړاندی کیږی.

۱- درصورت اشتراک در رسیدگی ابتدایی قضیه.
۲- در صورت اشتراک در رسیدگی قضیه در دیوان های ستره محکمه.

مادۀ شصت ونهم:
در صورت موجودیت حالات مندرج مواد (۶۷و ۶۸) این قانون قاضی مکلف است موضوع اجتناب خود را در قضیه به محکمه تقدیم نماید.

مادۀ هفتادم:
طرفین دعوی می‌توانند درحال موجودیت یکی از حالات مندرج مواد (۶۷) و(۶۸) این قانون رد قاضی را در رسیدگی به موضوع تقاضا نمایند.

مادۀ هفتادویکم:
طلب رد قاضی بصورت تحریری و مستند قبل از آغاز رسیدگی موضوع درخلال سه روز به محکمه تقدیم می‌گردد.

دوه اویایمه ماده:
۱- د محکمی قضائی هیأت د قضائی غونډی په ترڅ کې درد اسباب او دلایل وڅېړی د منلو او نه منلو په باب یی د رأیو په اکثریت تصمیم نیسی او قرار صادروی.
۲- د رأیو د برابری په صورت کې د قاضی رد کېدو ته ترجیح ورکول کیږی.

دری اویایمه ماده:
په هغه صورت کې چې په لومړنی محکمه کې یو تن قاضی وی د رد غوښتنه پورتنی محکمی ته وړاندی کیږی او درد د منلو په حال کی، بل یو قاضی ته د قضیی د څېړلو دنده ورکول کیږی.

څلور اویایمه ماده:
که درد غوښتنه د لومړنی محکمی قضائی ټول هیأت ته متوجه وی درد د منلو په صورت کې د پورتنی محکمی له خوا د څېړلو او د حکم د صادرولو په خاطر بل قضائی هیأت ټاکل کیږی.

مادهٔ هفتادودوم:
۱- هیأت قضائی محکمه اسباب ودلایل رد را طی جلسهٔ قضائی بررسی نموده درمورد قبول وعدم قبول به اکثریت آراء تصمیم اتخاذ وقرار صادر می‌نماید.
۲- درصورت تساوی آراء به رد قاضی ترجیح داده می‌شود.

مادهٔ هفتادوسوم:
درصورتی‌که درمحکمهٔ ابتدائیه یکنفر قاضی باشد تقاضای رد به محکمهٔ فوقانی تقدیم و در حال قبول رد، قاضی دیگری به رسیدگی قضیه مؤظف می‌گردد.

مادهٔ هفتادوچهارم:
هرگاه مطالبه رد متوجه تمام هیأت قضائی محکمهٔ ابتدائیه باشد در صورت قبول رد، هیأت قضائی دیگری از طرف محکمهٔ فوقانی بمنظور رسیدگی و صدور حکم تعیین می‌گردد.

پنځه اویایمه ماده:
که درد اسباب د ولایت د محکمی د ریاست یا د هغی د معادلی محکمی یو د دیوانونو قضائی هیأت ته متوجه وی د محکمی رئیس د یو بل قاضی په ګډون درد دمنلو یا نه منلو په هکله تصمیم نیسی.
په هغه صورت کې چې درد اسباب د ولایت د محکمی د هغی د انډول محکمی رئیس یا د ستری محکمی غړیو ته متوجه وی د ستری محکمی عالی شورا په دی هکله تصمیم نیسی.

شپږ اویایمه ماده:
کوم وخت چې د قاضی درد موضوع مطرح وی د دعوی د اصل څېړنه معطل کیږی.

اووه اویایمه ماده:
که د قاضی دردولو موردو نه ثابت نه شی هغه محکمه چې د رد په نه ثابتیدو تصمیم نیسی سوء نیت لرونکی د رد غوښتونکی (مدعی، مدعی علیه) تر دری زره افغانیو پوری په نغدی جزاء محکوموی.

مادۀ هفتادوپنجم:
هرگاه اسباب رد متوجه هیأت قضائی یکی از دیوان های ریاست محکمۀ ولایت یا محکمۀ معادل آن باشد رئیس محکمه به اشتراک یک نفر قاضی دیگر در مورد قبول و عدم قبول رد تصمیم اتخاذ می‌دارد.
در صورتی‌که اسباب رد متوجۀ رئیس محکمۀ ولایت، محکمۀ معادل آن یا اعضای ستره محکمه باشد شورای عالی ستره محکمه در مورد تصمیم اتخاذ می‌کند.

مادۀ هفتادو ششم:
زمانی‌که موضوع رد قاضی مطرح باشد رسیدگی اصل دعوی معطل قرار داده می‌شود.

مادۀ هفتادوهفتم:
هرگاه موارد رد قاضی ثابت نشود محکمه ایکه بعدم ثبوت رد تصمیم می‌گیرد درخواست کننده رد دارای سوء نیت (مدعی، مدعی علیه) به جزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم می‌گردد.

اته اویایمه ماده:
هغه قرارونه چې د محکمی له خوا د رد په باب صادریږی وروستنی دی.

مادۀ هفتادوهشتم:
قرارهای که از طرف محکمه در مورد رد صادر می‌شود نهایی می‌باشد

پنځم فصل
په مدنی قضیو کې د څېړنی واک

فصل پنجم
صلاحیت رسیدگی درقضایای مدنی

نهه اویایمه ماده:
مدنی دعوی په لومړی پړاو کې د بنـاری، ناحیی، ولسوالی یا علاقداری د محکمی په واسطه یوی خوا ته کیږی پرته له هغو حالتونو څخه چې قانون بل ډول تصریح کړی وی.

مادۀ هفتادونهم:
دعاوی مدنی در مرحلۀ ابتدایی توسط محکمۀ شهری، ناحیوی، ولسوالی یا علاقه داری فیصله می‌شود جزء در حالاتیکه قانون طور دیگری تصریح کرده باشد.

اتیایمه ماده:
محکمه د هغو دعواوو په څېړلو لاس پوری کوی چې د حقوقی یا حکمی شخصیتونو له خوا د پریکړی غوښتنه یی شوی وی.

مادۀ هشتادم:
محکمه به رسیدگی دعاوی اقدام می‌نماید که از طرف شخصیت های حقوقی یا حکمی حل و فصل آن تقاضا شده باشد.

یو اتیایمه ماده:
(۱) مدنی دعوی د مدعی علیه د استوګنی په سیمه کې یوی خوا ته کیږی.
(۲) که مدعی علیه د استوګنی څو

مادۀ هشتاد ویکم:
(۱) دعوی مدنی در محل سکونت مدعی علیه حل و فصل می‌گردد.
(۲) هرگاه مدعی علیه محل

ځایونه ولری د ده پر خلاف مدنی دعوی په هغه محکمه کې څېړل کیږی چې مدعی علیه د استدعا په وخت کې د هغی په قضائی وړ کې استوګنه ولری.

دوه اتیایمه ماده:
په هغه صورت کې چې میړو ښه ښځه مدعی علیه وی د دعوی څېړل د هغه د میړه د استوګنی د سیمی د محکمی په واک کې ده.

دری اتیایمه ماده:
په هغه صورت کې چې نجلی د واده سن ته رسیدلی یا د مدعی علیه د بشپړ حقوقی اهلیت څخه برخمن وی د دعوی څېړل د ده د پلار او یا د هغو شرعی محارمو د استوګنځی د محکمی له واک څخه ده چې د هغه د اعاشی او پالنی متکفل دی.

څلور اتیایمه ماده:
که اهلیت نه لرونکی او یا د نیمګړی اهلیت خاوند مدعی علیه وی د دعوی څېړل د ولی، وصی یا قیم د استوګنځی د محکمی له واک څخه دی.

سکونت متعدد داشته باشد دعوی مدنی علیه وی در محکمهٔ رسیدگی می‌شود که مدعی علیه حین استدعا در حوزهٔ قضائی آن سکونت داشته باشد.

مادهٔ هشتادو دوم:
در صورتی‌که زن شوهردار مدعی علیه باشد رسیدگی دعوی از صلاحیت محکمهٔ محل اقامت شوهر می‌باشد.

مادهٔ هشتادوسوم:
در صورتی‌که دختر حایز سن ازدواج یا دارای اهلیت حقوقی کامل مدعی علیه باشد رسیدگی دعوی از صلاحیت محکمهٔ محل اقامت پدر و یا محارم شرعی می‌باشد که متکفل اعاشه و پرورش وی است.

مادهٔ هشتادو چهارم:
هرگاه شخص فاقد یا ناقص اهلیت، مدعی علیه باشد رسیدگی دعوی از صلاحیت محکمهٔ محل اقامت ولی، وصی یا قیم می‌باشد.

پنځه اتیایمه ماده:
د محجـــور، مفقـــود او غایـــب استوګنځی د دوی د قـــانونی قایم مقام استوګنځی دی.

شپږ اتیایمه ماده:
که د دولت کارکوونکی یا د وسله والو پوځ منسوب کسان په مدنی قـضیو کـې مـدعی علیـه وی د دعوی څېړل د هغوی د کار ځای د محکمی له واک څخه ده.

اووه اتیایمه ماده:
د مسافر یا کډوال دعوی په هغه صورت کې چې مدعی او مدعی علیه وی په هغه ښاری، ناحیوی، ولـسوالی یـا د علاقـه داری پـه محکمـه کـې دایرېږی چې دواړه خواوو د هغی محکمی د رسیدګی واک قبول کړی.

اته اتیایمه ماده:
که د دعوی د دواړو خواوو یو تن د محکمی پر واک باندی اعتراض ولری چې نومورې دعوی څېړې باید خپـل اعتـراض د دعـوی د دایریدو نه د مخه همغـی محکمی تـه وړانـدی کړی پـر تـه لـه دی د محکمی واک قبول کړای شوی ګڼل

مادۀ هشتادوپنجم:
اقامتـــگاه محـــجور، مفـــقود و غـــایب اقـامـــتگاه قـایم مقـــام قانـونی آنها می‌باشد.

مادۀ هشتادو ششم:
هـرگـاه کارکنـان دولـت، منـسوبین قـــوای مـسلح در قـضایای مـدنی مـدعی علـیه باشـــند رسیدگـی دعـوی از صـلاحیت محکمۀ محل کار آنها می‌باشد.

مادۀ هشتادوهفتم:
دعـــوی مـــسافر یـــا کـــوچی در صـورتی‌که مدعی و مدعی عـلیه باشـــند در مـــحکمۀ شـــهری، ناحیوی، ولسوالی یا عـــلاقه داری دایـــر مـــی‌گـــردد کـــه طـــرفین صلاحـــیت رسـیدگـــی محکمـه راقـبول نمـایند.

مادۀ هشتادوهشتم:
هرگـاه یکـی از طـرفین دعـوی بـه صـلاحیت محکمـه ایکـه بـه دعـوی مذکور رسیدگی می‌کند اعتـراض داشته باید اعتراض خود را قبل از دایر شدن دعـوی بـه همـان محکمـه تقـدیم کنـد درغیـر آن صـلاحیت مـــحـــکمه قبـــول شـــده تلقی

کیږی.

نهه اتیایمه ماده:
که مدعی علیه د مدعی د استوګنی په سیمه کې کم ترکمه یو کال اوسیدلی وی واکمنه محکمه د مدعی د استوګنځی محکمه ده.

نوی یمه ماده:
د هغه سوداګر یا کسبګر د مدنی معاملو د څېړلو له پاره چې مدعی علیه وی واکمنه محکمه یې د سودا ګرې یا کسبګرۍ د ځای محکمه او یا د هغه د اصلی استوګنځی محکمه ده.

یو نوی یمه ماده:
په هغه صورت کې چې د یوی ټاکلی قانونی معاملی د سرته رسولو له پاره کوم استوګنځی غوره کیږی له معاملی څخه د راپیدا شوی دعوی د څېړلو له پاره واکمنه محکمه د غوره شوی استوګنځی محکمه ده.

دوه نوی یمه ماده:
د ویش یا ترکی د دعوی څېړل د هغه ښاری، ناحیوی، ولسوالی یا د علاقه داری د محکمی له واک

می‌گردد.

مادۀ هشتادونهم:
هرگاه مدعی علیه در محل سکونت مدعی حداقل یکسال اقامت نموده باشد محکمۀ ذیصلاح محکمۀ محل سکونت مدعی می‌باشد.

مادۀ نودم:
محکمۀ ذیصلاح برای رسیدگی معاملات مدنی تاجر یا پیشه وریکه مدعی علیه باشد محکمۀ محل تجارت، پیشه و یا محکمۀ محل سکونت اصلی وی است.

مادۀ نودویکم:
در صورتی‌که برای اجرای یک معاملۀ معین قانونی اقامتگاهی اختیار گردد محکمۀ ذیصلاح برای رسیدگی دعوی ناشی از معاملۀ محکمۀ اقامتگاه اختیار شده است.

مادۀ نودودوم:
رسیدگی دعوی تقسیم یا ترکه ازصلاحیت محکمۀ شهری، ناحیوی، ولسوالی، علاقه داری

څخه ده چې د ویش یا ترکی وړ عین د هغه په وند کې وی.
په بیلابیلو قضائی حوزو کې د عین د شته والی په صورت کې د څېړلو واک د هغی محکمی څخه دی چې د عین زیاتره برخه پکی ده.

دری نوی یمه ماده:
په یوه محکمه کې د دایریدو نه وروسته د دعوی لیږدول او په بله محکمه کې په ځانګړی فورمه کې یې لیکل جوازنه لری، د قاضی له خوا د ډډه کولو د غوښتنی یا د مدعی علیه له خوا د هغه درد کیدو په صورت کې په هماغه محکمه کې بل قضائی هیأت ټاکل کیږی او دعوی څېړی.

څلور نوی یمه ماده:
که د محکمی وند وی یا موضوعی واک د نوی قانون په نافذیدو سره بدلون ومومی د قضیی څېړل د هغی محکمی له واک څخه دی چې دعوی پکی دایره ده.

پنځه نوی یمه ماده:
په افغانستان کې په استوګن بهرنیو اتباعو پوری مربوط د مدنی

می‌باشد که عین مورد تقسیم یا ترکه در حوزهٔ آن قرار دارد.
در صورت موجودیت عین در وند های مختلف قضائی صلاحیت رسیدگی از محکمه ای میباشد که قسمت اعظم عین درآن واقع باشد.

مادهٔ نود وسوم:
انتقال دعوی بعد از دایرشدن دریک محکمه و درج درفورمهٔ خاص به محکمهٔ دیگر جواز ندارد درصورت تقاضای اجتناب از طرف قاضی یا رد وی از طرف مدعی علیه درهمان محکمه هیأت قضائی دیگری تعیین و به دعوی رسیدگی می‌نماید.

مادهٔ نودو چهارم:
هرگاه صلاحیت وند وی یا موضوعی محکمه به انفاذ قانون جدید تغییر یابد رسیدگی قضیه از صلاحیت محکمه ای می‌باشد که دعوی درآن دایر است.

مادهٔ نودو پنجم:
رسیدگی دعوی قضایای مدنی مربوط به اتباع خارجی مقیم در

قضیو د دعوی څېړل د افغانستان جمهوریت د محکمو له واک څخه دی.

شپږ نوی یمه ماده:

د هغه بهرنی تبعی پر دعوی باندی رسیده ګی چې په افغانستان کې استوګنځی ونه لری په لاندنیو حالتونو کې د افغانستان جمهوریت په محکمو پوری اړه لری:

۱- په هغه صورت کې چې بهرنی سړی د افغانستان په جمهوریت کې په خپله اختیاری استوګنځی ولری.

۲- په هغه صورت کې چې د عقد موضوع یا د تنفیذ ځای یی د افغانستان په جمهوریت کې وی.

۳- په هغه صورت کې چې د ترکی په غوښتنی پوری مربوط دعوی د افغانستان په جمهوریت کې پېل شوی وی.

۴- په هغه صورت کې چې د متروکی ټول مالونه او یا یوه برخه یی د افغانستان په جمهوریت کې وی.

افغانستان از صلاحیت محاکم جمهوری افغانستان است.

مادۀ نودوششم:

رسیدگی دعوی مربوط به تبعۀ خارجی که در افغانستان محل سکونت نداشته باشد درحالات آتی مربوط به محاکم جمهوری افغانستان می‌باشد:

۱- در صورتی‌که خارجی در جمهوری افغانستان از خود اقامتگاه اختیاری داشته باشد.

۲- درصورتی‌که موضوع عقد یا محل تنفیذ آن در جمهوری افغانستان باشد.

۳- در صورتی‌که دعوی مربوط به مطالبۀ ترکه در جمهوری افغانستان آغاز یافته باشد.

۴- در صورتی‌که کل یاقسمتی ازاموال متروکه در جمهوری افغانستان باشد.

اووه نوی یمه ماده:
د میړه د نشتوالی یا مفقودی له امله د تفریق دعوی د څېړلو واک د مدعی د استوګنځی د محکمی څخه ده.

اته نوی یمه ماده:
د بندی میړه پر خلاف د بند په سبب د تفریق د دعوی د څېړلو واک د قانون د حکمونو سره سم د میړه د بند ځای د محکمی له واک څخه دی.

نهه نوی یمه ماده:
د هغه میړه پرخلاف چې په افغانستان کې د استوګنې او یا اوسیدنې ځای لري، مدعی علیه د ضرر د اسبابو له تحقق نه وروسته خپله میرمن یې پرې اینبی او بهرته تښتیدلی وی د ضرر له امله د دعوی اقامه کول د میرمنی د استوګنځی په محکمه کې صورت نیسی.

سلمه ماده:
د هغه چا پر خلاف د دعوی د اقامه کولو له پاره واکمنه محکمه چې بیله قانونی مجوز څخه افغانستان

مادۀ نودوهفتم:
رسیدګی دعوی تفریق به سبب غیاب یا مفقودی زوج از صلاحیت محکمۀ محل سکونت مدعی می‌باشد.

مادۀ نودوهشتم:
رسیدګی دعوی تفریق به سبب حبس علیه زوج محبوس مطابق احکام قانون از صلاحیت محکمۀ محل حبس زوج می‌باشد.

مادۀ نودونهم:
اقامه دعوی به سبب ضرر علیه زوجیکه در افغانستان محل سکونت و یا اقامت داشته مدعی علیه بعد از تحقق اسباب ضرر، زوجۀ خود را ترک و بخارج فرار نموده باشد در محکمۀ محل سکونت زوجه صورت می‌گیرد.

مادۀ صدم:
محکمۀ باصلاحیت برای اقامۀ دعوی علیه شخصی‌که بدون مجوز قانونی افغانستان راترک نموده

یی پری ایښی وی په لاندنیو حالتونو کې د مدعی د استوګنځی محکمه ده:
۱- د میرمنی، اصول او فروع د نفقې دعوی.
۲- د نسب د ثابتولو دعوی.
۳- د ولایت د سلبولو دعوی.
۴- د وصایت او قیمومیت د سلبولو دعوی.

باشد درحالات آتی محکمهٔ محل سکونت مدعی می‌باشد:
۱- دعوی نفقه زوجه، اصول و فروع.
۲- دعوی ثبوت نسب.
۳- دعوی سلب ولایت.
۴- دعوی سلب وصایت و قیمومیت.

شپږم فصل
د کورنۍ په قضیو پوری اجراآت

یو سلو یوومه ماده:
لاندنی موضوعات د کورنۍ په قضیو کې شامل دی:
۱- واده اوله هغه څخه راپیداشوی حقوق.
۲- د زوجیت له معاشرت څخه راپیدا شوی حقوق.
۳-د زوجیت له اړیکی څخه راپیدا شوی مالی شخړی.
۴-په نسب پوری مربوطی دعوی.
۵-د ماشوم په حضانت او نفقې پوری مربوطی مسئلی.
۶- د واده ړنګیدل په هر علت چې وی.

فصل ششم
اجراآت مربوط به قضایای خانواده

مادهٔ یکصدویکم:
موضوعات ذیل شامل قضایای خانواده است:
۱- ازدواج وحوق ناشی ازآن.
۲- حقوق ناشی از معاشرت زوجیت.
۳- منازعات مالی ناشی از رابطهٔ زوجیت.
۴- دعوی مربوط به نسب.
۵- مسایل مربوط به حضانت ونفقهٔ طفل.
۶- انحلال ازدواج به هر علتیکه باشد.

۷- په غایب او ورک میړه پوری مربوطی مسئلی.
۸- نور هغه موضوعات چې د قانون د حکمونو سره سم د کورنی قضیو څخه وګڼل شی.

یو سلو دوهمه ماده:
(۱)محکمی ته د محول کیدو په صورت کې دکوژدی له دعوی څخه انصراف په قضائی قرار کې څېړل کیږی.
(۲) د کوژدی له دعوی څخه د انصراف په هکله د محکمی قرار وروستی دی د پورتنی محکمی د څېړلو وړنه دی.

یو سلو درېیمه ماده:
دسوغاتونو مستردول دقانون دحکمونو سره سم یوازی له نامزدځخه غوښتل کېدای شی.

یو سلو څلورمه ماده:
(۱) محکمه دنکاح ددعوی ددوران ورکولو نه دمخه دعقد پر شهرت باندی خپل ډاډتر لاسه کوی.
(۲) دنکاح دعقد دشهرت په باب دعقد په غونډه کې حاضر شویو کسانو څخه معلومات صورت نیسی.

۷- مسایل مربوط به زوج غایب و مفقود.
۸- سایر موضوعاتیکه مطابق احکام قانون از قضایای خانوادگی تشخیص گردد.

مادۀ یکصدو دوم:
(۱)انصراف از دعوی نامزدی درصورت احاله به محکمه به داخل قرار قضائی رسیدگی می‌گردد.
(۲) قرار محکمه درمورد انصراف ازدعوی نامزدی قطعی بوده قابل رسیدگی محکمۀ فوقانی نمی باشد.

مادۀ یکصدو سوم:
استردادهدایا مطابق به احکام قانون صرف ازنامزدمطالبه شده می‌تواند.

مادۀ یکصدو چهارم:
(۱)محکمه قبل ازدوران دعوی نکاح اطمینان خودرا به شهرت عقد حاصل می‌نماید.
(۲) معلومات درموردشهرت عقدنکاح ازحاضرین محفل عقد صورت می‌گیرد.

یوسلو پنځمه ماده:
دنکاح ددعوی ددوران یاددعوی دردکېدوپه هکله دمعلوماتودلاس ته راوړلونه وروسته دمحکمی اجراآت اوځېرنی په قضائی قرار کې عملی کیږی او داقرار وروستی دی.

یوسلو شپږمه ماده:
(۱) که د نکاح د دعوی د څېړلو په وخت کې د مدعی علیه د استوګنځی په باب توپیر منځته راشی، محکمه د مدعی علیها د استوګنځی د ټاکلو په باب د دواړو خواوو د ښیګڼو د په نظر کې نیولو سره تجویزنیسی.
(۲)دمحکمی په تجویزکی دښځی داستوګنځی د ټاکلو په هکله دپلار، نیکه، ورور او په ترتیب سره دښځی دشرعی محارمو استوګنځی اودخیریه مؤسسو موقعیت شامل دی.
(۳)محکمه کولای شی ددواړوخواوو دښیګڼوپه مطالعه کولوسره یو دنومورِیو ځایونوپه ټاکلوسره تصمیم نیسی.

مادۀ یکصدو پنجم:
اجراآت و رسیدگی محکمه بعد ازاخذ معلومات مبنی بر دوران دعوی نکاح یا ردعوی بداخل قرار قضائی بعمل می آید و این قرار قطعی است.

مادۀ یکصدو ششم:
(۱) هرگاه حین رسیدگی دعوی نکاح درمورد محل بود وباش مدعی علیه اختلافی رونماگردد ،محکمه راجع به تعیین محل اقامت مدعی علیها با نظر داشت مصالح طرفین تجویز اتخاذ می‌نماید.
(۲) درتجویزمحکمه راجع به تعیین محل اقامت زن محل اقامت پدر، پدرکلان، برادر و بالترتیب محارم شرعی زن وموقعیت مؤسسات خیریه شامل می‌باشد.
(۳) محکمه می‌تواند با مطالعۀ مصالح طرفین در تعیین یکی از محلات متذکره تصمیم اتخاذ نماید.

یوسلو اوومه ماده:
کـه ښځه ددغـه قـانون دیوسـلو شـپږمی مـادی ددوه یمـی فقـری دمنـدرجو ځـایونو پـه یـوه کـې استوګنه ولـری دمربـوطی دعـوی یـوی خـوا تـه کـول دعاجل اجندا تابع ده.

یوسلو اتمه ماده:
دعقدپـه وخـت کـې دواده داهلیـت دنه بشپړولو لـه املـه د منکوحی د نکاح پر فسخ باندی ددعـوی اقامـه کـول د اووه لـس کلنـی دسـن لـه بشپړولو نه وروسته جواز نه لری.

یوسلو نهمه ماده:
دواده داهلیـت تثبیـت ددې بـاب لسم فصل دمندرجو حکمونو سره سم صورت نیسی.

یوسلو لسمه ماده:
که دضررله املـه دتفریق په دعـوی کـې ادعاشـوی ضـررمؤجه نـه وی او محکمی سره دمیرمن اومیړه ترمنځ دکړکېچ او اخـتلاف ویـره موجـوده شی محکمه دوه تنه عادل کسان یو دمیـړه دخپلوانوڅخـه اوبـل یـو دمیرمنـی دخپلوانـو څخـه دهغـوی

مادۀ یکصدو هفتم:
هـرګـاه زن دریکـی ازمحـلات مندرج فـقرۀ (۲) مادۀ (۱۰۶) ایـن قـانون اقـامت داشـته بـاشـد حـل و فـصـل دعـوی مـربوط تابـع اجنـدای عاجـل است.

مادۀ یکصدو هشتم:
اقامـۀ دعـوی فسخ نـکاح منـکوحه به علت عـدم تکمیل اهلیـت ازدواج درهنـګام عـقد بعداز تـکمیل سـن(۱۷)سالګی جـواز نـدارد.

مادۀ یکصدو نهم:
تثبیت اهلیت ازدواج طبق احکام مـندرج فـصل دهـم ایـن بـاب صورت می‌ګیرد.

مادۀ یکصدودهم:
هرګـاه دردعـوی تفریـق بـه سـبب ضرر،ضرر مورد ادعا مؤجه نباشد و نـزد محکـمه خـوف شـقاق و اختلاف بین زوجین متصور ګردد محکمـه دو نفـرشـخص عـادل را یکـی از اقـارب زوج ودیګـری ازاقـارب زوجـه جهـت اصـلاح

داصلاح کولوله پاره دحکم په توګه ټاکی.

یوسلو یوو لسمه ماده:
دضررله امله د تفریق په دعوی کې حکم له دوه ځلی څخه زیات نه شی ټاکل کېدای.

یوسلو دوولسمه ماده:
محکمه د حکمونو په واسطه د راټول شویو دلیلونو پر بنسټ خپل حکم په مؤجه ډول صادروی.

یوسلو دیارلسمه ماده:
دضرر له امله د تفریق په دعواووکی دلوړی توجیه کول صورت نه نیسی.

یوسلو څوارلسمه ماده:
که دمیړه عیب دیو کال په بهیر کې لیری نه شی محکمه دمدنی قانون دیوسلو نهه اویایمی مادی دحکم دپه نظر کې نیولو سره دمیړه او میرمنی تر منځ په تفریق حکم کوی.

یوسلو پنځلسمه ماده:
دغیابت له امله دتفریق په دعوی کې په هغه صورت کې چې میړه معلوم او ټاکلی استوګنځی ولری محکمه دا موضوع په لیکلی ډول آنها بحیث حکم تعیین می‌نماید.

مادهٔ یکصدویازدهم:
در دعوی تفریق به سبب ضرر، حکم بیش ازدومرتبه تعیین شده نمی‌تواند.

مادهٔ یکصدو دوازدهم:
محکمه با استناد دلایل فراهم شده توسط حکمین حکم خود را مؤجه صادر می‌نماید.

مادهٔ یکصدو وسیزدهم:
توجیه سوګنددردعاوی تفریق به سبب ضرر صورت نمی‌گیرد.

مادهٔ یکصدو چهاردهم:
هرگاه عیب زوج درخلال مدت یکسال مرفوع نگردد محکمه با نظر داشت حکم مادهٔ (۱۷۹) قانون مدنی به تفریق بین زوجین حکم می‌نماید.

مادهٔ یکصدو پانزدهم:
در دعوی تفریق به سبب غیابت درصورتی‌که زوج مسکن معلوم ومعین داشته باشد محکمه موضوع را به زوج

غایب میړه ته اعلاموی. دمیرمنی استوګنځی ته دراستنیدو او یا خپل استوګنځی ته دهغی دراغوښتلو په خاطر میړه ته موده ټاکی.

یوسلو شپاړسمه ماده:
په هغه صورت کې چې غایب میړه دمحکمی داعلام دوررسیدو اودټاکلی مودی دتېریدو سره سره خپل غیابت ته دوام ورکړی محکمه غایب له پاره دوکیل په ټاکلو سره موضوع څېړی.

یوسلو اووه لسمه ماده:
که غایب میړه معلوم او ټاکلی استوګنځی ونه لری او یا غایبه میړه ته د لیکلی اعلام دور رسیدو امکان نه وی موضوع د حاضریدو د مودی په ټاکلو سره د راډیو له لاری خپریږی د دغه منظور له پاره موده د اعلان د نېټې نه له یوی میاشتې څخه کمه نه شی اوسیدای.

یوسلو اتلسمه ماده:
په هغه صورت کې چې غایب میړه د راډیودخبرتیا سره سره دقانونی عذر له وړاندی کولو نه پرته په غایب کتباً اعلام نموده مدتی راجهت عودت به مسکن زوجه و یا خواستن وی به اقامت ګاه خودش برای زوج تعیین نماید.

مادۀ یکصدو شانزدهم:
در صورتی‌که زوج غایب با وجود وصول اعلام محکمه وانقضای مدت معینه به غیابت خود ادامه دهد محکمه با تعیین وکیل برای غائب به موضوع رسیدگی می‌نماید.

مادۀ یکصدو هفدهم:
هرگاه زوج غائب مسکن معلوم ومعین نداشته و یا اصول اعلام تحریری به زوج غایب ممکن نباشد موضوع به تعیین مدت احضار ذریعۀ رادیو اعلان می‌گردد. مدت به این منظور از تاریخ اعلان کمتر از یکماه بوده نمی‌تواند.

مادۀ یکصدو هجدهم:
در صورتی‌که زوج غایب با وجود اعلان رادیو بدون ارایۀ عذر قانونی درمدت معین

ټاکلی موده کې حاضرنه شی محکمه دمسخر وکیل دټاکلو نه وروسته موضوع څېړی او دمیړه اومیرمنی تر منځ په تفریق حکم کوی.

یوسلو نولسمه ماده:
دهغه ورک میړه پر خلاف دواده درنګیدودعوی چې ژوند او مړینه یی معلومه نه وی دمدنی قانون ددری سوه شپږ ویشتمی مادی دحکم دپه نظرکی نیولو سره دځلورو کالو دمودی له تېرېدو نه دمخه جواز نه لری.

یوسلو شلمه ماده:
دحکم دټاکلواو په هغه پوری دمربوطو مسئلو په هکله او دعیب، ضرر، نفقه نه ورکولو اودمیړه دنشتوالی له امله دتفریق ددعواوو په ردولوکی دمدنی قانون حکمونه هم په پام کې نیسی.

اووم فصل
د عامه حقوقو د قضیو څېړل

یوسلو یو ویشتمه ماده:
دعامه حقوقو،په دعواووپوری مربوطی عریضی په مستقیمه توګه حاضر نگردد محکمه بعد از تعیین وکیل مسخر در موضوع رسیدگی و به تفریق بین زوجین حکم می‌نماید.

مادۀ یکصدونوزدهم:
دعوی انحلال ازدواج علیه زوج مفقود که حیات وممات آن معلوم نباشد بانظر داشت حکم مادۀ (۳۲۶) قانون مدنی قبل از انقضای مدت چهار سال جواز ندارد.

مادۀ یکصدو بیستم:
درتعیین حکم ومسایل مربوط به آن و رد دعاوی تفریق به سبب عیب،ضرر و عدم انفاق وغیابت زوج محکمه احکام قانون مدنی را نیز رعایت می‌نماید.

فصل هفتم
رسیدگی به قضایای حقوق عامه

مادۀ یکصدو بیست ویکم:
عرایض مربوط به دعاوی حقوق عامه مستقیماً به

دکابل ښاری محکمی، دولایتونو یا لویی ولسوالۍ محکمو ته وړاندی کیږی او په موضوع کې په لاندی ډول اجراآت کیږی:
۱-ددولت دقضایاوو اداری ته دعریضی دمحتویاتو لیکلی ابلاغ.
۲- دقضیی دسوابقوراغوښتل ددولت دقضایاوو داستازی او دحکمی شخصیتونو دقانونی ممثل دنېټی په ټاکلوسره حاضریدل.
۳-په لومړنی غونډه کې دقضیی ددواړوخواوو دځرګندونو اودفاع اوریدل.

یوسلو دوه ویشتمه ماده:
که دځرګندونواودفاع له اوریدو نه وروسته محکمه د دواړه خواوو د دلایلو د ارزیابی په نتیجه کې پوه شی چې د شخړی هوارول د ځېړلو غوښتونکی ده خپل قرار د دعوی د دوران په هکله صادروی.

یوسلو در ویشتمه ماده:
په هغه صورت کې چې محکمه په لومړنی غونډه کې ودی نتیجی ته ورسیږی چې شخړه اصلاً دمحکمی دځېړلو غوښتونکی نه ده خپل قرار محکمۀ شهری کابل محاکم ولایات یا لوی ولسوالی تقدیم در موضوع به ترتیب ذیل اجراآت می‌گردد:
۱- ابلاغ کتبی محتویات عریضه به ادارۀ قضایای دولت.
۲- مطالبۀ سوابق قضیه،حضور نمایندۀ قضایای دولت و ممثل قانونی شخصیت های حکمی باتعیین تاریخ.
۳-استماع اظهارات ودفاع طرفین قضیه درجلسۀ مقدماتی.

مادۀ یکصدو بیست ودوم:
هرگاه بعدازاستماع اظهارات ودفاع،محکمه درنتیجۀ ارزیابی دلایل طرفین دریابد که حل منازعه ایجاب رسیدگی رامی‌کند قرار خود رامبنی بر دوران دعوی صادر می‌نماید.

مادۀ یکصدو بیست وسوم:
درصورتی‌که محکمه درجلسۀ مقدماتی به این نتیجه برسد که نزاع اصلاً ایجاب رسیدگی محکمه رانمی نماید

ددعـــوی دنـــه دوران پـــه هکلـــه صادروی.

یوسلو څلیر ویشتمه ماده:
ددغه قانون په یوسلودوه ویشتمه ماده کې لیکل شوی قرار قطعی نه دی دقضیی دیوی خوادشکایت یاددولـــت دقـــضایاوواستازی داعتراض له امله دستری محکمی پـه اړونـد دیـوان کـې دبیـاځېرلو ورډه.

یوسلو پنځه ویشتمه ماده:
که په هغه قضیه کې چې ددولت دقـــضایاوو اداری تـــه رســـیږی دمقابلی خوا قناعت دمحکمی له ځېرلـو نـه پرتـه تـر لاسـه نـه شـی ددولـــت دقـــضایاوو اداره دا قـضیه اړونـدی محکمـی تـه د هوارولو له پاره استوی.

یوسلو شپږ ویشتمه ماده:
دهغوموضـوعاتو پـه هکلـه چـې ددولت دقضایاوو د اداری له خوا محکمـی تـه اسـتول کیـږی. ددې قـــانون د(۱۲۲او۱۲۳)مـــادو دمندرجو حکمونو په پام کې نیول هرو مرو دی.

قـــرارخـــودرامبنی برعـــدم دوران دعوی صادرمی‌کند.

مادۀ یکصدو بیست وچهارم:
قرارقضائی مندرج مادۀ (۱۲۲)این قـــانون قطـــعی نبـــوده بـــه اثـر شکایت طرف قضیه یـا اعتـراض نماینـــــدۀ قـــضـایای دولـت قابل رســـــــیدگی مـــجدد در دیـوان مـربـــوط سـتره محکمـه می‌باشد.

مادۀ یکصدوبیست وپنجم:
هرگـاه در قـضیه ای کـه بـه ادارۀ قضایای دولت مواصلت مینماید قناعت طرف مقابل بدون رسیدگی محکمـه حاصـل نـه شـود ادارۀ قضایای دولت قضیه راغرض حل وفصل بـه محکمـه مربـوط ارجـاع می‌نماید.

مادۀ یکصدوبیست وششم:
درموردموضـــوعاتی‌کـه ازطـــرف ادارۀ قـــضـــایای دولـــت بـــه محکمه ارجـاع می‌شود رعـایـت احـــکام مـــندرج مـواد(۱۲۲ و۱۲۳) ایـــن قـانـــون حتـــمی اســت.

یوسلو اووه ویشتمه ماده:
مـحکمه دعـامه حقـوقو پـه دعـوی کې داثباتیه مـدارکو لکه دسندونواو شاهدانو پراساس خپل حکم صادروی.

مادهٔ یکصدو بیست وهفتم:
محکـمه در دعـوی حقـوق عـامه بـه اساس مـدارک اثـباتیـه چـون اسـناد و شـهود حکم خودرا صادر می‌نماید.

اتم فصل
خبرتیا،جلب،احضار

یوسلو اته ویشتمه ماده:
محکمـه ددعـوی ارخ پـه مـستقیمه توګه خبر وی اویا دارونـدو مراجعـو په واسطه جلبوی.

یوسلو نهه ویشتمه ماده:
محکمـه کولای شی داهل خبری او درییم ګړی شخص چې څرګندونی یی د قضیی په روښانه کیدو باندی اغیـزمن وی دحاضـرید و غوښـتنه وکړی.

یوسلو دېرشمه ماده:
کـه ددواړو خـواوو څخـه یـو یـی محکمی تـه پـه تـاکلی ورځ حاضرنه شی دمحکمی له خوا جلبیږی.

یوسلو یو دېرشمه ماده:
دجلـب فورمـه پـه یواصـل اودوه کاپیوکی جوړیږی اولاندنی مراتب

فصل هشتم
اطلاع،جلب،احضار

مادهٔ یکصدو بیست وهشتم:
محکمـه طـرف دعـوی رامـستقیماً اطلاع و یـاذریعهٔ مراجع مربـوط جلب می‌نماید.

مادهٔ یکصدو بیست ونهم:
محکمه می‌تواند حضوراهل خبره و شـخص ثـالثی راکـه توضـیحات او بـــرای روشـــن شـــدن قـضیه مـؤثر بـاشد تـقاضا نمـاید.

مادهٔ یکصدو سی ام:
هرګاه یکی ازطرفین به روز معین بـه محکمـه حاضـر نګـردد ازطـرف محکمه جلب می‌شود.

مادهٔ یکصدو سی ویکم.
فـورمـه جلـب دریـک اصـل و دوکاپی ترتیب وحاوی مراتب ذیل

به پکی وی:
۱-دمحکمی نوم او پته.
۲-ددعـــــوی دارخ شـــــهرت او پته.
۳-دحاضریدو نېټه او وخت یی.
۴-دموضوع معرفی.
۵- مجلوب ته د موضوع د مربوطو سندونو د برابرولو او وړاندی کولو په باب یادونی.
۶- د نـه حاضـــــریدو لـه عواقبـو څخه اخطار.

یوسلو دوه دپرشمه ماده:
محکمـه کـولای شـی د تیلفـون او تیلګراف په شمول د هری ممکنی وسـیلی لـه لاری د دعـوی د دواړو خـواوو، شـاهدانو او اهـل خبـری د حاضریدو غوښتنه وکړی.

یوسلو دری دپرشمه ماده:
د محکمی د جلب فورمه، د رسمی مکتـوب پـه واسـطه د جلـب او احضار څانګی ته صادریږی.

یوسلو څلور دپرشمه ماده:
د جلب او احضار څانګه مکلفه ده د جلب فورمـه اړونـد سړی او یـا د هغـه قـانونی ممثـل تـه ورسـوی پـه دوهـم کـاپی کـې یـی د هغـه

است:
۱- اسم وآدرس محکمه.
۲- شـهرت وآدرس دقیـق طـرف دعوی.
۳- تاریخ و وقت حضور.
۴- معرفی موضوع.
۵- تذکرات بـه مجـلوب درقسمت تـهیه وارایـۀ اسـناد مربـوط بـه موضوع.
۶- اخطـــــار از عـــــواقب عـدم حضور.

مادۀ یکصدوسی ودوم:
مـــحکمه می‌تواند بهـر وسـیلۀ ممـکن بشمول تیلـفون و تلګراف حـضـــور طـــرفیـــن دعـــوی، شـــهود و اهـــل خـــبره را تقـــاضـــا نماید.

مادۀ یکصدو سی وسوم:
فـــورمه جلـــب محکمـه، توسـط مکتـوب رسـمی بـه شـعبۀ جلـب واحضار صادر می‌گردد.

مادۀ یکصدوسی وچهارم:
شعبۀ جلب واحضار مکلف است فورمـه جلب رابـه شخص مربـوط و یـا ممثـل قـانونی وی رسـانیده استحضاری وامضاء اورا در کاپی

استحضاری او لاسلیک واخلی او محکمی ته دی واستوی.

یوسلو پنځه دېرشمه ماده:
که مجلوب سوادو نه لری د ګوتی نښه یی په فنی او خوانا ډول دی پر پاڼه ولګول شی.

یوسلو شپږ دېرشمه ماده:
که مجلوب له لاسلیک یا د ګوتی له لګولو څخه ډډه وکړی کیفیت یی په فورمه کې لیکل کیږی او یو د لاندی کسانو لاسلیک پکی نیول کیږی:
۱- د استوګنځی د شوري د مسئول یا د دوو تنو ګاونډیو یا د هماغه ځای د اوسیدونکو لاسلیک.
۲- د جلب د اداری د آمر لاس لیک او په هغه صورت کې چې ډډه کوونکی د دولت د اداری یا مؤسسو کارکوونکی وی د اړوندی اداری د آمر تصدیق.

یوسلو اووه دېرشمه ماده:
د جلب او احضار مراجع د یوسلو شپږ دېرشمی مادی د مندرجو مراتبو د پای ته رسولو د په پام کې نیولو سره فورمه د رسمی مکتوب دوم اخذ و به محکمه بفرستد.

مادۀ یکصدوسی وپنجم:
هرگاه مجلوب سواد نداشته باشد نشان انگشت او به صورت فنی و خوانا به ورق گذاشته شود.

مادۀ یکصدوسی وششم:
در صورتی‌که مجلوب از امضاء یا گذاشتن شصت اباً ورزد کیفیت در فورمه درج وامضاء یکی از اشخاص آتی با آن گرفته می‌شود:
۱- امضاء مسئول شورای محل اقامت یا دو نفر همجوار یا ساکنین محل.
۲- امضاء آمراداره‌ٔ جلب و در صورتی‌که استنکاف کننده کارکن اداره‌ٔ دولت یا مؤسسات باشد تصدیق آمر اداره‌ٔ مربوط.

مادۀ یکصدوسی وهفتم:
مراجع جلب واحضار با رعایت انجام مراتب مندرج مادۀ (۱۳۶) فورمه را توسط مکتوب رسمی به

په واسطه محکمی ته اعادۀ کوی.

یوسلو اته دېرشمه ماده:
که مجلوب د دولتی ادارو، مؤسسو یا تصدیو کارکوونکی وی د جلب فورمه د هغه اړوندی اداری ته هم استول کېدای شی.

یوسلو نهه دېرشمه ماده:
که د معاذیرو له امله د مجلوب مینډل په مؤقتی ډول وځنډېږی اړوند مراجع مکلف دی مطالب یی په رسمی ډول د محکمی په خبرتیا ورسوی د خنډونو د لیری کېدو نه وروسته د جلب د فورمی د پراوونو په تېرولو لاس پوری کړی.

یوسلو څلوېنبتمه ماده:
که مجلوب تبنتیدلی، غایب یا ورک وی تحقیقاتی سندونه یی بشپړېږی او کېفیت یی د جلب په فورمه کې لیکل کیږی او محکمی ته استول کیږی.

یوسلو یو څلوېنبتمه ماده:
په هغه صورت کې چې مجلوب د وسله وال پوځ په خدمت کې شامل وی د جلب فورمه هغه ته د اړوندی قطعی له لاری اورول کیږی.

محکمه اعادۀ می‌نماید.

مادۀ یکصدوسی وهشتم:
هرگاه مجلوب کارکن ادارات دولتی، مؤسسات یا تصدیها باشد فورمۀ جلب به ادارۀ مربوط وی نیز فرستاده شده می‌تواند.

مادۀ یکصدوسی ونهم:
درصورتی‌که نسبت معاذیر دریافت مجلوب موقتاً به تعویق افتد مراجع مربوط مکلف است مطالب را رسماً به اطلاع محکمه رسانیده بعد از رفع موانع در طی مراحل فورمه جلب، اقدام نماید.

مادۀ یکصدو چهلم:
هرگاه مجلوب فرار، غایب یا مفقود باشد اسناد تحقیقاتی آن تکمیل و کیفیت به فورمه جلب درج و به محکمه ارسال می‌گردد.

مادۀ یکصدو چهل ویکم:
در هر مورد که مالی اعم از منقول و غیر منقول تحت مراقبت گرفته می شود و احتمالی موجود باشد که ادامهٔ عمل مراقبت موجب اتلاف مال و یا تنزیل قیمت خواهد شد، هر یک از طرفین حق مطالبهٔ فروش مال را دارد. ولی هرگاه طرف مقابل موافق به فروش نبوده و ضرری را که ممکن است از عدم فروش مال عاید گردد متحمل شود مطابق نظریه او عمل خواهد شد. در صورت فروش مامور مربوطهٔ محکمه، نظارت داشته و قیمت مال فروش شده به خزانه محکمه و یا یک بانک معتبر امانت گذاشته می‌شود.

طرف مقابل نیز حق نظارت را در عمل فروش دارد.

دری اویایمه ماده:
کله چه زیرمه وال یا دده ضامن د زیرمی ورکولو د حکم د اجرا په وخت کښې پر دی مال د خپل مال په نامه تیرکړی او څار لاندی ددغه مال د نیولو په باب اجراآت هم وشی نو د زیرمی غوښتنوال د مال څښتن ته د اوښتنی تاوان په ورکولو پرې نه دی او د مال څښتن به د اوښتی تاوان دپاره فقط هغه سړی ته مخ اړوی چه دده مال یې د خپل مال په نامه تیر کړی دی.

ثلور اویایمه ماده:
که چېرې هغه مالونه یا نقدی پیسی چه د څارلاندی نیول کیږی. له درېیمګړی سړی سره وی، یا دځارنې موضوع یوه داسی غوښتنه وی چه د زیرمه وا ل ئې له یو درېیمګړی څخه لری نو د څارنې په باب د حکم اطلاع به دمحکمی له پلوه دغه شخص ته ورکوله کیږی او هغه ته د محکمی له خوا ددغه حکم درسیدو یورسید لیک به هم تری اخیستل کیږی او دا تولې خبرې به د زیرمی ورکوونکی ته رسول کیږی.

مادۀ (۷۳):
هرگاه تأمین دهنده و یا ضامن او جهت اجرای حکم تأمینات مال متعلق به غیر را مال خود معرفی کند و نسبت به تحت مراقبت گرفتن آن مال اجراآت بعمل آید مطالبه کنندۀ تأمینات مسئول خسارات وارده بر صاحب مال نخواهد بود و صاحب مال از رهگذر خساره تنها به شخصی‌که مال او را بحیث مال خود معرفی کرده حق رجوع خواهد داشت.

مادۀ (۷۴):
هرگاه اموال و یا وجوهی که تحت مراقبت گرفته می شود نزد شخص ثالث باشد و یا موضوع مراقبت طلبی باشد که تأمین دهنده بر شخص ثالث دارد حکم محکمه راجع به تحت مراقبت گرفتن به شخص مذکور ابلاغ و از اصول حکم محکمه از نامبرده رسید اخذ می شود و مراتب فوراً به تأمین دهنده ابلاغ می گردد.

پنځه اویایمه ماده:
که چېرې دغه د پیمګړې شخص د ټول مال یا د مال له یوې برخې یا طلب نه منکروی نو په کار دی چه ددغه موضوع خبر هغه محکمې ته چه د څارنې حکم ئې راویستلی وی د څارنې د حکم له ابلاغه پس په دوو ورځو کښې د ننه و رسول شی او که داسی ئې و نه کړل نو دی به د مال یا طلب دورکړې ذمه واروی.

مادهٔ (۷۵):
هرگاه شخص ثالث منکر وجود تمام یا قسمتی از مال یا طلب باشد باید در ظرف دو روز از تاریخ ابلاغ حکم مراقبت مراتب را به محکمه ای که حکم را صادر کرده اطلاع دهد و الا مسئول پرداخت طلب یا تسلیم مال خواهد شد.

شپږ اویایمه ماده:
که چېرې د زیرمې غوښتنوال دا ثابته کړې چه د څارنې لاندې د نیولو په باب د محکمې د حکم د صادریدو په وخت کښې ئې له درپیمګړې سره مال یا طلب موجود وو او هغه په دروغه منکر شوی دی او یا داچه دغه درپیمګړې سړی د مال یا طلب له ورکړې نه چه ورسره دی ډډه وکړې نو د مربوطه محکمې په حکم به عین دغه مال او یا دهغه سره برابر مال دده له ماله څخه اخیستل کیږی. که چېرې داسی وی چه مال ئې په لاس نه راځی تر څو چه ئې مقابل لوری ته اوښتی تاوان پوره کړې نه وی د محکمې په حکم به

مادهٔ (۷۶):
هرگاه درخواست کننده تأمینات ثابت نماید که در حین ابلاغ حکم محکمه راجع به تحت مراقبت گرفتن طلب یا مال نزد شخص ثالث وجود داشته و خلاف حقیقت منکر شده است و یا اینکه شخص ثالث از تسلیم مال و یا طلب که در نزد اوست امتناع نماید به حکم محکمهٔ مربوطه عین و یا معادل مال مطلوبه از اموال شخص او گرفته خواهد شد در صورتی‌که دسترس به اموال نباشد تا زمانیکه حقوق ضایع شده طرف را جبران ننماید به حکم محکمه مربوط تجارتی

بندی وی.

اووه اویایمه ماده:
د زیرمی غوښتنوال د هغه مال نه چه د څارنی لاندی نیول شوی دی دخپل پور په باب د فایدی اخیستلو په کار کښې تر نورو غوښتنوالو باندی د مخکښې والی حق لری.

تـوقیـف خواهـد شد.

مادۀ (۷۷):
در خـواست کننـده تأمینـات در اسـتفـادۀ طلـب خـویش از مالیکه تحت مـراقبت گـرفـته مـی شـود بـر سایـر طلبـگـاران حـق تقـدیم را دارند.

نهم فصل
خبرول او راوستل

اته اویایمه ماده:
هغه مدعی یا مدعی علیه چه د محکمی په قضائی ونډ کښې هستوګنه نه لری په دی مکلف دی چه ددغی محکمی په قضائی ونډ کښې د ننه ځای وټاکی چه د خبرولو او راوستلو چاره ئی آسانه شی.

نه اویایمه ماده:
هغه څوک چه په محکمه کښې د دعوی د وړاندی کولو دځان دژغورو لو اهلیت نه لری د محکمی له پلوه خبر دهغوی قانونی ښکارندویا نو (ممثلینو) ته ورکول کیږی.

فصل نهم
ابلاغ و احضار

مادۀ (۷۸):
مدعی یا مدعی علیه که در حوزۀ قضائی محکمه مقیم نباشد مکلف است در حوزۀ قضائی مذکور اقامتگاه برای خود تعیین نماید تا عمل احضار و ابلاغ بسهولت ممکن شود.

مادۀ (۷۹):
ابلاغ محکمه در مورد کسانیکه اهلیت اقامه و مدافعۀ دعوی را ندارند به ممثلین قانونی آنها بعمل می آید.

اتیایمه ماده:
حقوقـــی اشخـاصـــو تـه خـــبر د هغـــوی د ښـــکارنـــدویـانـــو پـه نامه ورکول په کاردی.

مادهٔ (۸۰):
ابلاغی‌که به اشخاص حقوقی کرده مـی‌شـود بایـد بـه عنـوان ممثلـین قانونی آنها بعمل آید.

یو اتیایمه ماده:
د یوی تجارتخانی د معاملا تو نه د راپـور تـه شـوی دعـوې پـه بـاب خبر هغـه چا تـه ورکـول کیږی چـه ددغـــی تجارتخـــانی چـــاری اداره کوی.

مادهٔ (۸۱):
ابـلاغ متعلـق بـه یـک دعـوی ایکـه ناشی از معاملات یک تجارت خانه باشـد بـه شخصی‌کـه امـور تجـارت خـــــانه را اداره مـــی نمایـدکرده می‌شود.

دوه اتیایمه ماده:
په هغـو دعـوو کښی چه وکیـل ئی وړاندی کوی، خبر وکیل تـه ورکـول کیږی.

مادهٔ (۸۲):
در دعـاوی‌کـه ذریعـهٔ وکیـل اقامـه مـی‌گـردد ابـلاغ بـــــه وکیـل کـرده می شود.

دری اتیایمه ماده:
که چېری هغه څوک چه خبر ورکـول کیږی د خبـر د پـانې اخیـستلو نـه ډډه وکړی نو د محکمی خـبروال بـه د کوڅی د دوو کسانو په مخکښې یوځل بیـا دغـه پانه ده تـه ښیئی او کـه هغـه بیـا هـم وانـه خیـسته نـو داپېـښه بـه د خبـر پـه پانـه کـښې لیکل کیږی او بیـا پانه د دغـو دوو کـسانو او خـبروال د لاس لیـک نـه وروسته دمحکمی دفتـر تـه سپارله کیږی او دغه سړی به چه خبر ورتـه

مادهٔ (۸۳):
در صـورت امتنـــاع مبلـغ الیـه از تـــسلـیمی ورقـــهٔ ابـــلاغ ورق مـذکور بـار دیگـر از طـرف خبـر رسان محکمـه در حـضـور دو نفـر از اهـل گذر بـه مبلـغ الـــیه ارائـــه مـــی گـردد. و در حـال امتـــناع مجدد موضوع در ورق ابـلاغ درج و بعـد از امـضاء دو نفـر مـذکور و خبـر رسـان محکمه ورق مذکور بـه دفتـر محکمـه سپرده شـده و درین صـــورت مبلغ عـلیه بـه اسـاس امر

شـوی دی د محکمـی پـه امـر د پولیس په لاس راغوښتل کیږی.

څلور اتیایمه ماده:
په یو پردی هېواد کښې د خبرولو کار د افغانستان د خارجه چارو د وزارت لـه خـوا د همدغـه هېواد د واکمنو مقاماتو په وسیله کیږی.

پنځه اتیایمه ماده:
د چا چه هستو ګنځی یا دیره ځای معلوم نه وی هغوی ته خبر د اعلان په تو ګه کیږی.

شپږ اتیایمه ماده:
هغـه خبر چه د اعلان به شکل د محکمې په فیصله د موجبه اسبابو د یادونی سره صادریږی اجرأیې دالاندی شرطونه لری:
الف: هغـه پـانی چـه اعلانیـږی داعلان د نښتې تر پایه پورې به د محکمی په دیوال ځوړندې وی.
ب: د خبر پاڼه باید چه د قضائی ونډ د کرښې په دننه رسمی جریده کښې اعلان شی.
څو پورې چه داسی رسمی جریده تأسیس کیږی د خبر پاڼه بـه د محکمی د قضائی ونډ دننه په یوه محکمه از طرف قوهٔ پولیس محلی جلب و احضار می‌گردد.

مادهٔ (۸۴):
عمل ابلاغ در یک مملکت اجنبی بـه سلسله وزارت امـور خارجـه افغانـستان ذریعـهٔ مقامـات صـلاحیتدار از همـان مملکـت صورت می گیرد.

مادهٔ (۸۵):
ابـلاغ بـه کـسانیکه اقامتگـاه یـا مـسکن شـان معـین نبـاشد بـه صورت اعلان بعمل می آید.

مادهٔ (۸۶):
ابـلاغ بـصورت اعـلان بـه موجـب قراریکـه از طـرف محکمـهٔ مربـوط با ذکر اسباب مؤجه صادر میگردد تحت شرایط آتی اجرأ می‌شود:
الف: اوراقیکه ابلاغ می‌شود الی ختم میعاد اعلان در دیوار محکمه تعلیق می‌گردد.
ب: ورق ابـلاغ بـاید در جریـدهٔ رسـمی داخـل حـوزه قـضـائی اعلان گردد.
تـا وقتـی‌که چـنین جریـدهٔ تأسیس مـی گـردد ورق ابـلاغ در یکـی از جراید داخل حوزهٔ قضائی محکمه

داسی جریده کښی چه محکمه ئی ټاکی اعلانیږی.

اووه اتیایمه ماده:
په کار دی چه په اعلان کښې ددواړو خواوو نومونه او پوره پته، ددعوی موضوع، د اعلان صادریدو ځای او که په اعلان کښې د حاضریدو حکم هم وی نو د حاضریدو ځای، ورځ او ساعت دی ولیکل شی.

اته اتیایمه ماده:
که چېرې مقابل لوری په راډیو کښې د اعلان د خپریدو لګښت په غاړه واخلی نو د خبرپانه په راډیو کښی اعلانیدی شی خودا اعلان به تش د پوهولو دپاره وی او قانونی اعتبار یواځی هغه اعلان لری چه په شپږ اتیایمه ماده کښې دښودل شوی لاری مطابق شوی وی.

نهه اتیایمه ماده:
د مدعی او مدعی علیه نه پرته چه کوم اشخاص دمحکمی دقضایی ونډ نه بهر په افغانستان کښې اوسی، هغه محکمه چه په دعوی باندې غور کوی د خبر پانه هغوی که از طرف محکمه تعیین گردد اعلان می شود.

مادۀ (۸۷):
در اعلان باید اسم و شهرت مکمله طرفین موضوع دعوی، مرجع صدور اعلان و اگر اعلان متضمن امر احضار باشد موضع، روز و ساعت تحریر شود.

مادۀ (۸۸):
در صورتی‌که طرف مقابل متحمل مصارف اعلان ذریعۀ رادیو گردد ورق ابلاغ ذریعۀ رادیو اعلان شده می تواند ولی این اعلان محض به غرض تفهیم بوده مدار اعتبار قانونی تنها اعلانی می باشد که بطریق مذکور مادۀ (۸۶) صورت گرفته باشد.

مادۀ (۸۹):
اشخاص غیر از مدعی و مدعی علیه که در خارج حوزۀ قضائی محکمه در افغانستان مقیم باشد، محکمه ایکه بدعوی رسیدگی می کند ورق ابلاغ را

ته د هغی محکمی په لاس ددی قانون په حکمونو برابر ورلیږی چه دوی دهغی د قضائی سیمی دننه هستوګنه لری، محکمه واک لری په هغوحالاتو کښې چه لازمه وګڼی دخبر پاڼه دهغه خوا په موافقه او لګښت چه خبر د هغه په ښیګړه وی نومورې خلکوته تیلګرامی ورواستوی.

نوی یمه ماده:

د خبرپانې په ګڼ شمیرپه کار دی، چه یوه ئی په مربوطه دوسیه کښې وساتله شی او نوری ئی هغو کسانوته وسپارلی شی چه خبر ورته ورکول کیږی.

یونوی یمه ماده:

د خبر پاڼه باید چه دا لاندی نکتې ولری:

الف: چاته چه خبر ورکول کیږی د هغه نوم مکمل شهرت او د پوره پته ښودنه.

ب: په څرګند ډول د راغوښتلو د علت ښودنه.

ج: دراغوښتل شوی د راتلو ورځ او ساعت ښودنه.

د: د محکمی نوم او پته ښودنه.

هـ: د رئیس اومنشی لاس لیک

توسط محکمهٔ محل اقامت شان طبق احکام این قانون به آنها می فرستد محکمه صلاحیت دارد ورق ابلاغ را در حالاتیکه لازم داند به مصرف و موافقهٔ طرفی که ابلاغ به نفع او صورت می‌گیرد توسط تلگرام باشخاص مذکور ابلاغ می نماید.

مادهٔ (۹۰):

ورق ابلاغ باید دارای نسخه های متعدد باشد که یکی آن به دوسیه مربوطه حفظ و متباقی آن به کسانی‌که ابلاغ می گردد سپرده شود.

مادهٔ (۹۱):

ورق ابلاغ باید حاوی نکات ذیل باشد:

الف: اسم، شهرت مکمله و آدرس مبلغ الیه.

ب: علت احضار به صورت واضح.

ج: روز و ساعت حضور مجلوب.

د: اسم و آدرس محکمه.

هـ: امضاء رئیس و منشی و

او د محکمی مهر.

دوه نوی یمه ماده:
هغه څوک چه محکمی ته راغونډتل کیږی په کار دی چه پخپله حاضر شی، یا خپل قانونی وکیل ورته راولیږی او که د نه راتلو دپاره کوم په عقل برابر عذر لری نو باید چه د راتلو دپاره ده ته د نبودل شوی ساعت نه څلیریشت ساعته آګاهو دی دخپل دغه عذر اطلاع محکمی ته ورسوی. که چیری محکمه په سر د یو چا راتلل ضروری ګڼی او د وکیل راتلل ئی کافی نه بولی نو په کار دی چه د راغونډتو په پاڼه کښې دغه ټکی څرګند ولیکی چه په دغه صورت دغه په سر راغونډتل شوی شخص پخپله محکمی ته حاضر شی.

مادهٔ (۹۲):
شخصی‌که به محکمه جلب می ګردد باید بالذات حاضر شود و یا وکیل قانونی خود را بفرستد و اګر عذر معقول برای عدم حضور داشته باشد باید آنرا ۲۴ ساعت قبل از تاریخی‌که برای حضورش تعیین ګردیده باطلاع محکمه برساند در صورتی‌که محکمه حضور خود شخص را حتمی دانسته و حضور وکیل او را کافی نشمارد باید موضوع را در ورقهٔ احضار تصریح نماید که در آن صورت باید شخص مکلف بحضور خودش بمحمکه حاضر ګردد.

دری نوی یمه ماده:
که چیری هغه څوک چه په سر راغونډتل شوی دی په داسی ځای کښې هستوګنه لری چه په دعوی باندی دغور کوونکی محکمی د قضائی ونډ نه بهر وی نو محکمه کولی شی چه هغه اظهارات ددی قانون په حکمونو برابرد قضائی نیابت په اساس واخلی.

مادهٔ (۹۳):
هرګاه شخص مکلف بحضور در خارج حوزهٔ قضائی محکمه ایکه بدعوی رسیدګی می کند مقیم باشد محمکه می تواند اظهارات او را به اساس نیابت قضائی طبق احکام این قانون حاصل کند.

لسم فصل
د غونډو سمون

څلورنوی یمه ماده:
محاکمه په تجارتی محکمو کښې په ښکاره کیږی.

پنځه نوی یمه ماده:
د اداری او انضباطی چارو څارنه، دغه شان ددی قانون په ښودلو پولو کښې دننه د غونډو سمون او ترتیب د محکمی درئیس وظیفه ده. دمحکمی رئیس په دوارو خواوو کښې هری یوی ته د بیان او اظهار موقع ورکوی، هغوی د زیاتی پاتی وینا څخه منع کوی او څوک چه د غونډی په سموالی کښې ګډوډی را پیدا کوی هغوی له محکمی څخه وباسی. که چیری څوک په محکمه کښې یو ناوړه کار وکاندی محکمه ورته ددی قانون په حکمونو برابر انضباطی جزاء ورکوی. دغسی انضباطی فیصلی غوټی (قطعی) پریکړی دی چه مرافعه او تمیز پری نه شی غوښتل کیدی.

شپږ نوی یمه ماده:
د دعوی دوارو خواوې یا دهغوی

فصل دهم
تنظیم جلسات

مادهٔ (۹۴):
در محاکم تجارتی محاکمه بصورت علنی اجرأ می شود.

مادهٔ (۹۵):
مراقبت امور اداری و انضباطی و همچنان ترتیب و انتظام جلسات در داخل حدود این قانون از وظیفهٔ رئیس محکمه می باشد رئیس محمکه به هر یک از طرفین فرصت اظهار و بیان را اعطا و آنها را از اظهارات بی مورد منع می‌دارد و اشخاصی را که مخل انتظام محکمه گردند فوراً از محکمه خارج می‌کند. هر گاه شخصی در حضور محکمه مرتکب عمل غیر مناسبی گردد محکمه برای او طبق احکام این قانون جزای انضباطی تعیین می‌کند. اتخاذ این گونه قرارهای انضباطی قطعی بوده مرافعه خواهی و تمیز طلبی ندارد.

مادهٔ (۹۶):
طرفین دعوی و یاوکلای شان

وکیلان پدی مکلف دی چه خپله دعوی یا د دعوی دفع په دوو نسخو کښی محکمی ته وړاندی کړی د محکمی منشی د محکمی د رئیس له امره سره سم هغه د دعوو لیکلو په کتاب ثبتوی که چېری دعوی له یوه په زیاتو کسانو باندی وی نو په کار دی چه زیاتی نسخی د شخص په سر یوه یوه ویشی.

مکلف اند صورت ادعا و دفاع خود را در دو نسخه به محکمه تقدیم نمایند و منشی محکمه حسب الامر رئیس محکمه آنرا به کتاب ضبط دعوی ثبت می نماید در صورتی‌که طرف ادعا بیش از یک نفر باشند باید به تعداد آنها نسخه های اضافی تقدیم شود.

اووه نوی یمه ماده:

د دعوی د بهیر په وخت کښې د محکمی منشی ددغی دعوی په باب ټولی پاڼی لکه د پوهانو نظریه د شاهدانو وینا‌وی او نور د دعوو لیکلو په کتاب کښی ثبتوی.

مادۀ (۹۷):

در حین جریان دعوی منشی محکمه هر گونه اوراق متعلق بهمان دعوی از قبیل نظریۀ اهل خبره، اظهارات شهود، و غیره را به کتاب مربوطۀ ضبط دعوی ثبت می‌کند.

اته نوی یمه ماده:

د دعوی دواړه خو اوی یا د هغوی وکیلان کولی شی چه د رئیس په اجازه د محکمی د منشی د څارنی لاندی د خپلی لاڅې په باب دوسیې او د دعوو د لیکلو کتاب ولولی.

مادۀ (۹۸):

طرفین دعوی و یا وکلای آنها می‌توانند باجازۀ رئیس تحت نظارت منشی محکمه دوسیه ها و کتب ضبط دعوی متعلق به خود را در خود محکمه مطالعه نمایند.

نهه نوی یمه ماده:

د مدعی او مدعی علیه د جوابونو

مادۀ (۹۹):

مدت جواب های مدعی و مدعی

ورکولـــو مـــوده دمحکمـــی لـــه خوابنـودله کیږی خو دغـه مـوده لـه یوی میاشتی نه زیاتیدلی نه شی.

سلمه ماده:
په هغه موده کښې چه د مدعی او مـدعی علیـه د جوابونـو د پـاره د محکمـی لـه خـوا ښودل شـوی ده د دوارې خـواو د دلیلونـو لـه اوریـدلو وسـته د مربوطـه محکمـی لـه پلـوه لږیدی او ډیریدې شی.

یوسلو یومه ماده:
پـه نـه نـو یمـه اوسلمه مـاده کښی یـاده شـوی مـوده هغـه چاتـه لـه ابلاغیه وروسته چه مهلت ورکړی شوی دی شروع کیږی.

یوسلو دوه یمه ماده:
کـه چیـری دهغـه سړی هسـتوګنځی چـه ورتـه مهلـت ورکړشـوی دی د محکمی دقضائی ونډ نـه بهـر وی، نـو پـه هـرو دولسو میلـو پسی یـوه ورځ د زیـات مزلـه مهلـت ورکـول کیږی.

یوسلو درېیمه ماده:
دهغـــه مـــدعی او مـــدعی علیـــه دجـواب مـوده چـه پـه افغانـستان کـښې معلـوم دیـره ځـای نـه لـری، علیـه از جانـب محکمـه مربوطـه تعیین می شود ولی مدت مذکور از یک ماه تجاوز کرده نمی تواند.

مادۀ (۱۰۰):
مدتیـــکه جهت اخذ جواب های مـدعی و مـدعی عـــلیه از طـرف محـــکمه تعیـین گردیـده بعـد از اسـتماع دلایـل طـرفین از جانـب محکمۀ مربوطـه تزئیـد و تنقـیص شده می‌تواند.

مادۀ (۱۰۱):
مـدت مذکور مـادۀ (۹۹) و (۱۰۰) از تـاریـخ ابـلاغ قـرار مـربوطه بـه آن کـسی کـه مهلـت بـرایش داده شده آغاز می‌گردد.

مادۀ (۱۰۲):
اگـر اقامتگـاه شخـصیکه بـرایش مهلـت داده میـشود خـارج حـوزۀ قضائی محکمه واقع باشد نظر بـه بعـد مـسافه بـرای هـر(۱۲) میـل یکـروز مهلـت مـسافت زیـادتر برایش داده می‌شود.

مادۀ (۱۰۳):
مـــدت جـــواب مدعی و مدعی عـــــلیه کـــه در افغانـــستان اقـــامتگاه معـــین نداشـــته

دخپلی محکمی له خوا ورته د یوی نه ترځلورو میاشتو پورې ټاکله کیږی او د محکمی له خوا په جریدو او راډیو کښی د وروستۍ اعلان د خپریدو له نېټې څخه شپږ اتیایمې اواته اتیایمی مادی مطابق شروع کیږی.

یوسلو څلورمه ماده:
که چېری په یوه دعوی کښی مدعی او مدعی علیه ګڼ کسان وي، نو ترټولو اوږده موده چه کوم یوه ته ورکوله کیږی، ټول په هغی کښی شامل دی.

باشند از طرف محکمه مربوطه از یک الی چهار ماه تعیین و تاریخ نشر آخرین اعلان محکمه ذریعهٔ جراید و رادیو طبق مواد(۸۶) و(۸۸) آغاز می‌گردد.

مادهٔ (۱۰۴):
در صورتی‌که در یک دعوی مدعی و مدعی علیه متعدد باشند طویلترین مدتیکه نسبت بیکی از آنها رعایت میشود شامل تمام آنها می‌باشد.

دوه یم باب
لومړنۍ مرحله
لومړی فصل
په ابتدائی محکمه کی ددعوو وړاندی کول

یوسلو پنځمه ماده:
کله چه محکمه د یوی دعوی د شروع کیدو حکم وکړی او د محکمی د دفتر ټاکلی محصول تحویل کړی شی، نو دعوی له همدغی نېټې سوره شوی ګڼل

باب دوم
مرحله ابتدائیه
فصل اول
اقامه دعوی در محاکم ابتدائیه

مادهٔ (۱۰۵):
دعوی از تاریخ اتخاذ قرار از طرف محکمه نسبت به دائر گردیدن آن و تادیه محصول معین دفتر محکمه اقامه شده محسوب

کیږی.

یوسلوشپږمه ماده:
په کار دی چه د دعوې سورولو غوښتنه په یوه چاپی عریضه کښی چه رسمی دائروته د مراجعې د پاره ټاکلی شوی دی ولیکله شی، که چاپې عریضه نه وی نو باید چه په غوښتنلیک باندی د دوو افغانیو د صکوکو ټکټ ولګول شی.

یوسلو اوومه ماده:
د دعوی سورولو په غوښتنه کښی باید چه داټکی روښانه وی:
۱- د مدعی مکمل شهرت یعنی:
الف: د مدعی نوم او دهغه د پلار نوم.
ب: د تذکری لمر او تاریخ ئی.
ج: دیره ځای ئی.
د: کار او کسب ئی.
۲- د مدعی علیه یا مدعی علیهم مکمل شهرت.
۳- د هغه شی تعیین چه په دعوی کښی پروت وی.
۴- د غوښتنې نېټه.
۵- اصل ادعا.

یوسلو اتمه ماده:
مدعی په دی مکلف دی چه د هغو می ګردد.

مادۀ (۱۰۶):
درخواست اقامۀ دعوی باید بروی عرایض چاپی که برای مراجعه بدوائر رسمی تعین گردیده نوشته شود در غیر آن لازم است تکت صکوک دو افغانی بروی درخواست نصب گردد.

مادۀ (۱۰۷):
درخواست اقامه دعوی باید حاوی مطالب ذیل باشد:
۱- شهرت مکمل مدعی یعنی:
الف: اسم مدعی و اسم پدر او.
ب: نمره و تاریخ تذکرۀ او.
ج: اقامتگاه او.
د: شغل او.
۲- شهرت مکمله مدعی علیه ویا مدعی علیهم.
۳- تعیین مدعا بها.
۴- تاریخ درخواست.
۵- اصل ادعا.

مادۀ (۱۰۸):
مدعی مکلف است نقل مصدق

پانو او سندونو تصدیق شوی نقل چه دی پری استناد کوی د دعوی سورولو د غوښتنی سره یو ځای د محکمی دفتر ته وسپاری. که چېری محکمه لازمه وګڼی نوله خپله پلوه یا د مدعی علیه په غوښتنه کولای شی چه مدعی ته ووایی چه اصل پانی محکمی ته وښیه.

اوراق و اسناد مربوطه را که به آن استناد نموده با درخواست اقامه دعوی توأم بدفتر محکمه بسپارد. در صورتی‌که محکمه لازم داند راساً و یا در اثر تقاضای مدعی علیه می‌تواند به مدعی امر کند که اصل اسناد را به محکمه ارائه دهد.

یوسلونهمه ماده:
که چېری ددعوی سورولو غوښتنه د وکیل په لاس محکمی ته وړاندی شوی وي نو په کار دی چه وکالت پانه هم ورسره یوځای وی.

مادهٔ (۱۰۹):
اگر درخواست اقامه دعوی ذریعهٔ وکیل به محکمه تقدیم گردیده باشد باید وکالت نامه وی نیز ضمیمهٔ آن باشد.

یوسلولسمه ماده:
ددعوی سورولو د غوښتنی د رسیدو سره سم په کار دی چه منشی هغه د محکمی په دفتر کښې ثبت کړی او د دواړو خواوو د مکمل شهرت، دغوښتن لیک د تاریخ او د ورسره پانو رسید مدعی ته ورکړی.

مادهٔ (۱۱۰):
منشی محکمه پس از وصول درخواست اقامه دعوی باید بلا وقفه آنرا در دفتر محکمه قید کرده رسید محتوی شهرت مکمله طرفین، تاریخ تسلیم و تعداد اوراق منضمه آن را بمدعی بدهد.

یوسلو یوولسمه ماده:
که چېرې د دعوی سورولو غوښتن لیک د یوسل پنځمی، یوسل شپږمې او یوسل اوومی مادی د

مادهٔ (۱۱۱):
اگر درخواست اقامه دعوی مطابق تصریحات مواد (۱۰۵-۱۰۶ و ۱۰۷) ترتیب نیافته باشد

ښودنی سره سم نه وی تیار شوی، نو د محکمی منشی د غوښتن لیک د رسیدونه پس په پنځو ورځو کښی دننه دغه نواقص د محکمی د رئیس له نظره تیروی او د رئیس په امر دغه غوښتن لیک د نیمګړتیا پوره کولو د پاره مدعی ته بیرته ورکوی.

منشی محکمه در ظرف پنج روز از تاریخ و صول آن نواقص موضوع را به نظر رئیس محکمه رسانیده حسب الامر رئیس درخواست مذکور را جهت تکمیل نواقص آن به مدعی اعادهٔ می کند.

یوسلو دوولسمه ماده:

مدعی حق لری چه د دعوی سورولو نه پس هر کله چه وغواړی د محکمی په اجازه دعوی پریږدی.

مادهٔ (۱۱۲):

مدعی حق دارد بعد از اقامه دعوی هر وقت که بخواهد دعوی را باجازهٔ محکمه ترک بنماید.

که چېرې محکمی ته دا ښکاره شی چه دی دا دعوی د بدنیتی له مخه پریږدی نو مکلفه ده چه ده ته د دعوی پرینښودلو اجازه ورنه کړی، بلکه دی به مکلفوی چه یا له دعوی نه ابراء و کاندی او یائی جاری و ساتی د دعوی پرینښودلو د اجازی په حالت کښی مدعی پدی مکلف دی چه مقابل لوری ئی څومره تاوانی کړی دی. که چېرې مدعی علیه یی غواړی او محکمه ئی تشخیص وکړی چه هغه مدعی علیه ته ورکړی د دعوی پرینښودلو محصول کټ مټ د دعوی نه دابرا

محکمه مکلف است در صورتی‌که ترک دعوی او را مبنی بر سوء نیت بداند باو اجازهٔ ترک دعوی رانداده بلکه او را مکلف نماید که یا از ادعا ابرأ دهد و یا دعوی را ادامه دهد. در صورت اجازه ترک دعوی مدعی مکلف است خسارهٔ را که بطرف مقابل وارد نموده بشرط مطالبه مدعی علیه و حسب تشخیص محکمه جبران نماید محصول ترک دعوی از اقامهٔ آن عیناً مانند محصول ابراء

د محصول هومره دی.

یوسلو دیارلسمه ماده:
مدعی د مدعی علیه د رضانه پر ته دا نه شی کولای چه خپله دعوی د سوریدلو نه پس پراخه کاندی.

دوه یم فصل
لومړنی اعتراضونه

یوسلو څوار لسمه ماده:
لومړنی اعتراضونه دادی:
۱: د محکمی د صلاحیت نه لرلو ادعا.
۲: د دعوی سورولو په باب د مدعی د قانونی اهلیت یا صلاحیت نه لرلو ادعا.
۳: په مدعی علیه پوری د سوری شوی دعوی داړی نه لرلوادعا.
۴: ددی خبرې ادعا چه سورې شوی دعوی یوځل پخوا د همغو کسانو ترمنځ چه په دی دعوی کښې دواړه خوا وی دهغو په ځای ولاړی دی خپل جریان تیر کړی او د یوی واکمنی محکمی له خوا په دغه باب غوټ پریکړی حکم وتلی دی.

است.

مادۀ (۱۱۳):
مدعی بدون موافقت مدعی علیه نمی تواند دعوی را بعد از اقامۀ آن توسعه دهد.

فصل دوم
اعتراضات ابتدائی

مادۀ (۱۱۴):
اعتراضات ابتدائی عبارت از اعتراضات ذیل است:
۱: ادعای عدم صلاحیت محکمه.
۲: ادعای عدم صلاحیت یا عدم اهلیت قانونی مدعی جهت اقامه دعوی.
۳: ادعای اینکه دعوی اقامه شده متوجه شخص مدعی علیه نمی باشد.
۴: ادعای اینکه دعوی اقامه شده سابقاً بین همان شخص یا کسانیکه طرفین دعوی قایم مقام آنها هستند جریان خود را طی و نسبت به آن حکم قطعی محمکه با صلاحیت صادر گردیده است.

۵: ددی خبرې ادعا چه سوره شوی دعوی د وخت تیریدو د قید لاندی راغلی ده.

۶: ددی خبری ادعا چه سوره شوی دعوی په یوه بله داسی تجارتی محکمه کښی هم دائره ده چه کټ مټ ددی محکمی هومره صلاحیت لری.

۷: د دی خبری ادعا چه سوره شوی دعوی د یوی بلی داسی دعوی سره پیوند لری چه په یوه بله محکمه کښی دائره ده او په کار دی چه دا دعوی قانوناً هغلته غوڅه شی.

یوسلو پنځلسمه ماده:

که چیری د یوسل و څوارلسمی مادی دوهمه، دریمه، څلورمه، پنځمه فقره ثابته شی نو په کار دی چه محکمه په دعوی باندی دغور کولو نه ډډه وکړی او د رد حکم وکړی.

یوسلو شپاړسمه ماده:

که چېری د یوسلو څوارلسمی مادی اوله، شپږمه او اوومه فقره ثابته شی نو په کار دی چه محکمه په دعوی باندی دغور کولو نه ډډه وکړی او د دعوی دوسیه هغی ۵: ادعای اینکه دعوی اقامه شده تحت قید مرور زمان آمده است.

۶: ادعای اینکه دعوی اقامه شده در یک محکمهٔ دیگر تجارتی که حایز عین درجه است نیز دایر است.

۷: ادعای اینکه دعوی اقامه شده با یک دعوی دیگری که در یک محکمهٔ دیگر تجارتی دائر گردیده ارتباط دارد و باید قانوناً در آنجا فیصله شود.

مادهٔ (۱۱۵):

در صورت اثبات فقرات (۱-۲-۳- ۴ و ۵) مادهٔ (۱۱۴) باید محکمه از رسیدگی به دعوی امتناع نموده قرار رد صادر نماید.

مادهٔ (۱۱۶):

درصورت اثبات فقرات (۶ و ۷) مادهٔ (۱۱۴) محکمه باید از رسیدگی به دعوی امتناع ورزد ودوسیهٔ متعلقه را به محکمهٔ مربوطهٔ آن جهت وارسی در

محکمی ته چه تعلق ورپوری لری په لسو ورځو کښی د ننه له حکم کولو نه پس د غور د پاره ولیږی خوهله نه! چه یوی خوا د یوسلو اووه لسمی مادی د حکم سره سم د جار وتلو (استیناف) غوښتنه کړی وی.

ظرف ده روز بعد از صدور قرار خود ارسال نماید مگر اینکه یکی از طرفین طبق حکم مادۀ (۱۱۷) در خواست استیناف نموده باشد.

یوسلو اووه لسمه ماده:

د دواړو خواو نه هره یوه چې د محکمی حکم دهغی خلاف وی، کولی شی چه د ابتدائیه محکمی د فیصلی د لیکلی خبر نه پس ترشلو ورځو پوری مرافعه و غواړی او که د مرافعه محکمی په فیصله ئی قناعت و نه شی د مرافعه محکمی د فیصلی دلیکلی خبرنه پس په لسو ورځو کښی تمیز وغواړی.

مادۀ (۱۱۷):

هر یک از طرفین که قرار محکمه بر علیه او است می تواند از تاریخ ابلاغ تحریری قرار محکمه ابتدائیه الی بیست روز مرافعه طلب و اگر به قرار محکمه مرافعه نیز قناعت نشود از تاریخ ابلاغ تحریر قرار محکمه مرافعه در ظرف ده روز تمیز طلبی نماید.

یوسلو اتلسمه ماده:

که چېری په یوسلوڅوارلسمه ماده کښی راغلی اعتراضونه د دعوی په اصل موضوع باندی دغور کولو نه مخکښی نه وی وړاندی شوی نو په دعوی باندی د غور کولو او د محاکمی په جریان کښی نه شی اوریدل کیدی.

مادۀ (۱۱۸):

هرگاه اعتراضات مندرجه مادۀ (۱۱۴) قبل از رسیدگی باصل موضوع دعوی پیش نشده باشد در حین رسیدگی بدعوی و جریان محاکمه قابل سمع نیست.

یوسلو نولسمه ماده:
دمدعی علیه لومړنی اعتراضونه په هغه موده کښې دننه چه په اصلی موضوع باندی داعتراضونو په باب په درېیم فصل کښې ټاکل شوی ده، مدعی ته رسول کیږی او پخپله ټاکلی موده کښې دننه د مدعی نه ځواب اخیستل کیږی.

درېیم فصل
د اصل موضوع په باب اعتراضونه

یوسلو شلمه ماده:
که چېری مدعی یا دهغه وکیل لومړنی اعتراضونه وړاندی کړی، نو پدی مکلف دی چه د اصل موضوع په باب خپل ځواب ده ته د خبر ورکولو له تاریخه و وروسته د پنځلسو ورځو په ترڅ کښې او یا په هغه موده کښې د ننه چه د محکمی په خوښه د پنځلسو ورځو نه زیاته ټاکل کیږی په دوو نسخو کښې تیار کاندی او د خپلو ټولو هغو اسنادو سره چه په لاس کښې ئې لرې او دی پری تکیه کوی محکمی ته وړاندی کړی.
د محکمی منشی د ده د ځوابونو یوه نسخه د دعوو ضبطولو په

مادهٔ (۱۱۹):
اعتراضات ابتدائیه مدعی علیه در همان مدتی که برای اعتراضات مربوط باصل موضوع در فصل (سوم) تعیین گردیده بمدعی تبلیغ می شود و در ظرف مدت معینه آن از مدعی جواب اخذ می گردد.

فصل سوم
اعتراضات مربوط باصل موضوع

مادهٔ (۱۲۰):
اگر مدعی علیه و یا وکیل او اعتراضات ابتدائیه را پیش نکرده باشد مکلف است جواب خود را در اصل دعوی در ظرف (۱۵) روز سر از تاریخ ابلاغ و یا در ظرف مدتی که به صوابدید محکمه زیادتر از پانزده روز تعیین می شود در دو نسخه ترتیب و با کلیه اسناد دست داشته خود که به آن استناد می نماید به محکمه تقدیم کند منشی محکمه یک نسخه جواب های او را به کتاب ضبط دعوی ثبت نموده و نسخه دیگر را بموجب

کتاب ثبتوی او بله نسخه ئی د رسید په بدل کښی مقابل لوری ته ورکوی او په وړاندی شویو سند و نو د محکمی مهر لګوی، محتویات ئی د دعوو ضبطولو کتاب ته رسوی او اصل سندونه د رسید په بدل کښی بیرته خپل خاوند ته ورکوی چه د ضرورت په وخت کښی ئی محکمی ته وښیی.

یوسلو یو ویشتمه ماده:
په تجارتی ابتدائیه محکمو کښی اوادعا د مدعی او مدعی علیه مدافعه زیات نه زیات دری واری د دواړو خواو ترمنځ غیر کیږی.

څلورم فصل
جوابی دعوی

یوسلو دوه ویشتمه ماده:
مدعی علیه حق لری چه د مدعی د دعوی په مقابل کښی دی هم ددعوی اقامه وکړی او په کار دی چه دا دعوی له اصل دعوی سره په منشأ کښی شریکه وی او د اصل دعوی په باب تصمیم په هغی باندی تاثیر اچوی.

یوسلو درویشتمه ماده:
په کار دی چه په جوابی دعوی رسید بطرف مقابل تفویض می نماید و اسناد تقدیم شده را به مهر محکمه نشانی نموده محتویات آن را به کتاب ضبط دعوی ثبت و اصل آنرا در مقابل رسید به تقدیم کننده اعاده میکند که عند الضرورت به محکمه ارائه نماید.

مادۀ (۱۲۱):
در محاکم ابتدائیه تجارتی ادعا و مدافعه مدعی و مدعی علیه علی الاکثر برای سه مرتبه بین طرفین تعاطی می گردد.

فصل چهارم
دعوی متقابل

مادۀ (۱۲۲):
مدعی علیه حق دارد در مقابل ادعای مدعی مقابلتاً اقامه دعوی نماید و چنین دعوی باید با دعوی اصلی از یک منشأ بوده و اتخاذ تصمیم در دعوی اصلی بر آن مؤثر باشد.

مادۀ (۱۲۳):
دعوی متقابل باید علاوه

کښې د اصل دعوی د دفعې نه علاوه په مدعی نوی دعوی هم وی.

یوسلو څلیرویشتمه ماده:
په کار دی چه جوابی دعوی د یوی ځانګړی غوښتنی په موجب سوره کړه شی.

یوسلو پنځویشتمه ماده:
که چېری د مدعی علیه دعوی جوابی نه وی، نو محکمه به په ځانګړی صورت په دعوی غور کوی او که چېری په دغه دعوی باندی غور کول د دغی محکمی په صلاحیت کښی نه ؤ نو محکمه به د یوی فیصلی په اساس خپله ناصلاحیتی په دغه باب اعلانوی.

یوسلو شپږ ویشتمه ماده:
په جوابی دعوی کښی دادعا او دوارو خواوو د دفعو په باب د دی قانون د یوسلو شلمی مادی حکم چلیږی.

یوسلو اووه ویشتمه ماده:
که چېری مدعی خپله اصل دعوی د یوسلو دولسمی مادی د حکمونو سره سمه پریښوده نو د جوابی بر دفع دعوی اصلی، متضمن ادعای جدیدی بر علیه مدعی باشد.

مادۀ (۱۲۴):
دعوی متقابله باید به موجب درخواست علیحده اقامه گردد.

مادۀ (۱۲۵):
در حالیکه ادعای مدعی علیه در مقابل مدعی متقابل نمی باشد محکمه مربوطه به آن دعوی بصورت علیحده رسیدگی می کند و اگر رسیدگی به دعوی مذکور از صلاحیت محکمه خارج باشد محکمه باساس یک قرار، عدم صلاحیت خود را در زمینه اعلام می دارد.

مادۀ (۱۲۶):
در دعوی متقابل راجع به ادعا و مدافعات طرفین حکم مادۀ (۱۲۰) باین قانون تطبیق می‌گردد.

مادۀ (۱۲۷):
اگر مدعی اصل دعوی خود را طبق احکام مادۀ (۱۱۲) ترک نمود مدعی دعوی متقابل

دعوی مدعی کولی شی چه خپله دعوی د دی قانون د احکامو سره سم جاری وساتی.

مـی‌توانـد دعـوی خـود را طبـق احکـام ایـن قـانون ادامـه دهد.

پنځم فصل
په دعوی باندی غور

فصل پنجم
رسیدگی بدعوی

یوسلو اته ویشتمه ماده:
محکمـه د دعـوی پـه هـره مرحلـه کښې کولی شی دواړه خواوی یـا د هغـوی وکـیلان را وغـواړی او یـو د بـل پـه مخکـښی د دوی ویـنـاوی د هغـه کـشالی پـه بـاب چـه اخـتلاف پـیدا شوی دی اوریـدی او د څلـوېښتمې مـادې د پـاملرنی سره سره دوی تـه د صـلحی کولـو تشویق ورکولی شی.

مادۀ (۱۲۸):
محـکـمه در هـر مـرحـلۀ دعـوی مـی تـواند طرفیـن و یـا وکـلای آنـها را احـضـار و بالـمواجه یـک دیگـر اظـهارات شـانـرا در بـارۀ قـضـیۀ مـورد اخـتلاف استمـاع و آن هـا را با در نظـر گـرفتـن مـادۀ (۴۰) بـه صـلح تشـویق نماید.

یوسلو نهه ویشتمه ماده:
د دواړو خـواوو تـرمنځ د یوسـلو یـوویـشتمـی مـادی سره سم د ادعـا او د فعـی دوړانـدی کیدلونـه پس که چېری محکمی تـه دا ثابتـه شـی چـه پـه دعـوی بانـدی کـافی څیړنـه او غـور شـوی دی او اوس پـری د حکـم د صـادریدو وخت دی نو دواړو خواو ته د غـور د ختمیدو خبر ورکوی او که داسی نه وه نـو د ضـرورت پـه وخـت دواړه خـواوی

مادۀ (۱۲۹):
بعـد از اینکـه بـین طرفین صـورت ادعـا و مدافعـه طبـق مـادۀ (۱۲۱) تعـاطی گـردید اگـر نـزد محکمـه ثـابـت شـود کـه دعـوی بانـدازه کافی مورد بحث و رسـیدگی قـرار گرفته و مـی توان در آن بـاره حکم صـادر کـرد ختـم رسـیدگی را بـا آنهـا ابـلاغ مـی نمایـد. در عکـس حـال طـرفین را عنـد الایجـاب احـضار و دربـارۀ قـسمـت هـای

راغواړی او د نیمګړی برخو په باب تری توضیحات غواړی.

یوسلو دېرشمه ماده:
د دواړو خواوو د حاضرولو د پاره چه محکمه څومره موده ټاکی د هغی زیاته اندازه لس ورځی ده، د مزله داوړدوالی له امله به محکمه ددی قانون د حکمونو سره سم په اصله موده باندی یوځه وخت زیاتوی، په فوق العاده حالاتو کښی محکمه پخپله او یا د دواړو خواوو نه د یوی په غوښتنه د حاضرو لومودہ اوږدولی شی.

شپږم فصل
شاهدی

یوسلو یو دېرشمه ماده:
د دعوی د دواړو خواوو نه هر یو چه د شاهدانو په شاهدی باندی تمسک کوی په دې مکلف دی چه محکمی ته د خپلی ادعا وړاندی کولو په وخت کښې د مکمل شهرت، پتې او شمیر سره د شاهد د نامه یا شاهدانو د نومونو لست محکمی ته وړاندی کړی. دغه متمسک حق نه لری چه دغور په وخت کښی د نو یو شاهدانو او یا ناتکمیل توضیحات می خواهد.

مادۀ (۱۳۰):
حداکثر مدتی را که محمکه برای احضار طرفین تعیین می کند ده روز است در مورد بعد مسافه محکمه یک مدت اضافی را طبق احکام این قانون بر اصل مدت علاوه می کند. در حالات فوق العاده محکمه می تواند مستقیما و یا در اثر تقاضای یکی از طرفین مدت احضار را تمدید نماید.

فصل ششم
شهادت

مادۀ (۱۳۱):
هر یک از طرفین دعوی که به شهادت شهود تمسک می کرد مکلف است در حین تقدیم ادعای خویش به محکمه لست متضمن اسم یا اسمای شهود خود را با شهرت مکمله آدرس و تعداد آنها به محکمه تقدیم نماید. تمسک کنندۀ مذکور نمی تواند هنگام رسیدگی شهود جدیدی و یا شهود دیگری غیر از آنانیکه

د هغو شاهدانونه غیر چه ده ئی نومونه مخکښی محکمی ته سپارلی دی د نورو شاهدانو نومونه وښیی. محکمه د غور په وخت کښی په شهادت متمسکه خوا په دی مکلفوی ټول ښوولی شاهدان یا د هغو له جملی ځینی کسان چه محکمه ئی خوښ کړی په هغه تاریخ چه محکمه ئی ښیی، راولی.

د ضرورت په وخت کښې پخلپه محکمه هم ښودل شوی شاهد یا شاهدان غوښتلی او راوستلی شی.

اسمای شانرا قبلا به محکمه تقدیم نموده معرفی نماید. محکمه در وقت رسیدگی به دعوی طرف متمسک به شهادت را مکلف می دارد همه یا بعضی از شهود معرفی شده را که محکمه انتخاب نموده به تاریخیکه تعیین می کند احضار نماید.

در صورت لزوم خود محکمه نیز می‌تواند شاهد و یا شهود یکه معرفی شده جلب و احضار نماید.

یوسلو دوه دیرشمه ماده:

که چېری شاهد د یو بلی قضائی محکمی په و نه کښی هستوګنه لری، نو هغه محکمه چه په دعوی غور کوی، د هغی محکمی نه چه دی پکښی اوسی د اغوښتنه کولی شی چه د قضائی نیابت په اساس شاهدی واوری او د شاهدانو و یناوی ثبت کړی او د نتیجی اطلاع رسماً هغی محکمی ته ورکړی چه په دعوی غور کوی.

مادهٔ (۱۳۲):

در حالی‌که شاهد در حوزه قضائی محکمه دیگری اقامت داشته باشد محکمهٔ که به دعوی رسیدگی می کند می‌تواند از محکمهٔ محل اقامت او تقاضا کند که شهادت را باساس نیابت قضائی استماع و اظهارات شهود را ثبت نموده نتیجه را به محکمهٔ که بدعوی رسیدگی می کند رسماً اطلاع نماید.

یوسلو دری دېرشمه ماده:

شاهد به د اشرطونه لری:

مادهٔ (۱۳۳):

شاهد باید دارای شرایط ذیل باشد:

الف: عاقل به وی.
ب: عمر به ئی له اتلسو کلونو کم نه وی.
ج: محجور به نه وی.
د: د شاهدی نه مخکښی به ئی کوم جنایت نه وی کړی.
هـ: د چا دپاره چه شاهدی وایی د هغه سره به د زوجیت یا د لومړۍ او دوه یمی درجې خپلولی نه لری، نوکریا با دار به ئی نه وی او دده د گوزاری زیرمه به د هغه په غاړه نه وی.
و: په چا باندی چه شاهدی وائی د هغه سره به ئی داسی دشمنی نه وی تیره شوی چه دلیل پری موجود وی.
ز: دده او هغه چا په منځ کښی به چه دی پرې شاهدې وائی، د شاهدۍ په وخت په کومه محکمه کښې حقوقی یا جزائی دعوی روانه نه وی.

یوسلو څلور دپرشمه ماده:
د دعوه والو هره خوا د یوسل دری دیرشمې مادی د (هـ) (و) او (ز) فقرو په اساس شاهد رد ولی شی.

یوسلو پنځه دپرشمه ماده:
هغه خوا چه د شاهد ردول غواړی

الف: عاقل باشد.
ب: عمر او کمتر از ۱۸ سال نباشد.
ج: محجور نباشد.
د: قبل از ادای شهادت مرتکب جنایت نگردیده باشد.
هـ: با کسی که به مفاد او ادای شهادت می کند علاقهٔ زوجیت، قرابت درجه اول یا دوم نداشته، خادم یا مخدوم نبوده و تأمین معیشتش بدوش او نباشد.
و: با کسی که علیه او ادای شهادت می کند چنان سابقهٔ خصومت نداشته که بر وجود آن دلیلی در دست باشد.
ز: بین او و شخصی‌که علیه او ادای شهادت می کند در حین ادای شهادت دعوی حقوقی یا جزائی در کدام محکمه دائر نباشد.

مادهٔ (۱۳۴):
هر یک از طرفین دعوی می‌تواند باساس فقرات هـ، و، ز مادهٔ ۱۳۳ شاهد را رد نماید.

مادهٔ (۱۳۵):
طرفی‌که می خواهد شاهد را رد

په کار دی چه د رد غوښتنه د شاهدی نه مخکښی محکمی ته وړاندی کړی او دلیلونه هم وښیی. که چېری محکمه د رد علت صحیح وګڼی نو د شاهد شاهدی نه شی اوریدلی.

کند باید درخواست رد را قبل از ادای شهادت به محکمه تقدیم نماید و دلائل خود را نیز ارائه کند در حالیکه علت مورد تصدیق محکمه واقع گردد شهادت شاهد را سمع کرده نمی‌تواند.

یوسلو شپږ دېرشمه ماده:

که شاهدان ګڼ وو نو محکمه به د هر یوه شاهدی یواځې او د نورو نه بیله اوری.

مادهٔ (۱۳۶):

در صورت تعدد شهود محکمه شهادت هر شاهد را بدون حضور شهود دیگر منفرداً استماع می کند.

یوسلو اووه دېرشمه ماده:

په کار دی چه شاهدان د شاهدی نه مخکښی خپل نوم، مکمل شهرت او پته وښیی او ژبه وکړی چه ټول حقایق به بې له زیاتی کمی بیانوی.

مادهٔ (۱۳۷):

شهود باید قبل از ادای شهادت، اسم، شهرت مکمله و آدرس خود را اظهار نماید و تعهد کند که تمام حقایق را بدون کم و کاست بیان می نماید.

یوسلو اته دېرشمه ماده:

په کار دی چه د محکمی رئیس شاهد ته د شاهدی ویلونه آګاهو هغه جزأ بیان کړی چه قانون د ټګ او ناحقه شاهد د پاره ټا کلی ده.

مادهٔ (۱۳۸):

رئیس محکمه باید قبل از ادای شهادت مجازاتی را که قانون برای شاهد زور (ناحق) مقرر نموده به شاهد خاطر نشان نماید.

یوسلو نهه دیر شمه ماده:

ضروری ده چی د شاهد بیان دده پخپل لیک او کتابت د دعوو ضبطولو په کتاب کی ثبت شی او

مادهٔ (۱۳۹):

اظهارات شاهد لازم است که به خط و کتابت خودش در کتاب ضبط دعوی محکمه قید و به

په ده امضاء کړی شی، او که شاهد لیک نه شی کولی نو دده بیان به کټ مټ د محکمی د منشی له پلوه د دعوو ضبطولو په کتاب کښی ثبتیږی او تری لاندی به د شاهد ګوته یا مهر د دوو کسو په تصدیق لګول کیږی.

یوسلو څلوېښتمه ماده:
د تجارتی دعوی په اثبات او پریکون کښې د شاهدی د تاثیر، ارزښت او اهمیت اندازه ټاکل د خپلې محکمی په واک کښې دی په داسی پېښو کښې چه هر یو دعوه وال د خپلې دعوی د اثبات د پاره یو اعتباری سند وړاندی کوی نو د مقابلی خوا دفع بی د اعتباری سند د لرلو او محکمی ته له ښودلو تش دشاهدانو په وسیله نه اوریدله کیږی.

یوسلو یوځلوېښتمه ماده:
ددعوی والو هیڅ لوری د شاهدی ویلو په وخت کښی د شاهد بیان غندلی یا نمانځلی نشی، ددعوه والو هره خوا چه د رئیس له پلوه د خبر داری ورکولو سره هم دغسی وکړی نو له محکمی ویستل کیږی.

امضای او بر سد و اگر شاهد سواد نداشته باشد اظهارات او عیناً از طرف منشی محکمه به کتاب ضبط دعوی قید و در ذیل آن مهر و یا نشان شصت او به تصدیق دو نفر گرفته می شود.

مادۀ (۱۴۰):
تشخیص درجۀ اهمیت ارزش و تاثیر شهادت در حل و فصل و اثبات دعوی تجارتی به صلاحیت محکمه مربوطه است. در موردیکه از طرف اصحاب دعوی نسبت به ادعایش سند مدار اعتبار ارائه می‌گردد دفاع طرف مقابل بدون داشتن سند مدار اعتبار و ارائه آن بمحکمه، محض بوسیله شهود قابل سمع نیست.

مادۀ (۱۴۱):
هیچ یک از طرفین دعوی نمی تواند بیانات و اظهارات شاهد را در حین ادای شهادت تحسین و یا تقبیح نماید. طرفیکه علی الرغم اخطار رئیس محکمه به چنین امر مبادرت ورزد از محکمه اخراج می‌گردد.

یوسلو دوه څلوېښتمه ماده:
که چېرې شاهد په پښتو یا فارسی نه پوهېده نو د ترجمان په خوله به تری ځواب غوښتل کیږی.

یوسلو دری څلوېښتمه ماده:
په تجارتی محکمو کښې د محکمی د حکم کولو د پاره د شاهدې د ضروری نصاب کمه اندازه دوه تنه دی.

اووم فصل
اهل خبره

یوسلو څلور څلوېښتمه ماده:
په هغو پیښو کښې چه په یوه دعوی باندی غور کول په فنی معلوماتو پوری تړلی وی، محکمه د دعوه والو یا دعوه وال په غوښتنه او یا پخپله د دی خبری حکم کولی شی چه د پوهانو نه دی پوښتنه وشی. د محکمی په حکم کښې به دهغه موضوع څرګند ذکر چه د پوهانو عقیده پکښې ضروری ده، قیدیږی او د هغی مودی تاکل چه پوهان پکښې خپله عقیده څرګنده کړی، ضروری دی.

مادهٔ (۱۴۲):
هرگاه شاهد زبان پشتو و یا فارسی را ندانند ذریعهٔ ترجمان استجواب می شود.

مادهٔ (۱۴۳):
در محاکم تجارتی حداقل نصاب شهادتی‌که مبنای حکم محکمه قرار گرفته بتواند، دو نفر می باشد.

فصل هفتم
اهل خبره

مادهٔ (۱۴۴):
در مواردیکه رسیدگی به یک دعوی وابسته به معلومات فنی باشد محکمه می‌تواند به اساس درخواست اصحاب دعوی و یا یکی از آنها و یا راساً قرار صادر کنند که از اهل خبره استشاره بعمل آید. در قرار محکمه تصریح موضوعی‌که عقیده اهل خبره نسبت به آن لازم است قید شده و مدتی‌که اهل خبره باید در داخل آن اظهار عقیده کند ضروری است.

یوسلو پنځه څلوېښتمه ماده:
کـلـه چـه دواړه خـواوی د پوهـانو په ټاکلـو اتفـاق وی نو پوهان به د محکـمی لـه پلـوه خوښـیږی، کیدای شی چه پوهان یو نفر یـا ډیر کسان خوښ کړی شی.

مادۀ (۱۴۵):
در حـالیکه طرفین در بـاره تعیـین اهل خبره توافق نظر نداشـته باشـند اهل خبره از طرف محکمه انتخاب میشود ممکن است اهل خبره یک نفر و یا بیشتر تعیین شود.

یوسلو شپږ څلوېښتمه ماده:
د پوهـانو پـه حیـث هغـه کـسان خوښـول پـه کـار دی چه پـه مربوطـه پېـښـه کـښې د ضـروری فنـی معلوماتو خاوندان وی، هغه پوهان چه د یوسلو پنځه څلوېښتمی مادی سره سم پخپلـه د محکمی لـه خوا ټاکـل کیـږی، ورسـره ددې قـانون د شـهادت د فـصل پـه یوسـلو دری دېرشـمه مـاده کـښې دراغلـو شرطونو پاملرنه هم ضروری ده.

مادۀ (۱۴۶):
کـسانی بـایـد بحیـث اهـل خبـره انتخـاب شـوند کـه در موضـوع مـربوطـه دارای معـلومـات فنـی لازم بـاشند. اهل خـبره ایکه طبـق مـادۀ (۱۴۵) از طـرف محـکمه راساً تعیـین می‌شوند رعـایـت شـروط مذکور مادۀ (۱۳۳) فصل شـهادت ایـن قـانون نیز ضروری است.

یوسلو اووه څلوېښتمه ماده:
پـه هېڅـا بانـدی ددی خبـری زورنـه شی کېدی چه که دده خوښـه نـه وی هـم د اهـل خـبره پـه حـیث دې خپله عقیده څرګنده کړی.

مادۀ (۱۴۷):
هیـچ کـس مجـبـورکرده نمـی‌شـود بـدون موافقـتش بحیـث اهـل خـبره اظهـار عـقیده کـند.

یوسلو اته څلوېښتمه ماده:
د محکمـی له پلوه د دواړو خواوو د بیـان اوریدلونه پس محکمه هغـه سـوالونه ټاکی چه د پوهانونـه ئی

مادۀ (۱۴۸):
بعـد از اینکـه محکمـه اظهـارات طرفین را استماع کرد سوالاتی را که بایـد از اهل خبره پرسیده شود

پوښتنه په کار ده. د دواړو خواو نه د پوهانو په باب ځواب او لیک غوښتل د محکمې په وړاندی د دواړو خواوو په حضور کیږی.

یوسلو نهه څلوېښتمه ماده:
که چېری د پوهانو د حق الزحمی په باب مخکښې فیصله نه وی شوی، نو حق الزحمه د موضوع د څومره والی، څرنګوالی او د پوهانو د وخت اود زحمت د پاملرنی سره د محکمی له خوا ټاکل کیږی.

یوسلو پنځوسمه ماده:
که د پوهانو نه پوښتنه کول د دواړو خواوو نه د یوه په غوښتنه شوی وو نو حق الزحمه به هماغه خوا ورکوی.
که چېری د پوهانو نه پوښتنه د دواړو خواوو په غوښتنه یا پخپله د محکمی له پلوه شوی وه نو دواړه خواوی به نیمه نیمه حق‌الزحمه ورکوی. په دواړو صورتونو کښې په کار دی چه په کار باندی د پوهانو د لاس پورې کولو نه اول حق الزحمه محکمی ته ورکړه شی.

تعیین میکند استجواب و استکتاب اهل خبره از طرفین دعوی در حضور محکمه و در حال حاضر بودن طرفین دعوی صورت می گیرد.

مادۀ (۱۴۹):
در صورتیکه راجع به حق الزحمه اهل خبره قبلاً موافقه بعمل نیامده باشد با در نظر گرفتن کمیت و کیفیت موضوع، وقت و اهمیت زحمتی‌که اهل خبره متحمل شده است از طرف محکمه حق الزحمه تعیین می‌گردد.

مادۀ (۱۵۰):
در حالیکه رجوع به اهل خبره بموجب درخواست یکی از طرفین بعمل آمده باشد تادیۀ حق الزحمه به عهدۀ همان طرف است.
هرگاه رجوع به اهل خبره به اساس درخواست طرفین و یا به موجب نظریه محکمه راساً صورت گرفته باشد درین حالت حق الزحمه بالمناصفه پرداخته می‌شود در هر صورت باید حق الزحمه قبل از مبادرت اهل خبره بوظیفه در دسترس محکمه مربوطه گذارده شود.

یوسل یو پنځوسمه ماده:
پوهان مکلف دی چه د محکمی له خوا په ښودلی وخت محکمی ته حاضر شی او د هغو مضوعاتو په باب چه د دوی نظریه پکښی غوښتل کیږی خپلی کتنی وکړی او په هغه موده کښی د ننه د ننه چه محکمه ئی ټاکی نتیجه پخپل لاس محکمی ته ورکړی.

یوسل دوه پنځوسمه ماده:
محکمه د هغو ټکو د پوره کولو او څرګندولو د پاره چه د پوهانو ګونګ و ګنګل شی له پوهانو په راپور کی نیم ګړی اوخخه بیا پوښتنه کولی شی.
د دوی د خولی توضیحات د دعووضبطولو په کتاب خیژی او د دوی نه پری د سخط اخستل کیږی.

یوسل دری پنځوسمه ماده:
به کار خو دا دی چه محکمه د پوهانو په نظریه باندی پټ په پرده کښی څیړنه وکړی خو که ضرورت پیښ شی نو محکمه د دواړو خوا ؤ په مخکښی د پوهانو په نظریه څیړنه کولای شی.

مادۀ (۱۵۱):
اهل خبره مکلف اند در اوقاتی که از طرف محکمه تعیین میشود به محکمه حاضر و راجع بموضوعاتی که نظریۀ آنها خواسته میشود مطالعات لازمه بعمل آورده و در ظرف مدتیکه از طرف محکمه تعیین می‌شود نتیجه را شخصاً به محکمه تقدیم دارند.

مادۀ (۱۵۲):
محکمه می تواند بغرض تکمیل و توضیح نقاطی که در راپور اهل خبره ناقص و مبهم به نظر برسد از اهل خبره مجدداً استفسار نمایند.
توضیحات شفاهی اهل خبره درکتاب ضبط دعوی قید و یا به امضاء آنها رسانیده می شود.

مادۀ (۱۵۳):
اساساً باید نظریۀ اهل خبره طور سری مورد رسیدگی محکمه قرار گیرد ولی در حالات مقتضی محکمه می‌تواند نظریه اهل خبره را در حضور طرفین دعوی مورد بحث قرار دهد.

یوسلو څلور پنځوسمه ماده:
د پوهانو نظریات د رایو د ډیرښت په اساس اخستل شی او د تجارتی دعوو په پریکون کښی د قرینی په حیث پیژندل کیږی.

مادۀ (۱۵۴):
نظریات اهل خبره با ساس کثرت آراء اتخاذ گردیده ونظریات مذکور در حل و فصل دعاوی تجارتی بحیث قرینه شناخته می شود.

یوسلو پنځه پنځوسمه ماده:
که چیری محکمه د پوهانو نظریی ته اعتبار ور نه کړی نو بیا هم یو ځل نوی پوهان ددی فصل د حکمونو سره سم ټاکلی شی.

مادۀ (۱۵۵):
در صورتیکه محکمه نظریۀ اهل خبره را اعتبار ندهد میتواند برای یکبار دیگر اهل خبرۀ جدیدی طبق احکام این فصل تعیین نماید.

اتم فصل
سندونه

فصل هشتم
اسناد

یوسلو شپږ پنځوسمه ماده:
په هغه صورت کښی چه قانون په تجارتی محکمو کښی د یوی ادعا د ثبوت دپاره یو ډولو معین دلیل څرګند او په ګوته کړی وی نو د هغی ادعا ثبوت په بل ډول دلیلونو نه شی کیدی.

مادۀ (۱۵۶):
در صورتی‌که قانون برای اثبات یک ادعا در محاکم تجارتی کدام نوع معین دلیل را بصراحت تخصیص داده باشد اثبات آن بانواع دیگر دلائلی صورت گرفته نمی‌تواند.

یوسلو اووه پنځوسمه ماده:
هغه مسایل چه ثبوت ئی د دواړو خواوو په اتفاق په معینو دلیلونومنل شوی وی د هغو د ثبوت دپاره نور دلیلونه منل کیدی

مادۀ (۱۵۷):
مسائلیکه اثبات آن بموجب موافقه تحریری قبلی طرفین ذریعۀ دلایل معین قبول شده باشد برای اثبات آن دلائل دیگر قبول شده

نشی خو پدی شرط چه د دواړو خواوو اتفاق د قانونی حکمونونه مخالف نه وی.

یوسلو اته پنځوسمه ماده:
په دی قانون کښی د جعلیت د ذکر شویو حکمونو له پاملرنی سره سم هغه دفعی چه په سند باندی مستندو دعوو په مقابل کښی مینځ ته راځی په کار دی چه په سند باندی مستند وی.

یوسلو نهه پنځوسمه ماده:
ددی لاندی حالتونو په هر صورت کښی شاهد وړاندی کیدی شی:
الف: په داسی معاملو کښی لکه اور لګیدل یا ټکر چه سند اخستل پکښی یا خو ناممکن او یا خو را ډیر ګران کار وی.
ب: په هغو چاروکښی چه د دواړو د ایجاب یا وضعیت له کبله پکښی د سند تیارول د عرف او چال چلند تقاضا نه وی.
ج: د جبر او حیلی د پیښیدو په حال کښی.

یوسلو شپیتمه ماده:
که چیری د یوی ناڅاپی پیښی، یا د جبر د سببونو یا دور کیدلو له کبله د یو سند له منځه تللو په باب نمی‌تواند. مشروط بر اینکه موافقه طرفین مخالف احکام قانونی نباشد .

مادۀ (۱۵۸):
با در نظر گرفتن احکام جعلیت مذکور این قانون مدافعاتی که در مقابل ادعای مستند به سند بعمل می آید باید مستند به سند باشد.

مادۀ (۱۵۹):
در حالات ذیل در هر صورت می‌توان شاهد اقامه کرد:
الف: در معاملاتی از قبیل حریق، تصادم که گرفتن سند غیر ممکن یافوق‌العاده مشکل باشد.
ب: اموریکه نظر با یجاب و یا وضعیت طرفین تنظیم سند در آن از اقتضاء و تعامل و عرف نباشد.
ج: در حال وقوع حیله و اکراه.

مادۀ (۱۶۰):
اگر دلایل وقراین قناعت بخشی در بارۀ ضایع شدن سند در اثر یک حادثه نا گهانی ویا اسباب

زړه منلـــی دلیلونـــه او قرینـــی موجودی وی نو په شاهدی باندی د دعوی اثبات کیدی شی.

یوسلو یوشپیتمه ماده:
هغه سندونه چه د داسی مقاماتو له خوا اصولا ترتیب او تصدیق کیږی چـه د قـانون لـه مخـی د هغـو د تیـارولو واک لـری نـو د تجـارتی محکمـو پـه وړاندی تر هغـه وختـه پـوری اعتبـار لـری چـه خـلاف ئـی ثابت شوی نـه وی خو کـه محکمـه ئی مشبوه وګڼی نو مثنی ئی پخپله لـه هغـه مقامـه چـه دائـی تیـار کړی دی رسماً راغواړی:
دغـه شـان کـه اشـتباه د سـند پـه تـصدیق کـښی موجـوده وی نـو محکمه ئی پخپله تصدیق رسماً لـه هغه مقامه راغوښتی شی چه دغـه تصدیق ئی کړی دی.

یوسلو دوه شپیتمه ماده:
هغه سندونه چه لـه افغانستانه بهر تیـار شـوی وی هلـه پـری اعتبـار کیدی شی چه د دوه دیرشمی مادی لـه حکمـه سـره سـم تیـار شـوی او تصدیق شوی وی.

مجبره ویا مفقود شدن سند موجود باشـد مـی‌تـوان ذریعـهٔ شـهادت دعوی را با ثبات رسانید.

مادهٔ (۱۶۱):
اسـناد یکـه از طـرف مقامـاتی‌کـه قانوناً صـلاحیت ترتیـب آنـرا دارنـد اصولاً ترتیب وتصدیق می‌شود نـزد محـاکم تجـارتی تـا وقتـی اعتبـار دارد کـه خـلاف آن باثبـات نـرسیده باشـد. ولـی اگـر محکمـه آنـرا مـشـبوه بدانـد مثنـی آنـرا رسـماً از مقـامی کـه آنـرا تـرتیب نمـوده راسـاً مـطالبه می‌نماید.
همـچـنان اگـراشتباه در تصدیق سند موجود باشد محکمـه می‌تواند تصدیق آنرا رسماً و راساً از مقـام تـصدیق کننـده بخواهد.

مادهٔ (۱۶۲):
اسـنادی‌کـه در خـارج افغانـستان ترتیـب شـده باشـد وقتـی مـدار اعتبـار شـمرده مـی‌شـود کـه طبـق حکم مـادهٔ (۳۲) ترتیـب یافتـه و بـه تصدیق رسیده باشد.

یوسلو دری شپیتمه ماده:
هغه غیر رسمی سندونه چه په محکمو کښی د هغو صحت منل کیږی د رسمی سند ماهیت مینده کوی.

مادهٔ (۱۶۳):
اسناد غیر رسمی که در محاکم به صحت آن اعتراف می‌شود ماهیت سند رسمی را حائز می گردد.

یوسلو څلور شپیتمه ماده:
د کرښونه بهر یا هغه عبارتونه چه په وهلو کرښو د پاسه لیکل شوی وی په متن کښی وی که په حاشیه کښی اعتبار نلری مگر هله چه دغه برخی ځانګړی صورت د سند ورکوونکی امضا کړی او تصدیق کړی وی او یا د محکمی په مخکښی امضا شی.

مادهٔ (۱۶۴):
برآمده گی ها و یا عباراتی‌که بالای خط گرفتگی ها در متن و یا حاشیه یک سند باشد اعتبار ندارد. مگر اینکه آن قسمت ها جداگانه به تصدیق و امضای سند دهنده رسیده باشد و یا در محضر محکمه برسد.

یوسلو پنځه شپیتمه ماده:
هغه عبارتونه چه د پو روال له پلوه د ټول یا ځینی پور د رسیدلو په باب لیکل کیږی هله اعتبار لری چه پو روال ئی صحت منی.

مادهٔ (۱۶۵):
عباراتیکه از طرف داین در روی و یا ظهر یک سند دائر به رسید کلی و یا قسمی دین تحریر می‌گردد در صورتی معتبر است که دائن به صحت آن معترف باشد.

یوسلو شپږشپیتمه ماده:
داسی غیر رسمی سندونه چه د دسوداګرو ترمنځ رواج وی او چال چلند پری کیږی په تجارتی محکمو کښی چلیږی.

مادهٔ (۱۶۶):
اسناد غیر رسمی که بین تجار معمول و مروج باشد نزد محاکم تجارتی مدار اعتبار است.

یوسلو اووه شپیتمه ماده:
د ټلګرام پانه چه څوپوړې ئی د اصل سره مخالفت ثابت نه شی، په تجارتی محکمو کښی اعتبار لری، که چېری ئی اختلاف لاره نو بیائی اصل چه لیږونکی امضاء کړی وی اعتبار لری خو هله نه! چه مقابل لوری دا ثابته کړی چه ټلګرام جعلی دی.

مادهٔ (۱۶۷):
ورقه تلگرام تا زمانیکه مخالف آن باصل باثبات نرسد نزد محاکم تجارتی اعتبار دارد در حال اختلاف اصل آن که از طرف فرستنده امضاء شده مدار اعتبار قرار داده می‌شود مگر اینکه طرف مقابل ثابت کند که تلگرام جعلی است.

یوسلو اته شپیتمه ماده:
د تجارتی دفترونو د محتویاتو اعتبار د تجارت د قانون سره سم محفوظ دی.

مادهٔ (۱۶۸):
اعتبار محتویات دفاتر تجارتی طبق احکام قانون تجارت محفوظ است.

یوسلو نهه شپیتمه ماده:
هغه خواچه اصل سندئی په رسمی مقاماتو کښی وی او په دغه وجه ئی له ښودلو عاجز وی د محکمی په واسطه ئی راغوښتلی شی، د هغه سند ضروری لګښت چه د کتلو او تطبیق دپاره محکمی ته راغوښتل کیږی په هغه چا دی چه په دغه سند تکیه کوی.

مادهٔ (۱۶۹):
طرفیکه اصل سند آن نزد مقامات رسمی بوده و از ارائه آن عاجز باشد می‌تواند توسط محکمه آنرا مطالبه کند. مصارف لازمه یک سندیکه بغرض ملاحظه و تطبیق به محکمه خواسته می‌شود بر عهده طرفی است که بر سند مذکور استناد نموده است.

یوسلو اویایمه ماده:
هغه خواچه په پردی ژبه یو سند محکمی ته ښیی، پدی مکلف دی تصدیق شوی ترجمه ور سره جوخته

مادهٔ (۱۷۰):
طرفیکه یک سندی به لسان اجنبی را به محکمه ارائه می‌نماید مکلف است که ترجمه مصدق آنرا نیز توأم

محکمی ته وړاندی کړی که چیری مقابل لوری یا محکمه په دغه ترجمه قناعت ونکړی نو رسماً د محکمی له خوا د سندوال په لګښت د هغه ترجمی ته اقدام کیږی.

سند به محکمه تقدیم کند در صورتی‌که ترجمه سند مذکور طرف قناعت جانب مقابل و یا محکمه واقع نگردد، رسماً از جانب محکمه به ترجمه آن به مصرف ارائه کننده مبادرت می‌شود.

یوسلو یو اویایمه ماده:

د ادعا خاوند په دی پړدی چه ددی لاندی سندونو تصدیق شوی نقل اویا ئی په هر هغه صورت چه د محکمی له پلوه امر وشی محکمی ته وښیی.

الف: هغه ټول سندونه چه پخپله دعوی کی ئی پری تکیه کړی وی.

ب: هغه پاڼی او تیلګرامونه چه ددعوی په موضوع پوری تعلق لری..

مادهٔ (۱۷۱):

ادعا کننده مکلف است نقل مصدق و یا در صورتی که از طرف محکمه امر شود اسناد ذیل را بمحکمه ارائه دهد:

الف: تمام اسنادی‌که در دعوی خود بآن استناد نموده است.

ب: اوراق و تلګرام هائیکه متعلق بموضوع دعوی باشد.

یوسلو دوه اویایمه:

په هغه صورت کښی چه د محکمی له پلوه امر وشی د تجارتی دفترونو او حسابو نو اصل او یا تصدیق شوی نقل راویستل هم ضروری دی.

مادهٔ (۱۷۲):

در صورتی‌که از طرف محکمه امر شود ابراز اصل و یا نقل مصدق دفاتر و حسابات تجارتی نیز لازم می‌باشد.

یوسلو دری اویایمه ماده:

هغه سندونه چه په محکمه کښی ښودل کیږی که مقابل لوری ئی

مادهٔ (۱۷۳):

اسنادیکه در محکمه ارائه می‌گردد اگر طرف مقابل ارائه

خپل سند ونیسی او د سند ښودن وال هغه نه بیرته اخستلی شی او نه محکمی نه دا غوښتنه کولای شی چه دغه سند داسی وګڼی چه هډوله سره نه ؤ.

یوسلو څلوراویایمه ماده:
په تجارتی حسابونو او دفترونو باندی غور د محکمی د مجلس په مخکښی کیږی که چیری لیکلی سندونه او تجارتی دفترونه د محکمی د قضائی وندې نه بهروی نو په هغوی باندی د (قضائی نیابت) په لارهم غور کیدی شی.

یوسلو پنځه اویایمه ماده:
محکمه کولی شی چه که و غواړی د حسابونو غور په پوهانو باندی وکړی.

یوسلو شپږ او یایمه ماده:
که چیری ښودل شوی سند په هغه چا پوری اړه نلری چه دده خلاف په هغه باندی تکیه شوی وی نو دغه سړی کولی شی چه رد ئی کړی خو په کار دی چه د سند ردول په هغه لومړی ځواب کښی چه د ښودل شوی سند په باب ورکول کیږی وشی.

کننده با آن استناد ورزد ارائه کنندۀ سند حق ندارد آنرا پس بگیرد و یا از محکمه مطالبه نماید که سند را کان لم یکن فرض کند.

مادۀ (۱۷۴):
رسیدگی بحساب و دفاتر تجارتی در حضور مجلس محکمه بعمل می آید در صورتی‌که اسناد کتبی و دفاتر تجارتی در محل خارج وندِ قضائی محکمه باشد و رسیدگی بآن از طریق «نیابت قضائی» نیز بعمل آمده می‌تواند.

مادۀ (۱۷۵):
محکمه می‌تواند رسیدگی بحسابات را در صورت لزوم توسط اهل خبره بعمل آورد.

مادۀ (۱۷۶):
اگر سند ارائه شده بشخصی‌که علیه او بر آن سند استناد شده منسوب نباشد شخص مذکور می‌تواند آنرا رد کند ولی رد سند باید در اولین جوابیکه نسبت به سند ارائه شده داده می‌شود بعمل آید.

یوسلو اووه اویایمه ماده:
د رد په مقابل کښی که د سند څښتن خپل سند د مقابل لوری په سلابیرته واخلی نو محکمه په دغه دعوی کښی چه غور کوی په دغه سند باندی تکیه نشی کولی، خو که د سند څښتن خپل سند بیرته وانخلی او سند په دعوی کښی تاثیر لری محکمه کولی شی چه ددغه سند له مخه غور وکړی.

یوسلو اته اویایمه ماده:
که چیری محکمه د تحقیقاتو په نتیجه کښی په منکرو پوری د سند په اړه لرلو فیصله وکړی نو منکر له زرنه تردوو زرو افغانیو پوری په نقدی جزا او همدغه شان که مقابل لوری ددعوی د ځنډیدو له کبله غوښتنه وکړی نو مقابل لوری ته د اووښتی تاوان په جبیره چه اندازه ئی محکمه ټاکی محکومیږی.

یوسلو نهه اویایمه ماده:
د دعوی د جریان په ټولو مرحلو کښی د سند د جعلیت ادعا کیدی شی که چیری د جعلیت ادعا د محاکمی د غونډی په وخت کښی

مادۀ (۱۷۷):
در برابر رد اگر صاحب سند سند خود را بموافقۀ طرف مقابل استرداد نماید محکمۀ دیگر نمی‌تواند در دعوی مورد رسیدگی به آن سند استناد نماید ولی هرگاه صاحب سند، سند خود را استرداد نکند و سند در دعوی مؤثر باشد محکمه میتواند باساس آن رسیدگی بعمل آورد.

مادۀ (۱۷۸):
در صورتی‌که در نتیجۀ تحقیقات محکمه راجع به منسوبیت یک سند بمنکر قرار صادر کند منکر از یکهزار الی دو هزار افغانی بجزای نقدی و همچنان درحال در خواست طرف نسبت به تاخیر دعوی بجبران خسارات وارده طرف مقابل که از جانب محکمه تشخیص میشود محکوم می‌گردد.

مادۀ (۱۷۹):
ادعای جعلیت اسناد را در تمام مراحل جریان دعوی می‌توان نمود هرگاه ادعای جعلیت در اثنای جلسه محاکمه

وشی او ضروری ده چه کیفیت ئی د دعوو ضبطولو په کتاب وخیژی او د ادعا په خاوند امضا کړی شی.

یوسلو اتیایمه ماده:
د جعلیت ددعوه وال د ادعا صورت د هغه مقابل لوری ته ابلاغیږی.
مقابل لوری په دی پړدی چه په لسو ورځو کښی یا خو داسی لیکلی ځواب ورکړی چه دغه سند بیرته اخلی او یا پری ودریږی.
د سند په بیرته اخستلو کښی د مقابل لوری منښت شرط دی.

یوسلو یواتیایمه ماده:
تش د سند بیرته اخیستل د هغه د جعلیت دلیل نه دی.

یوسلو دوه اتیایمه ماده:
که چیری د سند ښتټودن وال ستنډ بیرته واخلی او یا په تاکلی نېټه ځواب ور نه کړی نو محکمه به د یو سل یو اویایمی مادی د حکم له پاملرنی سره دغه سند ددلیلونو له منځه وباسی او که چیری د سند ښودن وال پخپل سند باندی ټینګ ودریږی نو د محکمی منشی به په دری ورځو کی د سند د جعلیت بعمل آید لازم است که چگونگی آن به کتاب ضبط دعوی قید و بامضای ادعا کننده برسد.

مادهٔ (۱۸۰):
صورت ادعای مدعی جعلیت بطرف مقابل او ابلاغ می‌گردد.
طرف مقابل مکلف است در ظرف ده روز تحریراً جواب بدهد که سند ارائه شده را مسترد می‌دارد و یا باستفاده از آن دوام می‌دهد.
څارنوال حق لري چې سندونه مطالعه او ضبط شوی شیان ووینی.

د فرجام غوښتنې پر غوښتنلیک غور کول

پنځه اویایمه ماده:

(۱) د سترې محکمې د اړوند دیوان قاضی د جلسې په پیل کې د قضیې بهیر په شفاهی توګه بیانوی او د مرافعه محکمې پر فیصلې د اعتراض موارد او د شکایت دلایل توضیح کوی.

فرجام غوښتونکی وروسته خپل اعتراض په شفاهی توګه وړاندې کوی، هغه نیوکې او اشتباه ګانې چې دده له نظره، په فیصله کې وجود لری او له قانون څخه سرغړونې چې صورت یې موندلی دی، بیانوی.

وروسته مقابل لوری د اعتراض په رد یا د مرافعه محکمې له فیصلې څخه په ملاتړ خپل دلایل وړاندې کوی.

(۲) د مباحثې په بهیر کې دسترې محکمې د اړوند دیوان رئیس او غړی، د موضوع د زیات وضاحت څارنوال حق دارند اسناد را مطالعه و اشیای ضبط شده را مشاهده نمایند.

رسیدګی به درخواست فرجام خواهی

مادۀ هفتاد وپنجم:

(۱) قاضی دیوان مربوط ستره محکمه در شروع جلسه جریان قضیه را به طور شفاهی بیان نموده و موارد اعتراض به فیصلۀ محکمۀ مرافعه و دلایل شکایت را توضیح می‌نماید.

فرجام خواه بعداً اعتراض خویش را به طور شفاهی ارائه نموده، انتقادات و اشتباهاتی‌که به نظر او در فیصله وجود دارد و تخلفاتیکه از قانون صورت گرفته است بیان می‌نماید.

متعاقباً جانب مقابل دلایل خویش را به رد اعتراض یا پشتیبانی از فیصلۀ محکمۀ مرافعه ارائه می‌نماید.

(۲) در جریان مباحثه رئیس و اعضای دیوان مربوط ستره محکمه به منظور وضاحت بیشتر

په منظور خپلې پوښتنې مطرح کولای شې.

ددې وان رئیس، قضائی جلسه د جلسې په پای کې پریږدی، د قضیې په هکله تصمیم نیسی، وروسته د دیوان رئیس قضائی جلسې ته مراجعه کوی او حکم لولی.

(۳) د دیوان رئیس کولای شې د فیصلې د صادرولو دلایل ولولی یا یې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر ته وسپاری.

موضوع سوالات خویش را مطرح نموده می‌توانند.

رئیس دیوان، جلسهٔ قضائی را در پایان جلسه ترک نموده، در مورد قضیه تصمیم اتخاذ می‌نماید. بعداً رئیس دیوان به جلسه قضائی مراجعه نموده و حکم را قرائت می‌نماید.

(۳) رئیس دیوان میتواند دلایل صدور فیصله را قرائت یا به دفتر تحریرات دیوان مربوط بسپارد.

د اعتراض ردول

شپږ اویایمه ماده:

ستره محکمه په لاندې حالاتو کې اعتراض ردوی او د مرافعه محکمې فیصله تائیدوی:

۱- په هغه صورت کې چې اعتراض په ټاکلی موده کې وړاندی شوی نه وی.

۲- په هغه صورت کې چې اعتراض په (۷۱) ماده کې په درج شوو قضیو پورې اړه ونلری.

۳- په هغه صورت کې چې اعتراض مؤجه ثابت نشی.

رد اعتراض

مادهٔ هفتاد و ششم:

ستره محکمه در حالات ذیل اعتراض را رد و فیصلهٔ محکمهٔ مرافعه را تائید می‌نماید:

۱- در صورتی‌که اعتراض در مدت معینه ارائه نشده باشد.

۲- در صورتی‌که اعتراض به قضایای مندرج مادهٔ (۷۱) ارتباط نداشته باشد.

۳- در صورتی‌که اعتراض مؤجه ثابت نشود.

د اعتراض وړ فیصلې تعدیلول اووه اویایمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې د مرافعه محکمې حکم د قانون په تطبیق یا تأویل کې په خطاء استناد بنا شوی وی، دغه امر فیصله نه باطلوی، پدې شرط چې د مرافعه محکمې په حکم کې پریکنده (قاطع) اغیزه ونلری. پدې حالت کې دستري محکمې اړوند دیوان فیصله اصلاح کوی او په هکله یې د فیصلې صادروونکې محکمې ته خبر ورکوی.

(۲) په هغه صورت کې چې په اعتراض وړ فیصله کې د جزاء اندازه او ډول په غلطه توګه درج شوی وی، دغه امر هم د فیصلې دبطلان موجب نه ګرځی، د ستري محکمې لخوا تصحیح کېږی.

(۳) دستري محکمې دیوان د اعتراض وړ فیصله په مستقیم ډول ولو که د معترض په اعتراضیه کې شامل نه وی کولای شی تصحیح کړی، پدې شرط چې قانونی احکام زیات د تورن په ګټه وی.

تعدیل فیصلهٔ مورد اعتراض مادهٔ هفتاد و هفتم:

(۱) در صورتی‌که حکم محکمهٔ مرافعه به استناد خطأ در تطبیق یا تأویل قانون بنأ یافته باشد، این امر منجر به بطلان فیصله نمی‌گردد، مشروط بر اینکه تأثیر قاطع در حکم محکمهٔ مرافعه نداشته باشد. در این حالت دیوان مربوط ستره محکمه فیصله را اصلاح نموده، در زمینه به محکمهٔ صادر کنندهٔ فیصله اطلاع می دهد.

(۲) در صورتی‌که در فیصلهٔ مورد اعتراض اندازه و نوع جزا طور غلط درج گردیده باشد، این امر نیز موجب بطلان فیصله نگردیده تصحیح توسط ستره محکمه صورت می‌گیرد.

(۳) دیوان ستره محکمه به شکل مستقیم فیصلهٔ مورد اعتراض را ولو که در اعتراضیهٔ معترض شامل نباشد، می‌تواند تصحیح نماید، مشروط بر اینکه احکام قانون بیشتر به نفع متهم باشد.

له ارجاع پرته ابطال

اته اویایمه ماده:

(۱) دستري محکمې دیوان د اعتراض وړ فیصله په لاندې حالاتو کې باطله اعلاموی:

۱- په هغه صورت کې چې تور د قانون د حکمونو مطابق جرم نه وی ګڼل شوی.

۲- په هغه صورت کې چې جرم تر مرور زمان لاندې راغلی وی.

۳- په هغه صورت کې چې قضیه په غیر قانونی توګه تعقیب شوې وی.

۴- په هغه صورت کې چې د نظر وړ فیصله د مرافعه محکمې د قانونی واک له حوزې څخه بهر وی.

۵- په هغه صورت کې چې حکم دبل شخص په مورد کې صادر شوی وی.

۶- په هغه صورت کې چې ثابته شی چې په عین قضیه کې د هغه شخص په برخه کې پخوا فیصله شوی وی.

۷- په هغه صورت کې چې دستري محکمې دیوان د قضیې ارجاع او

ابطال بدون ارجاع

مادۀ هفتاد و هشتم:

(۱) دیوان ستره محکمه فیصلۀ مورد اعتراض را در حالات ذیل باطل اعلام می‌دارد:

۱- در صورتی‌که اتهام مطابق احکام قانون جرم پنداشته نشده باشد.

۲- در صورتی‌که جرم تحت مرور زمان آمده باشد.

۳- در صورتی‌که قضیه طور غیر قانونی تعقیب گردیده باشد.

۴- در صورتی‌که فیصلۀ مورد نظر خارج حوزۀ صلاحیت قانونی محکمۀ مرافعه باشد.

۵- در صورتی‌که حکم در مورد شخص دیگری صادر شده باشد.

۶- در صورتی‌که ثابت شود که در عین قضیه در مورد آن شخص قبلاً فیصله صورت گرفته باشد.

۷- در صورتی‌که دیوان ستره محکمه ارجاع قضیه و یا تعدیل

یا یې تعدیل د موجودو سندونو په اساس غیر ضروری وګڼی.

مماثلې مرافعه محکمې ته ارجاع کول

نهه اویایمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې په راغلو قضیو کې په (۷۶، ۷۷ او ۷۸) مادو کې درج شوی شرایط موجود نه وی، د سترې محکمې اړوند دیوان فیصله نقض کوی، دوسیه د غور کولو په غرض مماثلې مرافعه محکمې او یا هماغې لومړۍ محکمې ته ارجاع کوی، پدې شرط چې لومړی فیصله کوونکی قاضیان د دوسیې په حل او فصل کې ګډون ونکړی.

(۲) دسترې محکمې اړوند دیوان مماثلې محکمې یا لومړۍ محکمې ته د دوسیې د ارجاع په ترڅ کې لازمه لارښوونه صادروی چې په بیا غورکولو کې د رعایت وړ وی.

(۳) د مرافعه محکمې فیصله د (۷۱) مادې د حکمونو مطابق د اعتراض وړ ګرځیدلی شی.

آن را به اساس اسناد موجود غیر ضروری تلقی نماید.

ارجاع به محکمهٔ مرافعهٔ مماثل

مادهٔ هفتاد و نهم:

(۱) در صورتی‌که شرائط مندرج مواد (۷۶، ۷۷ و ۷۸) در قضایای وارده موجود نباشد، دیوان مربوط ستره محکمه فیصله را نقض نموده، دوسیه را غرض رسیدگی به محکمهٔ مرافعهٔ مماثل و یا همان محکمهٔ مرافعهٔ اولی ارجاع می‌نماید، مشروط بر اینکه قضات فیصله کنندهٔ اولی در حل و فصل دوسیه اشتراک ننمایند.

(۲) دیوان مربوط ستره محکمه حین ارجاع دوسیه به محکمهٔ مماثل یا محکمهٔ مرافعه اولی هدایت لازم را صادر می‌نماید که در رسیدگی مجدد قابل رعایت می‌باشد.

(۳) فیصلهٔ محکمهٔ مرافعه مطابق احکام مادهٔ (۷۱) می‌تواند مورد اعتراض قرار گیرد.

د فیصلې په صادرولو کې د ستړې محکمې واک

اتیایمه ماده:

ستره محکمه واک لري د اعتراض وړ فیصله کلاً یا قسماً نقض کړی.

صلاحیت ستره محکمه در صدور فیصله

مادۀ هشتادم:

ستره محکمه صلاحیت دارد فیصلۀ مورد اعتراض را کلاً و یا قسماً نقض نماید.

یوولسم فصل

د محکمو پر وروستنۍ فیصله باندې نوې کتنه (تجدید نظر)

فصل یازدهم

تجدید نظر بر فیصله نهائی محاکم

پر فیصلې باندې نوې کتنه

یو اتیایمه ماده:

د محکوم علیه د منفعت لپاره د جنحې او جنایت په قضیو کې په وروستنیو فیصلو باندې نوې کتنه په لاندې حالاتو کې صورت مونډلای شی:

۱- که هغه حقایق چې حکم د هغو پر بنسټ ولاړ وی له هغو حقایقو سره چې په بله وروستنۍ فیصله کې وجود لری مطابقت ونلری.

۲- په داسې حالت کې چې جزائی حکم، دیوې مدنی محکمې پر یوه صادره حکم باندې ولاړ وی او د نومورې مدنی محکمې حکم لغوه شې.

تجدید نظر بر فیصله

مادۀ هشتاد و یکم:

در احوال ذیل مطالبۀ تجدید نظر بر فیصله های نهائی در قضایای جنحه و جنایت جهت منفعت محکوم علیه صورت گرفته می‌تواند:

۱- اگر حقایقی‌که به اساس آن حکم استوار باشد با حقایقیکه در فیصلۀ نهائی دیگر وجود دارد، مطابقت نداشته باشد.

۲- در حالتی‌که حکم جزائی بر یک حکم صادره از یک محکمۀ مدنی بناء یافته باشد و حکم محکمۀ مدنی مذکور ملغی شود.

۳- په داسې حالت کې چې له حکم وروسته داسې پیښې را منځته یا ښکاره شې یا داسې پاڼې وړاندې شی چې د محاکمې په وخت کې معلومې نه وی او ممکنه ده دغه پیښې یا پاڼې د محکوم علیه برائت ثابت کړی.

۴- په داسې حالت کې چې د شاهدانو یا اهل خبره د زور (درواغو) شاهدی، مستند تزویر یا ځینی غیر قانونی اعمال څرګند شی، محکمه د هغو په هکله وروستنۍ فیصله صادروی.

۵- په داسې حالت کې چې تورن د قتل په جرم کې محکوم علیه واقع شی، داسې نوی دلالت کوونکی عناصر رامنځ ته شی چې د شخص د قتل نه پیښیدل ثابت کړی.

۶- که حکم د بهیر (جریان) په پای کې د تورن له رسمی خبرتیا پرته صادر شی یا دا چې د محاکمې په بهیر کې ده ته د حاضریدو حق ور نکړای شی چې په نتیجه کې یې د مدافع وکیل د ټاکلو له حق څخه محروم شې یا دا چې د محکوم علیه د نه حاضریدو علت په روښانه او ریښتینی صورت معلوم

۳- در حالتی که بعد از حکم وقایعی حادث یا ظاهر شود یا اوراقی تقدیم گردد که در وقت محاکمه معلوم نبوده و ممکن است این واقعه یا اوراق، برائت محکوم علیه را ثابت سازد.

۴- در حالتی‌که شهادت زور(دروغ)، تزویر مستند و یا بعضی اعمال غیر قانونی شهود یا اهل خبره ظاهر گردد، محکمه فیصلهٔ نهائی را در مورد شان صادر می‌کند.

۵- در حالتی که متهم در جرم قتل محکوم علیه قرار گیرد، عناصر جدید دلالت کننده رخ بدهد که عدم وقوع قتل شخص راثابت نماید.

۶- اگر حکم در ختم جریان بدون آگاهی رسمی متهم صادر یا اینکه در جریان محاکمه حق حاضر شدن به وی داده نشده که در نتیجهٔ آن از حق انتخاب وکیل مدافع محروم گردیده و یا اینکه علت عدم حضور محکوم علیه بصورت روشن و واقعی معلوم نبوده و یا اینکه

نه وی او یا دا چې محکمه دغه امر ته نه وی متوجه شوې.

محکمه به این امر متوجه نگردیده باشد.

د نوې کتنې حق

دوه اتیایمه ماده:

څارنوال او محکوم علیه یا مدافع وکیل، نږدې خپلوان یا د هغه وارثان حق لری د محکوم پر وروستنیو فیصلو د نوې کتنې غوښتنه وکړی، په هر صورت د نوې کتنې په غوښتنه د محکوم علیه د موافقې اخیستل اړین (ضروری) ګڼل کېږی. مګر دا چې د محکمې په وړاندې ثابته شی چې محکوم علیه د قانونی اهلیت نه لرونکی دی، پدې صورت کې مدافع وکیل، نږدې خپلوان یا وارثان یې کولای شی د محکوم علیه له موافقې پرته د نوې کتنې غوښتنه وکړی.

حق تجدید نظر

مادۀ هشتاد و دوم:

څارنوال و محکوم علیه یا وکیل مدافع، اقارب نزدیک یا وارثین وی حق دارند بر فیصلۀ نهائی محاکم تقاضای تجدید نظر نمایند. به هر صورت اخذ موافقۀ محکوم علیه بر تقاضای تجدید نظر ضروری پنداشته می‌شود. مگر اینکه نزد محکمه ثابت شود که محکوم علیه فاقد اهلیت قانونی می‌باشد، در این صورت وکیل مدافع، اقارب نزدیک و یا وارثین می‌توانند بدون موافقه محکوم علیه تقاضای تجدید نظر نمایند.

د نوې کتنې اجراآت

درې اتیایمه ماده:

(۱) د نوې کتنې غوښتنلیک له هغو سندونو سره یو ځای چې د نوې کتنې غوښتنه پرې درول (استناد) شوېده، سترې محکمې ته وړاندې کېږی.

اجراآت تجدیدنظر

مادۀ هشتاد و سوم:

(۱) درخواست تجدید نظر توأم با اسنادیکه مطالبۀ تجدید نظر به آن استناد گردیده، به مقام سترۀ محکمه تقدیم می‌گردد.

(۲) د اعدام د حکم په استثناد نوی کتنې غوښتنلیک د اعتراض وړ فیصلې د تطبیق خنډ نه ګرځی.

(۳) د نوې کتنې غوښتنلیک دسترې محکمې له یوه قاضی او د مرافعه محکمې له دوو قاضیانو څخه د جوړ هیئت لخوا چې دسترې محکمې د رئیس له لوری ټاکل کېږی، ارزول کېږی او تر غور لاندې نیول کېږی. لوی څارنوال د نوې کتنې د غوښتنلیک په هکله خپل نظر بیانوی.

(۴) په هغه صورت کې چې هیئت د نوې کتنې غوښتنلیک مؤجه وګڼی، غوښتنلیک له اړوندې دوسیې سره یو ځای سترې محکمې ته وړاندې کوی پرته لدې هیئت نومورې غوښتنلیک ردوی. دغه تصمیم د اعتراض وړندی.

(۵) په هغه صورت کې چې د نوې کتنې غوښتنلیک او اړونده دوسیه یې سترې محکمې ته ورسیږی، ستره محکمه د قضیې د غور کولو نېټه ټاکی او د جلسې له پیل څخه لږترلږ پنځه ورځې د مخه، هغه معترض او لوی څارنوال ته

(۲) به استثنای حکم اعدام، درخواست تجدید نظر مانع تطبیق فیصلهٔ مورد اعتراض نمی‌گردد.

(۳) در خواست تجدید نظر توسط هیئت مرکب از یک قاضی ستره محکمه و دو قاضی محکمهٔ مرافعه که از طرف رئیس ستره محکمه تعیین می‌گردند، ارزیابی و مورد رسیدگی قرار می‌گیرد. لوی څارنوال نظر خویش را در مورد درخواست تجدید نظر اظهار می‌دارد.

(۴) درصورتی‌که هیئت، درخواست تجدیدنظررا مؤجه تلقی نماید درخواست را همراه با دوسیه مربوط به ستره محکمه تقدیم می‌نماید، در غیر آن هیئت درخواست مذکور را رد می‌نماید. این تصمیم قابل اعتراض نمی باشد.

(۵) در صورتی‌که درخواست تجدید نظر و دوسیه مربوط آن به ستره محکمه مواصلت نماید، ستره محکمه تاریخ رسیدگی قضیه را تعیین و حداقل پنج روز قبل از شروع جلسه، آنرا به معترض و لوی

ابلاغوی.
څارنوال او محکوم علیه او یا مدافع وکیل حق لری، د قضیې د غور کولو په جلسه کې د نوې کتنې په هکله خپلې نظریې بیان کړی.
(۶) په هغه صورت کې چې محکمه د معترض د نوې کتنې غوښتنه تائید او شکایت ثابت شی، حکم باطلوی او د هغه برائت اعلاموی.
(۷) په هغه صورت کې چې د نوې کتنې غوښتنلیک د سترې محکمې په وړاندې بی ځایه ثابت شی، هغه ردوی.
(۸) په هغه صورت کې چې دسترې محکمې په وړاندې ثابته شی چې د نوې کتنې غوښتنلیک زیاتې ارزونې ته اړتیا لری دوسیه له لازمې لارښوونې سره یوځای مماثلې محکمې یا هغې محکمې ته چې فیصله یې د اعتراض وړګرځیدلې ده ارجاع کوی، پدې شرط چې قاضیان یې هغه پخوانی (لومړی) قاضیان نه وی کوم چې حکم یې صادر کړی دی.
(۹) د نوې کتنې وړ قضیې غور، د څارنوال ابلاغ می‌نماید.
څارنوال و محکوم علیه و یا وکیل مدافع حق دارند نظریات شانرا در جلسهٔ رسیدگی قضیه در مورد تجدید نظر ابراز نمایند.
(۶) در صورتی‌که محکمه، مطالبهٔ تجدید نظر معترض را تائید و شکایت ثابت گردد، حکم را باطل و برائت وی را اعلام میدارد.
(۷) در صورتی‌که نزد ستره محکمه در خواست تجدید نظر بی مورد ثابت گردد، آنرا رد می‌نماید.
(۸) در صورتی‌که نزد ستره محکمه ثابت گردد که درخواست تجدید نظر به ارزیابی بیشتر ضرورت دارد، دوسیه را توأم با هدایت لازم به محکمهٔ مماثل و یا محکمه ایکه فیصلهٔ آن مورد اعتراض قرار گرفته است ارجاع می‌نماید، مشروط بر این‌که قضات آن غیر از قضات اولی باشند که حکم را صادر نموده اند.
(۹) رسیدگی به قضیهٔ مورد

دعـواوو د اوریـدلو لپـاره د مرعـی الاجـراء قواعـدو مطـابق صـورت مـومی او شـوې فیـصله د پخـوانۍ فیصلې ځای نیسی، هغه اعتـراض چې پر لـومړۍ فیـصلې مجـاز دی پـر وروسـتنۍ فیـصله هـم مجـاز دی.

(۱۰) پـه هغـه صـورت کـې چـې محکـوم علیـه د نـوې کتنـې پـر بنـسټ برائـت حاصـل کـړی، لـه پخوانیـو (لومړنیـو) قاضـیانو پرتـه جـوړه شـوې محکمـه، د اجراآتـو د لګښتونو او نـورو هغـو لګښتونو داعادې حکم چې محکوم علیـه د مخکینی حکم په پایله کې د هغو پـه ورکولـو مکلـف شـوی دی، صادروی.

د محکوم علیه د مړینې په صورت کـې لګښتونه د هغـه ورثـی تـه ورکول کېږی.

(۱۱) پـه هغـه صـورت کـې چـې د نـوې کتنـې غوښـتنلیک رد شـی، محکـوم علیـه نـشی کـولای د عـین مخکینیـو دلایلـو پـر بنـسټ بیـا د نوې کتنې غوښتنه وکړی.

تجدید نظر مطابق قواعد مرعی الاجرأ برای استماع دعاوی صورت گرفتـه و فیـصله اتخـاذ شـده جانـشین فیـصلۀ قبلـی مـی‌گـردد. اعتراضی که بر فیصلۀ اولی مجاز بـوده بـر فیـصلۀ اخـیر نیـز مجـاز می‌باشد.

(۱۰) در صورتی‌که محکوم علیه بـه اسـاس تجـدید نظـر برائت حاصـل نمایـد، محکـمه متـشکل از غیـر قـضات اولـی، حکم اعـادۀ مـصارف اجـراآت و سـایر مصـارفـی را کـه محکوم عـلیه بـه پـرداخت آن در نتیـجـۀ حکم قبلی مکـلف گـردیـده اسـت، صادرمی‌نماید.

در صـورت وفـات محکـوم علیـه مـصـارف بـه ورثـۀ وی پرداختـه می‌شود.

(۱۱) در صـورتی کـه در خواسـت تجـدیـد نظـر رد گردد، محکوم علیـه نمیتوانـد مجدداً بـه اسـاس عیـن دلایـل قبلی تقاضـای تجدید نظر نماید.

دولسم فصل
د محکمو د وروستنیو (نهایی) فیصلو تطبیق

د فیصلو تطبیق
څلور اتیایمه ماده:
د محکمو د وروستنیو فیصلو تطبیق، د (۸) مادې د (۴) فقرې د حکم مطابق، د څارنوال له دندو څخه دی.

د حبس د جزاګانو تطبیق
پنځه اتیایمه ماده:
(۱) څارنوال واک لري، د محکوم علیه د نیونې او حبس حکم چې پخوا نه وی توقیف شوی، د محل پولیسو ته صادر کړی.
(۲) که چېرې د محکوم علیه استوګنه د سیمې د پولیسو د واک له حوزې څخه بهر وی، د پولیسو آمر صادر شوی دستور د اړوندې سیمې د پولیسو واکمن آمر ته ور استوی، همغه څارنوال کولای شي دستور مستقیماً نومورې آمر ته واستوی.
(۳) که چېرې محکوم علیه مخکې

فصل دوازدهم
تطبیق فیصله های نهائی محاکم

تطبیق فیصله ها
مادۀ هشتادوچهارم:
تطبیق فیصله های نهائی محاکم مطابق حکم فقرۀ (۴) مادۀ (۸) از وظایف څارنوال می‌باشد.

تطبیق مجازات حبس
مادۀ هشتادو پنجم:
(۱) څارنوال صلاحیت دارد، امر گرفتاری و حبس محکوم علیه را که قبلاً توقیف نشده باشد، به پولیس محل صادر نماید.
(۲) هرگاه سکونت محکوم علیه خارج از حوزۀ صلاحیت پولیس محل باشد، آمر پولیس دستور صادره را به آمر پولیس ذیصلاح محل مربوط ارسال می‌نماید. همان څارنوال می‌تواند دستور را مستقیماً به آمر متذکره بفرستد.
(۳) هرگاه محکوم علیه قبلاً در

په توقیف کې وی، څارنوال مکلف دی د عدلیې وزارت د حکم د تطبیق د غوښتنې په هکله خبر کړی. دغه خبرتیا د شخص پر پیژندنه او نورو خصوصیاتو، د قضائی فیصلې او ټاکل شوې جزاء په ذکر کولو مشتمله ده.

د حبس د بدیل جزأګانو تطبیقول شپږاتیایمه ماده:

(۱) څارنوال واک لری د حبس د بدیل جزأګانو د تطبیق امر، د (۸۵) مادې د (۲) فقرې حکمونو ته په پام سره، دسیمی د پولیسو آمر ته صادر کړی.

(۲) پولیس مکلف دی وخت په وخت د محکوم علیه کړنه (عمل) وڅاری او رپوټ یې اړوند څارنوال ته ورکړی.

(۳) په هغه صورت کې چې محکوم علیه د محکمې د دستورونو په خلاف عمل کړی وی، څارنوال موضوع اړوندې محکمې ته خبر ورکوی. محکمه کولای شی نیول شوی تجویز لغوه او د حکم شوی حبس استمرار یې په ځای و دروی.

تـوقـیف باشد، څـارنوال مکـلف اسـت وزارت عدلیـه را در مـورد تقاضای تطبیق حکم با خبر سازد. ایـن اطلاعیـه مـشتمل بـر هویت و سـایر خـصوصیات شـخص، تـذکر فیصلهٔ قضائی و جزای تعیین شده می‌باشد.

تطبیق مجازات بدیل حبس مادهٔ هشتاد و ششم:

(۱) څـارنوال صـلاحیت دارد امـر تطبیـق مجـازات بـدیل حبس را بـا نظر داشت احکـام فقرهٔ (۲) مـادهٔ (۸۵) بـه آمـر پـولیس محـل صـادر نماید.

(۲) پـولیس مکلـف اسـت وقتـاً فوقتـاً از عملکـرد محکـوم علیـه نظـارت نمـوده، گـزارش آن را بـه څارنوال مربوط ارائه نماید.

(۳) در صـورتی‌کـه محکـوم علیـه مخـالف دسـاتیر محکمـه عمـل نمـوده باشد، څـارنوال موضـوع را به محکمهٔ مربوط اطـلاع میدهد. محـکمه مـی‌تـواند تـجویز اتخـاذ شـده را لغـو و اسـتمرار حـبس حکـم شـده را جـاگزین آن نماید.

د نقدی جریمو تطبیق

اووه اتیایمه ماده:

(۱) څارنوال کولای شی د جریمی د تطبیق دستور د عدلیې وزارت ته وسپاری.

(۲) د عدلیې وزارت مستقیماً یا له مالی دایرو څخه د همکاری د غوښتنې په اساس کولای شی ذکر شوې پیسی چې د مالیی وزارت ته تسلیمیږی، را ټولې کړی.

د شیانو د مصادرې د فیصلې تطبیق

اته اتیایمه ماده:

(۱) څارنوال د محکوم علیه د شیانو او شتمنی د مصادرې امر دسیمی د پولیسو آمرته چې شیان او شتمنی هلته موقعیت لری صادروی. په دغه امر کې د نومورو شیانو او شتمنی د نښو او مشخصاتو د تثبیت لپاره ضروری یاد دښتونه شامل دی.

(۲) د شیانو او شتمنی د مصادرې حکم د پولیسو په واسطه تطبیقیږی.

تطبیق جرایم نقدی

مادهٔ هشتاد و هفتم:

(۱) څارنوال می‌تواند دستور تطبیق جریمه را به وزارت عدلیه بسپارد.

(۲) وزارت عدلیه مستقیماً یا به اساس تقاضای همکاری از نهادهای مالی می‌تواند مبالغ ذکر شده که تسلیم وزارت مالیه می‌گردد جمع آوری نماید.

تطبیق فیصله مبنی بر مصادره اشیاء

مادهٔ هشتاد و هشتم:

(۱) څارنوال امر مصادرهٔ اشیاء و دارائی محکوم علیه را به آمر پولیس محل که اشیاء و دارائی در آن موقعیت دارد، صادر می‌نماید. این امر مشتمل بر یادداشت های ضروری برای تثبیت علایم و مشخصات اشیاء و دارائی متذکره می‌باشد.

(۲) حکم مصادرهٔ اشیاء و دارائی توسط پولیس تطبیق می‌گردد.

د تنفیذ لپاره خاص حکمونه

نهه اتیایمه ماده:

(۱) له وروستنۍ فیصلې د مخه د نیونی یا د مجازاتو د بدیل موده، د حبس له مودې څخه کمیږی.

(۲) په هغه صورت کې چې د حبس حکم پر هغې ښځې باندی چې شپږ میاشتنۍ امیند واره وی، صادر شوی وی، څارنوال باید د حکم تطبیق، د حمل له وضع وروسته تر څلورو میاشتو پورې وځنډوی.

(۳) په هغه صورت کې چې محکوم علیه په روانی ناروغیو اخته شی، څارنوال باید د امر تطبیق د هغه د روغتیا تربیرته راګرځیدو پورې وځنډوی او لازښوونه وکړی څو هغه د معالجې او درملنې لپاره روغتون ته ولیږدوی د درملنې موده د محکوم بها د حبس له مودې څخه کمیږی.

(۴) په هغه صورت کې چې محکوم علیه په صعب العلاج ناروغیو باندی اخته وی او په محبس کې د حبس د جزا تیرول د هغه روغتیا ته په زیان تمام شی، د مؤظف طبی کمیسیون د وړاندیز

احکام خاص برای تنفیذ

مادۀ هشتاد و نهم:

(۱) مدت گرفتاری قبل از فیصلۀ نهائی از مدت حبس یا بدیل مجازات کاسته می‌شود.

(۲) در صورتی‌که حکم حبس بالای زنی‌که شش ماه حامله بوده، صادر گردیده باشد، څارنوال باید تطبیق حکم را الی مدت چهارماه بعد از وضع حمل به تعویق اندازد.

(۳) در صورتی‌که محکوم علیه به امراض روانی مصاب گردد، څارنوال باید امر تطبیق حکم را الی اعادۀ صحت اش متوقف و هدایت دهد تا ویرا به شفاخانه جهت معالجه و تداوی انتقال نماید، مدت معالجه و تداوی از مدت حبس محکوم بها کاسته می‌شود.

(۴) در صورتی‌که محکوم علیه به امراض صعب العلاج مصاب بوده و سپری نمودن مجازات حبس در محبس برای صحت وی زیانمند تمام شود، به اساس پیشنهاد کمیسیون طبی مؤظف، څارنوال

په اساس څارنوال باید، د حکم تطبیق ودروی، په هغه صورت کې چې د یاد شوی شخص روغتیا اعادهٔ شی، حکم په حبس بی له ځنډه تطبیقیږی، د معالجی موده د محکوم بها د حبس له مودې څخه نه کمیږی.

(۵) په هغه صورت کې چې ښځه او میړه په یوه وخت د واحدو او یا جلا جلا جرمونو په ارتکاب له یوه کال څخه په لږ حبس محکوم شوې وی څارنوال باید دهغوی د یوه د حبس حکم و ځنډوی، پدې شرط چې خوشې شوی، متکرر مجرم نه وی او دهغه ماشوم د سرپرستۍ مسئولیت چې له پنځلسو کلونو څخه لږ عمر ولری، ورپه غاړه وی، د حبس حکم هغه وخت تطبیقیږی چې ماشوم د پنځلس کلنۍ سن ته ورسیږی.

باید تطبیق حکم را متوقف نماید.

در صورتی‌که صحت شخص یاد شده اعادهٔ گردد، حکم به حبس بلافاصله تطبیق می‌گردد.

مدت معالجه از مدت حبس محکوم بها کاسته نمی شود.

(۵) در صورتی‌که زن و شوهر همزمان به ارتکاب جرایم واحد یا جداگانه به حبس کمتر از یکسال محکوم گردیده باشند، څارنوال باید حکم حبس یکی از آنها را به تعویق اندازد، مشروط بر اینکه رها شونده مجرم متکرر نبوده و مسئولیت سرپرستی طفلی را که عمر آن کمتر از پانزده سال بوده بدوش داشته باشد، حکم حبس زمانی تطبیق می‌گردد که طفل به سن پانزده سالگی برسد.

دیار لسم فصل
مشروطه خلاصېدنه

تعریف
نوی یمه ماده:

مشروط خلاصون د محکوم علیه

فصل سیزدهم
رهائی مشروط

تعریف
مادهٔ نودم:

رهایی مشروط عبارت از تصمیم

د حبس د مودې له پای ته رسیدو د مخه چې ترخاصو شرایطو لاندې قرار لری د هغه د خلاصولو له تصمیم څخه عبارت دی، دغه موده دده د حبس د مودې معادل وی.

د مشروطه خلاصیدنې شرایط

یونوی یمه ماده:

(۱) مشروط خلاصیدنه هغه شخص ته ورکول کېږی چې دیوه یا له یوه څخه د زیاتو جرمونو په نتیجه کې حبس او د حبس څه موده یې تیره کړې وی او په محبس کې د اوسیدو په وخت کې یې سلوک او ناسته پاسته (روش) د هغه د ټولنیزو اخلاقو په اصلاح دلالت وکړی. دغه آسانتیا هغه شخص ته ورکول کېږی چې د محکوم بها د حبس د مودې درې پر څلورمه برخه یې بشپړه کړې، او یا لږ تر لږه (۹) میاشتې یې په محبس کې تیرې کړې وی، د دوام حبس د جزا په هکله دغه آسانتیا کولای شې هغه چاته ورکول شې چې د حبس (۱۵) کاله یې تیر کړی وی.

رهایی محکوم علیه قبل از ختم مدت حبس اش که تحت شرایط خاص قرار دارد، می‌باشد. این مدت معادل مدت حبس وی می‌باشد.

شرائط رهائی مشروط

مادۀ نود و یکم:

(۱) رهایی مشروط به شخصی اعطاء می‌شود که در نتیجۀ یک یا بیشتر از یک جرم محبوس و مدتی از حبس را سپری نموده و سلوک و روش او حین اقامت در محبس دلالت بر اصلاح اخلاق اجتماعی او نماید. این سهولت به شخصی اعطا می‌شود که سه چهارم مدت حبس محکوم بها را تکمیل و یا حداقل مدت (۹) ماه را در محبس سپری نموده باشد. در مورد جزای حبس دوام این سهولت می‌تواند به کسی اعطا شود که (۱۵) سال حبس را سپری نموده باشد.

(۲) د محکوم علیه مشروطی خلاصیدنې په برخه کې تصمیم، د محبس د آمر په وړاندې هغی واکمنې محکمې په واسطه چې محکوم علیه د هغې په قضایی وړې کې محبوس دی، نیول کېږی.

محکمه په خپل حکم کې هغه سلوک او کړنه چې محکوم علیه باید په راتلونکې کې هغه رعایت کړی، ذکر کوی.

(۳) پولیس مکلف دی د تر مشروطې خلاصیدنې لاندې محکوم علیه سلوک او کړنه وڅاری او وخت په وخت مربوط څارنوال ته رپوټ ورکړی.

(۲) تصمیم در مورد رهایی مشروط محکوم علیه به اساس پیشنهاد آمر محبس توسط محکمهٔ با صلاحیتی که محکوم علیه در حوزهٔ قضائی آن محبوس است، اتخاذ می‌گردد.

محکمه در حکم خویش سلوک و روشی را که محکوم علیه در آینده آن را رعایت کند، ذکر می‌نماید.

(۳) پولیس مکلف است روش و سلوک محکوم علیه تحت رهایی مشروط را مراقبت نموده، وقتاً فوقتاً به څارنوال مربوط گزارش دهد.

د مشروطې خلاصیدنې د حکم الغاء

دوه نوی یمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې تر مشروطې خلاصیدنې لاندې شخص د محکوم بها د مودې له تیریدو د مخه دبل جرم مرتکب شی او یا د مشروطې خلاصیدنې په حکم کې درج شوی شرایط نقض کړی، پدې حالت کې د مشروطې خلاصیدنې حکم لغوه

الغای حکم رهایی مشروط

مادهٔ نود و دوم:

(۱) در صورتی‌که شخص تحت رهایی مشروط قبل از انقضای میعاد محکوم بها مرتکب جرم دیگری شود و یا شرائط مندرج حکم رهایی مشروط را نقض نماید، در این حالت حکم رهایی مشروط لغو

کېږی.

(۲) د مشروطې خلاصیدنې د حکم د لغوې په صورت کې، د تر مشروطې خلاصیدنې لاندې نیمایی تیره شوې موده، د محکوم بها د حبس له مودې څخه کمیږی.

(۳) هغه محکمه چې د څارنوال د غوښتنې پر بنسټ د مشروطې خلاصیدنې حکم صادروی، د هغې د لغوې تصمیم هم نیسی.

اجراآت

دري نوی یمه ماده:

(۱) محکمه د محکوم علیه د مشروطې خلاصیدنې د حکم د صادرولو یا لغوې په برخه کې، د محکوم علیه او څارنوال د اظهاراتو له اوریدو وروسته تصمیم نیسی.

(۲) مخکې تر دې چې محکمه د مشروطې خلاصیدنې په برخه کې تصمیم ونیسی، د هغه محبس د آمر دلایل چې محکوم علیه پخوا په هغه کې د خپل حبس موده تیره کړې ده اوری.

می‌گردد.

(۲) در صورت لغو حکم رهایی مشروط، نصف مدت سپری شده تحت رهایی مشروط از مدت حبس محکوم بها کاسته می‌شود.

(۳) محکمه ایکه حکم رهایی مشروط را به اساس تقاضای څارنوال صادر می‌نماید تصمیم مبنی بر لغو آن را نیز اتخاذ می‌نماید.

اجراآت

مادۀ نود و سوم:

(۱) محکمه در مورد اصدار حکم رهایی مشروط محکوم علیه و یا لغو آن بعد از استماع اظهارات محکوم علیه و څارنوال تصمیم اتخاذ می‌نماید.

(۲) قبل از اینکه محکمه در مورد رهایی مشروط تصمیم اتخاذ نماید، دلایل آمر محبسی را که محکوم علیه قبلاً در آن میعاد حبس خود را سپری نموده است، استماع می‌نماید.

څوار لسم فصل
په تنفیذ کې ستونزې (اشکال)

واک او اجراآت
څلور نوی یمه ماده:

(۱) د (۸) مادې په (۴) فقره کې درج شوې محکمه واک لری، د محکوم علیه یا څارنوال د غوښتنې پربنسټ د حکم په تنفیذ کې ستونزې (اشکال) ترغورلاندې ونیسی.

(۲) په هغه صورت کې چې محکمه اشکال مؤجه ونه بولی، په هغو له غور کولو څخه ډډه کوی، پرته لدې د محکوم علیه یا څارنوال شکایت اوری، قانونی تصمیم نیسی او د وضع د سمون په غرض د محبس آمر ته لازمه لارښوونه صادروی.

(۳) فیصله محکوم علیه، څارنوال او د محبس آمر ته ابلاغیږی.

(۴) فیصله په هغه صورت کې د مرافعه طلبی وړ ګرځیدلای شی چې د بشر له حقوقو څخه سرغړونه شوې وی.

فصل چهاردهم
اشکال در تنفیذ

صلاحیت و اجراآت
مادۀ نود و چهارم:

(۱) محکمۀ مندرج فقرۀ (۴) مادۀ (۸) صلاحیت دارد به اساس تقاضای محکوم علیه یا څارنوال اشکال در تنفیذ حکم را بررسی نماید.

(۲) در صورتی‌که محکمه اشکال را مؤجه نداند، از بررسی آن خودداری می‌نماید، در غیر آن شکایت محکوم علیه یا څارنوال را استماع نموده، تصمیم قانونی اتخاذ و هدایت لازم را غرض بهبود وضع به آمر محبس صادر می‌نماید.

(۳) فیصله به محکوم علیه، څارنوال و آمر محبس ابلاغ می‌شود.

(۴) در صورتی فیصله مورد مرافعه خواهی قرار گرفته می‌تواند که تخطی شدیدی از حقوق بشر صورت گرفته باشد،

د ملکیتونو تنازع

پنځه نوی یمه ماده:

په هغه صورت کې چې جزائی محکمه ونشی کولای، د مصادره شوو شیانو یا شتمنۍ د ملکیت د تنازع موضوع، د موجودو سندونو او دلایلو پربنسټ حل کړی، موضوع د مدنی محکمې یا د سولی (صلحیه) جرګو په واسطه حل او فصل کېږی.

تنازع ملیکت ها

مادۀ نود و پنجم:

در صورتی‌که محکمۀ جزائی نتواند موضوع تنازع ملکیت اشیاء یا دارائی مصادره شده را به اساس اسناد و دلایل موجود حل نماید، موضوع توسط محکمۀ مدنی یا جرگه های صلحیه حل و فصل می‌گردد.

پنځلسم فصل
متفرقه حکمونه

فصل پانزدهم
احکام متفرقه

مؤقت مدافع وکیل

شپږ نوی یمه ماده:

له کومه ځایه چې اوس په هېواد کې کافی مدافع وکیلان وجود نلری او همغه شان چې په (۱۸) ماده کې ذکر شوېدی، تورن یا مظنون کولای شی تحصیل یافته اشخاصو ته چې په حقوقی قضیو کې عالمان وی مراجعه وکړی.

پدې منظور د هرې محکمې رئیس د شرایطو واجد اشخاصو لست چې په مرکز کې د عدلیې وزارت

وکیل مدافع مؤقت

مادۀ نود و ششم:

از آن جائی‌که در حال حاضر در کشور وکلای مدافع به تعداد کافی وجود ندارند و همان طوری‌که در مادۀ (۱۸) ذکر شده است، متهم یا مظنون می‌توانند به اشخاص تحصیل یافته که به قضایای حقوقی عالم باشند، مراجعه نمایند.

به این منظور رئیس هر محکمه لست اشخاص واجد شرایط را که در مرکز از طرف وزارت عدلیه و

او په ولایتونو کې د دولت د قضایاوو د ادارو لخوا مرافعه محکمو ته معرفی کېږی، ترتیبوی.

د محکمو نه لرونکې ولسوالۍ ګانې:

اووه نوی یمه ماده:

په هغه صورت کې چې په ځینو ولسوالیو کې د مختلفو عواملو له املـه محکمې فعالې نه وی، د مرکز ابتدائیه محکمه ټول هغه جرمونه چې د نوموړې ولسوالۍ د واک په وند کې ارتکاب کېږی، ترغور لاندې نیسی.

د انفاذ نېټه او موده یې

اته نوی یمه ماده:

(۱) دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمی جریده کې خپریږی.

(۲) دغه قانون د جزائی اجراآتو د قانون د وضع کیدو تر وخته چې د منتخبې ملی شوری لخوا تصویبیږی، د اجراء وړ دی مګر دا چې ملی شوری ددې قانون یا یې داصلاح په برخه کې تصمیم ونیسی.

در ولایات از طرف ادارات قضایای دولت به محاکم مرافعه معرفی می‌شوند، ترتیب می‌نماید.

ولسوالی های بدون محاکم:

مادۀ نود و هفتم:

در صورتی‌که در بعضی ولسوالی ها محاکم نسبت عوامل مختلف فعال نباشد، محکمۀ ابتدائیه مرکز تمام جرایمی راکه در حوزۀ صلاحیت ولسوالی متذکره ارتکاب می‌گردد، رسیدگی می‌نماید.

تاریخ انفاذ و مدت آن

مادۀ نود و هشتم:

(۱) این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر می‌گردد.

(۲) این قانون تا وقت وضع قانون اجراآت جزایی که توسط شورای ملی منتخب تصویب می‌شود قابل اجراء بوده مگر این که شورای ملی در مورد این قانون یا اصلاح آن تصمیم اتخاذ نماید.

(۳) د دې قانون په نافذیدو سره د هغو قوانینو هر حکم چې ددې قانون د حکمونو متناقض وی لغوه ګڼل کېږی.

(۳) با انفاذ این قانون هر حکمی از احکام قوانینی که متناقض با حکمی از احکام این قانون باشد، ملغی شناخته می‌شود.

قانون اجرا آت جزائی محاکم عسکری

د افغانستان اسلامی جمهوریت

ګڼه: (۱۸۲۶۶)
نېټه: ۱۳۸۴/۱۰/۱۱

د عدلیې وزیر محترم سرور (دانش)!

د عسکری محکمو د جزایی اجراآتو قانون چې د وزیرانو د عالی مجلس لخوا په (۷) فصلونو او (۶۱) مادو کې تصویب او زمونږ لخوا د ۱۳۸۴/۹/۲۷ نېټې د (۱۱۴) ګڼې فرمان په ذریعه توشیح شوی دی، تاسو ته در واستول شو، څویې په رسمی جریده کې په خپرولو اقدام وکړی.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامی جمهوریت
رئیس

جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (۱۸۲۶۶)
تاریخ: ۱۳۸۴/۱۰/۱۱

محترم سرور (دانش) وزیر عدلیه!

قانون اجراآت جزائی محاکم عسکری که از طرف مجلس عالی وزراء به داخل (۷) فصل و (۶۱) ماده تصویب و از جانب ما ذریعهٔ فرمان شماره (۱۱۴) مؤرخ ۱۳۸۴/۹/۲۷ توشیح گردیده است، به شما ارسال شد تا به نشر آن در جریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د عسکری محکمو د جزایی اجراآتو دقانون د انفاذ په هکله، د افغانستان د اسلامی جمهوریت د رئیس فرمان

گڼه: (۱۱۴)
نېټه: ۱۳۸۴/۹/۲۷

لومړۍ ماده:
دعسکری محکمو د جزایی اجراآتو قانون چې د ۱۳۸۴/۹/۲۶ نېټې د (۳۴) گڼې مصوبې پربنسټ د وزیرانو د عالی مجلس لخوا پېښه (۷) فصلونو او (۶۱) مادوکې تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یو ځای دې په رسمی جریده کې خپور شی.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامی جمهوریت رئیس

فرمان
رئیس جمهور اسلامی افغانستان دربارهٔ انفاذ قانون اجراآت جزائی محاکم عسکری

شماره: (۱۱۴)
تاریخ: ۱۳۸۴/۹/۲۷

مادهٔ اول:
قانون اجراآت جزائی محاکم عسکری را که به اساس مصوبهٔ شماره(۳۴) مؤرخ ۱۳۸۴/۹/۲۶ از طرف مجلس عالی وزراء ، به داخل (۷) فصل و (۶۱) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

مادهٔ دوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

د عسکری محکمو د جزایی اجراآتو قانون

لومړی فصل
عمومی حکمونه

مبنی
لومړی ماده:
دغه قانون، د افغانستان د اساسی قانون په یو سلو دوه ویشتمه او یو سلو څلور دېرشمه ماده کې د درج شویو حکمو له مخې، د وسله والو ځواکونو (ملی اردو) د عسکری منسوبینو د دنده ایزو جرمونو په کشف، تحقیق او څېړنې (رسیدګی) پورې د اړوندو اجراآتو د تنظیم په منظور، وضع شوی دی.

اصطلاحګانې
دوه یمه ماده:
(۱) دغه اصطلاحګانې په دې قانون کې لاندې معناوې افاده کوی:
۱- مظنون: هغهٔ شخص دی چې د کشف او تحقیق په هر یوهٔ پړاو کې د جرم ارتکاب هغهٔ ته نسبت ورکړل شی.

بسم الله الرحمن الرحیم

قانون اجراآت جزائی محاکم عسکری

فصل اول
احکام عمومی

مبنی
مادهٔ اول:
این قانون به تأسی از احکام مندرج مواد یکصدو بیست و دوم و یکصدو سی و چهارم قانون اساسی افغانستان بمنظور تنظیم اجراآت مربوط به کشف، تحقیق ورسیدگی جرایم وظیفوی منسوبین عسکری قوای مسلح (اردوی ملی) وضع گردیده است.

اصطلاحات
مادهٔ دوم:
(۱) اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می نماید:
۱- مظنون: شخصی است که در هر یك از مراحل کشف و تحقیق، ارتکاب جرم بوی نسبت داده می شود.

۲- تورن: هغه شخص دی چې د څارنوال لخوا د هغه پر ضد د محکمې په وړاندې د جزائی دعوی اقامې، صورت موندلی وی.
۳- حقوقی افسر: هغه افسر دی چې حقوقی تحصیلی سند ولري او د حقوقی دندو د ترسره کولو په منظور د وسله والو ځواکونو په جزوتامونو کې توظیفېږی.
۴- په دې قانون کې درج شوی نورې اصطلاحګانې د ۱۳۸۴/۸/۳۰ نېټې په (۸۶۶) ګڼه رسمی جریده کې خپاره شوی دعسکری محکمو په قانون کې د درج شویو اصطلاحګانو د معناوو لرونکې دی.
(۲) د وسله والو ځواکونو (ملی اردو) عسکری منسوبین لدې وروسته پدې قانون کې د عسکری منسوبینو په نامه یادېږی.

۲- متهم: شخص است که از طرف څارنوال علیه وی در پیشگاه محکمه، اقامهٔ دعوی جزائی صورت گرفته باشد.
۳- افسر حقوقی: افسری است که سند تحصیلی حقوقی داشته و غرض اجرای وظایف حقوقی در جزو تام های قوای مسلح توظیف می‌گردد.
۴- سایر اصطلاحات مندرج این قانون دارای معانی اصطلاحات مندرج قانون محاکم عسکری منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۸۶۶) مؤرخ ۱۳۸۴/۸/۳۰ می باشد.
(۲) منسوبین عسکری قوای مسلح (اردوی ملی) منبعد درین قانون بنام منسوبین عسکری یاد می شوند.

د قانون د تطبیق ساحه د اشخاصو له حیثه

درېیمه ماده:

د دې قانون حکمونه په لاندې اشخاصو باندې د تطبیق وړ دی:
۱- هغه شخص چې عسکری تحلیف یې پر ځای کړی وی.

ساحهٔ تطبیق قانون از حیث اشخاص

مادهٔ سوم:

احکام این قانون بالای اشخاص ذیل قابل تطبیق می باشد:
۱- شخصی‌که تحلیف عسکری را به جا نموده باشد.

۲- هغه شخص چې قانونی سن یې بشپړ کړی او په داوطلبانه توګه د وسله والو ځواکونو په لیکو کې شامل شوی وی.

۲- شخصی‌که سن قانونی را تکمیل و طور داوطلبانه شامل صفوف قوای مسلح گردیده باشد.

۳- هغه شخص چې د وسله والو ځواکونو بر حاله منسوب وی او د خدمت موده یې د قانون د حکمونو مطابق بشپړه شوې نه وې.

۳- شخصی‌که منسوب بر حال قوای مسلح بوده و میعاد خدمت وی طبق قانون تکمیل نگردیده باشد.

۴- هغه شخص چې د احتیاط د ځواکونو منسوب وی او د برحالۍ په وخت کې د جرمی عمل مرتکب شوی وی او دعسکری محکمې په واسطه د تحقیق او محاکمې د ترسره کیدو په خاطر، په اجباری صورت سره فعالې دندې ته احضاریږی.

۴- شخصی‌که منسوب قوت های احتیاط بوده و در زمان برحالی مرتکب عمل جرمی گردیده و بخاطر انجام تحقیقات و محاکمه توسط محکمۀ عسکری، به صورت اجباری به وظیفۀ فعال احضار می‌گردد.

۵- هغه شخص چې د تزویری سندونو څخه په ګټې اخستنې سره یې د وسله والو ځواکونو له صفونو څخه خپل انفکاك ترلاسه کړی وی.

۵- شخصی‌که با استفاده از اسناد تزویری انفکاك خود را از صفوف قوای مسلح حاصل نموده باشد.

۶- هغه شخص چې له وسله والو ځواکونو له لیکو څخه تښتېدلی وی او نیول شوی وی.

۶- شخصی‌که از صفوف قوای مسلح فرار نموده و گرفتار گردیده باشد.

۷- جنګی اسیران او هغه افراد چې د وسله والو ځواکونو تر نظارت لاندې وی او یا خپله د حبس موده د وسله والو ځواکونو په محبس کې

۷- اسرای جنگی و افرادیکه تحت نظارت قوای مسلح قرار داشته و یا مدت حبس خویش را در محبس قوای مسلح سپری

تېروی.

۸- هغه اشخاص چې د هېواد د نافذو قوانینو او نړیوالو تړونونو (پیمانونو) او موافقت لیکونو مطابق د هغوی د جرمی قضیو د څېړلو واك، عسکری محکمې ته سپارل شوی وی.

دقانون د تطبیق ساحه دمکان له حیثه

څلورمه ماده:

دغه قانون په ټولو سیمو کې پر عسکری منسوبینو باندې د تطبیق وړدی.

قضائی واك

پنځمه ماده:

(۱) د عسکری ابتدائیه او استیناف محکمې قضائی واك، د عسکری منسوبینو د دنده ایزو جزائی قضیو په څېړلو (رسیدګی) پورې منحصر دی. د عسکری منسوبینو او د ملکی اشخاصو د غیر دنده ایزو جرمونو څېړل د ملکی محکمو واك دی.

(۲) د ملی دفاع وزارت د ملکی کارکوونکو او د وسله والو ځواکونو د جزوتامنو د ملکی کارکوونکو د جزائی قضیو څېړل

می نمایند.

۸- اشخاصی‌که، صلاحیت رسیدگی قضایای جرمی آنها طبق قوانین نافذۀ کشور و پیمانها و موافقتنامه های بین المللی به محکمۀ عسکری تفویض شده باشد.

ساحۀ تطبیق قانون از حیث مکان

مادۀ چهارم:

این قانون در تمام مناطق بالای منسوبین عسکری قابل تطبیق می باشد.

صلاحیت قضائی

مادۀ پنجم:

(۱) صلاحیت قضائی محکمۀ ابتدائیه و استیناف عسکری منحصر به رسیدگی قضایای جزائی وظیفوی منسوبین عسکری می باشد. رسیدگی به جرایم غیر وظیفوی منسوبین عسکری و اشخاص ملکی از صلاحیت محاکم عادی می باشد.

(۲) رسیدگی به قضایای جزائی کارکنان ملکی وزارت دفاع ملی و جزو تام های قوای مسلح تابع قوانین

(رسیدګی) د ملکی قوانینو تابع دی او د اړوندو محکمو د قضائی واك په حوزه کې شامل دی، خو داچې په قانون کې بل ډول اتکل شوی وی.

(۳) عسکری محکمې، جرمی قضیې د دې قانون او دهیواد د نورو نافذو قوانینو د حکمونو پربنسټ تر څېړنې (رسیدګی) لاندې نیسی.

(۴) د هغو قضیو څېړل د عسکری محکمې په قضائی واك کې شامل دي چې په قضائی حوزې کې یې ارتکاب موندلی وی.

ملکی بوده، شامل حوزهٔ صلاحیت قضائی محاکم مربوط می باشد، مگر اینکه در قانون طور دیگری پیشبینی گردیده باشد.

(۳) محاکم عسکری، قضایای جرمی را به اساس احکام این قانون وسایر قوانین نافذهٔ کشور مورد رسیدگی قرار می دهند.

(۴) صلاحیت قضائی محکمهٔ عسکری شامل رسیدگی قضایائی می باشد که در حوزهٔ قضائی آن ارتکاب یافته باشد.

د نظارت او توقیف په وخت کې ببل ساتل

شپږمه ماده:

ددنده ایزو جرمونو په ارتکاب باندی مظنون یا تورن عسکری منسوبین، په عسکری جرمونو باندې له مظنونو یا تورنو کورنیو یا بهرنیو اشخاصو سره په یوهٔ ځای کې تر څارنې، توقیف او حبس لاندې نه نیول کیږی.

جدانگهداشتن هنگام نظارت و توقیف

مادهٔ ششم:

منسوبین عسکری مظنون یا متهم به ارتکاب جرایم وظیفوی با اشخاص داخلی و خارجی مظنون یا متهم به جرایم عسکری دریك محل تحت نظارت، توقیف و حبس قرار داده نمی شوند.

ملکی مقاماتو ته د تورن تسلیمول

اوومه ماده:

(۱) که چېرې عسکری منسوب په

تسلیم دهی متهم به مقامات ملکی

مادهٔ هفتم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری متهم

ملکی ساحه کې د غیر دنده ایزو جرمونو په ارتکاب تورن وی، د ملکی مقاماتو د غوښتنې پربنسټ، د محاکمې لپاره اړوندې مرجع ته تسلیمېږی.

(۲) که چېرې د عسکری محکمې لخوا په حبس محکوم شوی د ملکی مقاماتو ته تسلیم شی او دغه تسلیم ورکونه د ملکی محکمې په واسطه دهغه په محکومیت پایته ورسېږی، د حکم شوی حبس تنفیذ د عسکری محکمې لخوا غنډېږی او وروسته له هغې چې پر محکوم علیه باندې د ملکی محکمې حکم تطبیق شی، نومورې د وسله والو ځواکونو دمخکنی حبس د مودې د بشپړولو په منظور دوسله والو ځواکونو عسکری محبس ته لېږدول کېږی.

به ارتکاب جرایم غیر وظیفوی در ساحهٔ ملکی باشد، به اساس تقاضای مقامات ملکی، غرض محاکمه به مرجع مربوط تسلیم داده می‌شود.

(۲) هرگاه محکوم به حبس از جانب محکمهٔ عسکری بالاثر ارتکاب جرم به مقامات ملکی تسلیم داده شود و این تسلیم دهی منتج به محکومیت وی توسط محکمهٔ ملکی گردد، تنفیذ حبس حکم شده از جانب محکمهٔ عسکری معطل و بعد از اینکه حکم محکمهٔ ملکی بالای محکوم علیه تطبیق گردید، موصوف غرض تکمیل نمودن میعاد حبس قبلی به محبس قوای مسلح منتقل می گردد.

مؤقت دیوانونه

اتمه ماده:

په عسکری محکمو کې مؤقت دیوانونه عندالضرورت د جمهور رئیس په منظوری جوړیدای شی.

دیوانهای مؤقت

مادهٔ هشتم:

دیوانهای مؤقت در محاکم عسکری عندالضرورت به منظوری رئیس جمهور ایجاد شده میتواند.

د حکم لـه صـادرېدو دمخـه د مجازاتو ممنوعیت

نهمه ماده:

د وسله والـو ځواکونـو مقامـات او عـسکری منـسوبین نـشی کـولای هېڅ یو شخص د واکمنې محکمې د حکـم لـه صـادریدو د مخـه، مجـازات کـړی. د ترامـر لاتـدې عـسکری منـسوبینو پـه هکلـه د دسـپلینی مجـازاتو او احتیـاطی تـدبیرونو تطبیقـول لـدې امـر څخـه مستثنی دی.

ممنوعیت مجازات قبل از اصدار حکم

مادۀ نهم:

مقامـات و منـسوبین عـسکری نمـی تواننـد ، هـیچ شـخص را قبـل از اصـدار حکـم محکمـۀ ذیـصلاح مجـازات نماینـد . تطبیـق مجـازات دسـپلینی و تـدابیر احتیـاطی در مـورد منـسوبین عـسکری تحت امر از ایـن حـکم مـستثنی می باشد .

د بیا محاکمې ممنوعیت

لسمه ماده:

شخص دیوۀ جرمی عمل د ارتکاب په سبب دوه ځلې محاکمه کېدای نشی.

ممنوعیت محاکمۀ مجدد

مادۀ دهم:

شخص به سبب ارتکاب یك عمل جرمـی دوبـار محـاکمه شـده نمی تواند .

د جزائی دعوی د سقوط د زمانې تېریدل

یوولسمه ماده:

(۱) د جگړې په وخت کې په خپل سر غیابت او یـا د هغـه جـرم پـه ارتکـاب تـورن چې جزایـې اعـدام وی، تورن د ګرفتـاری په وخت کې د تېرې شوې مودې لـه پـه پـام کې نیولو پرته، د نیونې په وخت کې تر

مـرور زمـان سـقوط دعـوی جزائی

مادۀ یازدهم:

(۱) متهم به غیابت خود سرانه در زمان جنگ و یا در صورت ارتکاب جرمـی کـه جـزای آن اعـدام باشـد ، بـدون نظرداشـت مـدت زمـان سـپری شـده، حـین گرفتاری مورد تعقیب عدلی قرار

عدلی تعقیب لاندې نیول کېږی.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو حالاتو په استثنی د نورو جرمونو عدلی تعقیب، دلسو کلونو له تېرېدو وروسته جواز نلری.
(۳) که چېرې د جګړې په بهیر کې د درنو عواقبو لرونکی جرم، د ارتکاب له نېټې څخه دلسو کلونو په موده کې تر عدلی تعقیب لاندې رانشی خوتور د جګړې له پای ته رسېدو وروسته په دریو کلونو کې پرتورن وارد شوی وی، مرتکب تر عدلی تعقیب لاندې نیول کېدای شی.

می گیرد.
(۲) به استثنای حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، تعقیب عدلی سایر جرایم عسکری بعد از سپری شدن مدت ده سال جواز ندارد.
(۳) هرگاه در جریان جنگ، جرم دارای عواقب سنگین از تاریخ ارتکاب الی مدت ده سال مورد تعقیب عدلی قرار نه گیرد، ولی اتهام در طول سه سال بعد از ختم جنگ به متهم وارد گردیده باشد، مرتکب مورد تعقیب عدلی قرار گرفته می‌تواند.

د حبس په موده کې دنظارت او توقیف د مودې محاسبه کول

دوولسمه ماده:

د مضنون او تورن د نظارت او توقیف موده، د محکومیت په صورت کې د هغه د حبس په مودې کې محاسبه کېږی.

محاسبهٔ مدت نظارت و توقیف در میعاد حبس

مادهٔ دوازدهم:

مدت نظارت و توقیف مظنون و متهم در صورت محکومیت به میعاد حبس وی محاسبه می‌شود.

د اقرار اخستل

دیارلسمه ماده:

(۱) هېڅ شخص نشی کولای مظنون یا تورن اړباسی چې د ځان پر ضد اظهارات وړاندې کړی.
(۲) هغه اظهار، اقرار او شهادت

اخذ اقرار

مادهٔ سیزدهم:

(۱) هیچ شخص نمی‌تواند مظنون یا متهم را وادار سازد که اظهارات را علیه خود ارایه بدارد.
(۲) اظهار، اقرار و شهادتیکه از

چې له تورن یا بل شخص څخه د اکراه په وسیله تر لاسه شی، اعتبار نلری.

(۳) هیڅ شخص نشی کولای مظنون یا تورن هغو اظهاراتو ته اړباسی چې دتور په موضوع پورې اړه نلری.

متهم یا شخص دیگری به وسیله اکراه بدست آورده شود، اعتبار ندارد.

(۳) هیچ شخص نمی تواند مظنون یا متهم را وادار به اظهاراتی نماید که به موضوع اتهام ربط ندارد.

د تورن حقوق

څوارلسمه ماده:

د کشف، تحقیق او محاکمې مؤظفین مکلف دی د اقداماتو له پیل څخه د مخه، مظنون یا تورن له هغو حقوقو څخه چې لاندې یادډرې، خبر کړی:

۱- د چوپتیا (سکوت) حق.

۲- د تور له ډول او د تحقیق له ترسره کېدو څخه د خبرېدو حق.

۳- د مدافع وکیل د لرلو حق.

۴- لدې امر څخه د خبریدو د حق لرل چې د هغه اظهارات د مدرکونو په توګه د هغه پر ضد په محکمه کې ترګټې لاندې نیول کېدای شی.

حقوق متهم

مادۀ چهاردهم:

مؤظفین کشف، تحقیق و محاکمه مکلف اند قبل از آغاز اقدامات، مظنون و متهم را از حقوقی که در ذیل ذکر میگردد، آگاه سازند:

۱- حق سکوت.

۲- حق باخبر شدن از نوعیت اتهام و انجام تحقیق.

۳- حق داشتن وکیل مدافع.

۴- حق آگاه شدن از این امر که اظهارات وی به حیث مدارك علیه وی در محکمه مورد استفاده قرار گرفته می‌تواند.

د سندونو او دلیلونو قانونیت

پنځلسمه ماده:

هغه دلیلونه او شواهد چې د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو پرته

قانونیت اسناد و دلایل

مادۀ پانزدهم:

دلایل و شواهدیکه بدون رعایت احکام قانون جمع آوری شده

راټول شوی وی، بی اعتباره دی، محکمه نشی کولای د هغو په استناد حکم وکړی.

د اجرایی اقدامونو ثبتول
شپاړسمه ماده:
هغه اقدامونه چې د دې قانون د حکمونو د تطبیق په برخه کې د جرمی قضیو د څېړلو په منظور، صورت مومی، د اړوندو دفترونو لخوا په لیکلی توګه ثبتیږی.

باشد، فاقد اعتبار بوده، محکمه نمی تواند به استناد آن حکم نماید.

ثبت اقدامات اجرائی
مادۀ شانزدهم:
اقداماتیکه در زمینۀ تطبیق احکام این قانون، به منظور رسیدگی به قضایای جرمی صورت می گیرد، از طرف دفاتر مربوط طور کتبی ثبت می گردد.

دوه یم فصل
د جرمونو کشفول

فصل دوم
کشف جرایم

د جرم کشفول
اووه لسمه ماده:
د وسله والو ځواکونو د قطعاتو او جزو تامونو عسکری قوماندانان او انضباطان مکلف دی، عسکری جرمونه د خپل مسئولیت په ساحه کې کشف، مرتکب ئې تشخیص او دعدلی تعقیب په منظورئې اړوندو مراجعوته وروپېژنی.

کشف جرم
مادۀ هفدهم:
قوماندانان و انضباطان عسکری قطعات و جزو تام های قوای مسلح مکلف اند، جرایم عسکری را در ساحۀ مسئولیت خویش کشف و مرتکب را تشخیص و به منظور تعقیب عدلی به مراجع مربوط معرفی نمایند.

د جرمونو رپوټ ورکول
اتلسمه ماده:
(۱) ټول عسکری منسوبین مکلف دی دعسکری منسوب په واسطه د

راپور جرایم
مادۀ هجدهم:
(۱) تمام منسوبین عسکری مکلف اند به مجرد آگاهی از ارتکاب

جرم د ارتکاب له خبریدو سره جوخت اړوندو مراجعو ته رپوټ ورکړی.

نور اشخاص هم کولای شی د عسکری جرمونو له واقع کېدو څخه اړوندو مراجعو ته خبر ور کړی.

(۲) ترلاسه کوونکې مرجع ژر تر ژره رسېدلی رپوټ او نور معلومات هغه قوماندان ته چې مظنون مستقیماً د هغه تر امر لاندې وی، وړاندې کوی.

(۳) هغه قوماندانان چې د تر خپل امر لاندې منسوبینو د عسکری جرمونو له ارتکاب څخه خبریږی.

د ارتکاب شویو جرمونو د حقایقو او حالاتو په هکله، د ابتدائی تحقیقاتو په ترسره کولو مکلف دی.

که چیرې مؤجه دلیلونه د زیاتو تحقیقاتو د تر سره کولو لپاره پیداشی، قوماندانان د دې قانون د درېیم فصل د حکمونو مطابق قضیه، د تحقیق لپاره اړوندې څارنوالی ته راجع کوی.

جرم توسط منسوب عسکری به مراجع ذیربط راپور دهند.

سایر اشخاص نیز می‌توانند از وقوع جرایم عسکری به مراجع مربوط اطلاع دهند.

(۲) مرجع دریافت کننده به اسرع وقت راپور واسله وسایر معلومات را به قوماندانیکه مظنون مستقیماً تحت امر وی باشد، ارایه می نماید.

(۳) قوماندانانیکه از ارتکاب جرایم عسکری، توسط منسوبین تحت امر مطلع میگردند، مکلف به انجام تحقیقات ابتدائی در مورد حقایق و حالات جرایم ارتکاب یافته می باشند.

هرگاه دلایل مؤجه غرض انجام تحقیقات بیشتر موجود گردد، قوماندانان قضیه را مطابق احکام فصل سوم این قانون جهت تحقیق به څارنوالی مربوط ارجاع می نمایند.

نیول (ګرفتاری)

نولسمه ماده:

(۱) نیول (ګرفتاری) د دې قانون په موجب د مظنون شخص له نیولو او تر نظارت لاندې راوستلو څخه عبارت دی چې د واکمنې مرجع د امر پربنسټ صورت مومی.

(۲) د مظنون نیول او تر نظارت لاندې راوستل د مجازاتو په مفهوم ندی، بلکې د احتیاطی تدبیرونو د نیولو په توګه، په یوې ټاکلې او مشخصې محدودې کې د هغه ساتل دی.

(۳) هیڅ شخص ګرفتار او تر نظارت لاندې نه راوستل کېږی، خو دا چې موجه دلیلونه د هغه د نیولو او تر نظارت لاندې د راوستلو په هکله وجود ولری.

(۴) هغه اشخاص چې د دې قانون د حکمونو په موجب د نیولو واک لری، کولای شی د موجهو او قانونی دلیلونو د شته والی په صورت کې، مظنون یا تورن ګرفتار او تر نظارت لاندې ونیسی.

(۵) د کشف په اړه اجراآت د (۷۲) ساعتونو په موده کې پایته رسېږی او مظنون له اړوندو سندونو سره د

گرفتاری

مادۀ نزدهم:

(۱) گرفتاری به موجب این قانون عبارت از دستگیری و تحت نظارت قرار دادن شخص مظنون میباشد که بر اساس امر مرجع ذیصلاح صورت می‌گیرد.

(۲) گرفتاری و تحت نظارت قرار دادن مظنون به مفهوم مجازات نبوده، بلکه نگهداری وی در یک محدودۀ معین و مشخص منحیث اتخاذ تدابیر احتیاطی می باشد.

(۳) هیچ شخص گرفتار و تحت نظارت قرار داده شده نمی تواند مگر اینکه دلایل مؤجه مبنی برگرفتاری و تحت نظارت قرار دادن وی وجود داشته باشد.

(۴) اشخاصی‌که به موجب احکام این قانون صلاحیت گرفتاری را دارند، می توانند در صورت موجودیت دلایل مؤجه و قانونی مظنون یا متهم را گرفتار و تحت نظارت قرار دهند.

(۵) اجراآت مربوط به کشف طی مدت (۷۲) ساعت به پایان رسیده و مظنون با اسناد مربوط غرض

تحقیق لپاره واکمنې مرجع ته سپارل کېږی.

د تبنټېدلو نیول
شلمه ماده:
د قضایی ضبط مامورین کولای شی تبنټېدلی عسکری منسوبین ونیسی او اړوندو واکمنو مراجعو ته یې تسلیم کړی.

تحقیق به مرجع ذیصلاح سپرده می‌شود.

گرفتاری فراریان
مادۀ بیستم:
مامورین ضبط قضائی می‌تواند منسوبین عسکری فراری را گرفتار و به مراجع ذیصلاح مربوط تسلیم نمایند.

دریم فصل
د جرمونو تحقیق

فصل سوم
تحقیق جرایم

دتحقیق تر سره کول
یو ویشتمه ماده:
(۱) عسکری څارنوال مکلف دی د مظنون او اړوندو سندنو له تسلیمولو وروسته، زیات نه زیات د (۷۲) ساعتونو مودې په ترڅ کې له هغه څخه استنطاق وکړی.
(۲) له مظنون څخه استنطاق د هغه دمدافع وکیل په حضور کې صورت مومی تورن حق لری د استنطاق په بهیر کې د چوپتیا (سکوت) له حق څخه ګټه واخلی.
(۳) په هغه صورت کې چې عسکری څارنوال د مظنون توقیفول لازم وبولی، خپل مدلل وړاندیز اړوندې محکمې ته

اجرای تحقیق
مادۀ بیست و یکم:
(۱) څارنوال عسکری مکلف است بعد از تسلیمی مظنون و اسناد مربوط، حداکثر در خلال مدت (۷۲) ساعت از وی استنطاق نماید.
(۲) استنطاق از مظنون در حضور وکیل مدافع وی صورت می گیرد. متهم حق دارد د جریان استنطاق از حق سکوت استفاده نماید.
(۳) در صورتی‌که څارنوال عسکری توقیف مظنون را لازم بداند، پیشنهاد مدلل خود را به محکمۀ مربوط

وړاندې کوی او محکمه کولای شی له محاکمې څخه دمخه د مظنون د تعقیب یا خوشې کېدو په هکله تصمیم ونیسی.

ارایه و محکمه می‌تواند در مورد تعقیب یا رهائی مظنون قبل از محاکمه تصمیم اتخاذ نماید.

د دلیلونو او شواهدو راټولول

دوه ویشتمه ماده:

(۱) عسکری څارنوال مکلف دی مؤجه دلیلونه او شواهد چې د مظنون په ضرر یا ګټه وی، راټول کړی.

(۲) د بېستېیزو اثباتیه مدر کونو د راټولولو کړنلارې، په لاندې توګه دی:

۱- د شهادت اوربدل، د اظهاراتو اخستل، د تورن اعتراف یا اقرار.

۲- شهود.

۳- استنطاق.

۴- پلټنه او تلاشی.

۵- په صف کې پېژندنه.

۶- ارزول او تخصصی کتنې (معاینې)

۷- د جرمی شیانو یا هغو وسایلو ضبطول چې د جرم د ارتکاب په وخت کې له هغو څخه ګټه اخستل شوې وی.

جمع آوری دلایل و شواهد

مادۀ بیست و دوم:

(۱) څارنوال عسکری مکلف است دلایل و شواهد مؤجه را که به ضرر یا نفع مظنون باشد، جمع آوری نماید.

(۲) روش های جمع آوری مدارك اثباتیه اساسی قرار ذیل است:

۱- استماع شهادت، اخذ اظهارات، اعتراف یا اقرار متهم.

۲- شهود.

۳- استنطاق.

۴- تفتیش و تلاشی.

۵- شناسائی در صف.

۶- ارزیابی و معاینات تخصصی.

۷- ضبط اشیای جرمی یا وسایلیکه حین ارتکاب جرم از آن استفاده به عمل آمده باشد.

د مدافع وکیل حضور

درویشتمه ماده:

(۱) د مظنون یا تورن مدافع وکیل حق لری د استنطاق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې حاضر وی.

(۲) مدافع وکیل خق لری د دعوی په ټولو پړاوونو کې، د قضیې په اړوند سندونه او مدرکونه راټول اوو ځیړی او د معلوماتو د ترلاسه کولو او د قضیې د روښانتیا لپاره لازمی یوښتنی وړاندی او ځواب ترلاسه کړی.

(۳) مدافع وکیل او تورن حق لری د تلاشی، له شهودو څخه د استنطاق او د اهل خبره وو دکتنو په بهیر کې حاضر وی.

(۴) څارنوال مکلف دی د تلاشی او مصاحبې، استنطاق او په صف کې د پیژندنې یا داهل خبره وو د کتنې د ترسره کولو په وخت کې چې د هغه یا د مستنطقینو لخوا تنظیمېږی، د تحقیقاتو له پیل کیدو څخه (۷۲) ساعته د مخه، مدافع وکیل او تورن خبر کړی.

(۵) د بیړنی اړتیا د احساسېدو په صورت کې چې د الزام د مدرکونو د له منځه تلو احتمال وجود ولری،

حضور وکیل مدافع

مادۀ بیست و سوم:

(۱) وکیل مدافع مظنون یا متهم حق دارد در تمام مراحل استنطاق و محاکمه حاضر باشد.

(۲) وکیل مدافع حق دارد در تمام مراحل دعوی، اسناد و مدارك مربوط به قضیه را جمع آوری و بررسی و سوالات لازم را جهت کسب معلومات و روش شدن قضیه ارایه و جواب حاصل نماید.

(۳) وکیل مدافع و متهم حق دارند در جریان تلاشی، استنطاق از شهود و معاینات اهل خبره حاضر باشند.

(۴) څارنوال مکلف است حین اجرای تلاشی و مصاحبه، استنطاق، شناسائی در صف یا معاینه اهل خبره که توسط وی یا مستنطقین تنظیم می‌گردد، (۷۲) ساعت قبل از آغاز تحقیقات، وکیل مدافع و متهم را مطلع سازد.

(۵) در صورت احساس ضرورت عاجل که احتمال از بین رفتن مدارك الزام وجود داشته باشد،

څارنوال کولای شی تورن یا دهغه مدافع وکیل ته له مخکنۍ خبرتیا پرته، مدرکونه راټول کړی. پدې صورت کې څارنوال مکلف دی ټول لاس ته راغلی معلومات، د هغو له راټولیدو وروسته د (۷۲) ساعتونو په موده کې تورن یا دهغه مدافع وکیل ته وړاندې کړی.

د تحقیقاتو پایله

څلېرېشتمه ماده:

(۱) که چیرې عسکری څارنوال د تحقیقاتو په پای کې تشخیص کړی چې مؤجه مددکونه او د الزام کافی دلایل دمظنون پر ضد وجود نلری، کولای شی دوسیه حفظ کړی.

(۲) که چېرې د قضیې د عدلی تعقیب لپاره د الزام کافی دلیلونه وجود ولری، عسکری څارنوال مکلف دی د نیولو له نېټې څخه زیات نه زیات د (۱۲۰) ورځو مودې په ترڅ کې صورت دعوی ترتیب او له ټولو مدرکونو سره ئې عسکری ابتدائیه محکمی ته ارجاع او محکمه صورت دعوی تورن او د هغه مدافع وکیل ته وړاندې کوی.

پدې صورت کې تورن او مدافع څارنوال میتواند مدارك را بدون اطلاعیه قبلی به متهم یا وکیل مدافع وی، جمع آوری نماید. در این صورت څارنوال مکلف است تمام معلومات بدست آمده را در مدت (۷۲) ساعت بعد از جمع آوری آن به متهم یا وکیل مدافع وی ارایه نماید.

نتیجهٔ تحقیقات

مادهٔ بیست و چهارم:

الف- د ستردرستیز د حقوقو رئیس واک لری څو عسکری ابتدائیه محکمې له یو شمېر پرسونل او هغو موقعیتونو سره چې د ملی اردو د اړتیاوو ځواب ویونکی وی،تنظیم کړی.

ب- ابتدائیه محکمې باید په لاندې توګه تنظیم او تشکیل کړی شی :

(۱) لوړپوړی قاضی،د محکمې د رئیس په توګه،د ډګروال په رتبه.

(۲) دوه تنه غړی قاضیان،د ډګرمن یا له هغه څخه په لوړه رتبه.

(۳) د لیک مدیر د جګړن په رتبه.

(۴) دوه تنه افسران چې د لیک له مدیر او د محکمې له قاضیانو سره په اداری چارو کې همکاری وکړی او هم به د قضائی منشی په توګه دنده سرته ورسوی د(تورن یا لومړی بریدمن) په رتبو.

(۵) دوه تنه نور چې د خانه سامان یا ډرېور په توګه به دنده

فصل چهارم
محاکم ابتدائیۀ عسکری

مادۀ (۱۱) :

الف- رئیس حقوق ستردرستیز صلاحیت دارد تا محاکم ابتدائیۀ عسکری را با تعداد پرسونل وموقعیت های که جوابگوی نیازمندی های اردوی ملی باشد ، تنظیم نماید.

ب- محاکم ابتدائیۀ عسکری باید قرار آتی تنظیم و تشکیل گردد :

(۱) قاضی بلند رتبه بحیث رئیس محکمه به رتبه دګروال.

(۲) دونفر قاضی عضو به رتبه دګرمن ویا بلندتر از آن.

(۳) مدیر تحریرات به رتبه جګړن.

(۴) دونفر افسر که مدیر تحریرات وقضات محکمه را در امور اداری همکاری نموده وهم بحیث منشی قضائی ایفای وظیفه خواهد نمود به رتبه های (تورن ویا لومړی بریدمن).

(۵) دونفری دیګری که منحیث خانه سامان ویا درایور ایفای

سرته ورسوی (ملکی).
ج- دستردرستیز د حقوقو د رئیس په واسطه دعسکری محکمو تشکیل، جوړښت او د پرسونل مقررېدل د دفاع د وزیر د منظوری تابع دی.

پنځم فصل
د عسکری استیناف محکمه

(۱۲) ماده :
الف- دستردرستیز د حقوقو رئیس واک لری څو د عسکری استیناف محکمه جوړه او تنظیم کړی. د عسکری استیناف محکمه چې ددې قانون پربنسټ جوړېږي، د عسکری استیناف د محکمې په نوم نومول کېږي.
ب - د عسکری استیناف محکمه په لاندې توګه تنظیم او جوړېږي:
(۱) لوړ پوړی قاضی د محکمې د رئیس په توګه د ډګروال یا له هغه څخه په لوړه رتبه.
(۲) یو تن غړی قاضی د محکمې د مرستیال په توګه د ډګروال په رتبه.
(۳) درې تنه غړی قاضیان (دوه تنه د ډګروال په رتبه) او (یو تن د وظیفه خواهند نمود (ملکی).
ج- تشکیل،ساختار وتقرر پرسونل محاکم ابتدائیۀ عسکری توسط رئیس حقوق ستر درستیز تابع منظوری وزارت دفاع ملی میباشد.

فصل پنجم
محکمۀ استیناف عسکری

مادۀ (۱۲) :
الف- رئیس حقوق ستردرستیز صلاحیت دارد تا محکمۀ استیناف عسکری را ایجاد و تنظیم نماید. محکمۀ استیناف عسکری که به اساس این قانون ایجاد می‌گردد، به نام محکمۀ استیناف عسکری مسمی می‌گردد.
ب - محکمه استیناف عسکری قرارذیل تنظیم و ایجاد گردیده :
(۱) قاضی بلند رتبه بحیث رئیس محکمه به رتبۀ دګروال ویا بلندتر از آن.
(۲) یك نفر قاضی عضو بحیث معاون محکمه به رتبۀ دګروال.
(۳) سه نفر قاضی عضو (دو نفر به رتبۀ دګروال) و (یك نفر دګرمن

ډګرمن یا له هغه څخه لوړ).
(۴) د لیک مدیر د ډګرمن په رتبه.
(۵) دوه تنه افسران چې د لیک له مدیر او (محکمې له قاضیانو سره په اداری چارو کې همکاری وکړی او هم د قضائی منشی په توګه دنده سرته رسوی د (جګړن یا تورن) په رتبو).
(۶) درې تنه نور چې د خانه سامان اوډربور په توګه دنده سرته رسوی (ملکی کارمندان یا نظامی پرسونل دخورد ضابط (پرکمشر) په رتبو).
ج ـ د ستردرستیز د حقوقو د رئیس په واسطه د عسکری استیناف د محکمې تشکیل، جوړښت او د پرسونل مقرربدل د دفاع د وزارت د منظوری تابع دی.
د- دعسکری استیناف محکمې پر هرې هغه قضیې باندې چې دعسکری ابتدائیه محکمې د حکم،فیصلې یا قرار په پایله کې استیناف غوښتنه شوې وی،قضائی واک لری، خو دا چې په قانون کې بل ډول تصریح شوی وی. محکمه باید د څېړنې عین سطح (مطالعه اوتدقیق) چې ممکن ویا بلندتر از آن).
(۴) مدیر تحریرات به رتبهٔ دګرمن.
(۵) دونفر افسر که مدیر تحریرات وقضات محکمه را در امور اداری همکاری نموده وهم بحیث منشی قضائی ایفای وظیفه می نمایند ، به رتبه های (جګړن ویا تورن).
(۶) سه نفر دیګرکه منحیث خانه سامان و درایور ایفای وظیفه خواهند نمود (کارمندان ملکی و یا پرسونل نظامی به رتبه های خورد ضابط (پرکمشر).
ج ـ تشکیل،ساختار وتقرر پرسونل محکمهٔ استیناف عسکری توسط رئیس حقوق ستردرستیزتابع منظوری وزارت دفاع میباشد.
د- محکمهٔ اسیناف عسکری بر هر قضیه که در نتیجهٔ حکم، فیصله یا قرار محکمه ابتدائیه عسکری استیناف خواهی گردیده باشد ، صلاحیت قضائی دارد ،مگر اینکه طوری دیګری در قانون تصریح گردیده باشد .محکمه باید عین سطح بررسی (مطالعه وتدقیق) را که ممکن محاکم استیناف ملکی

د استیناف ملکی محکمې یی په ورتـــه قـــضیه کـــې تطبیـــق کـــړی،وکاروی. محکمـه بایـد د ترڅېړنـی لاندې قـضیی پـه اړه د مشخـصو قرارونـو د صـادرولو د واک لرونکې وی.

هـ- دعسکری استیناف د محکمې د فیـصلو پـه صـادرولو او پـه ټولـو هغـو موضـوعګانو کـې چـې پـه څرګنـده او روښـانه توګه پـه قـضیه کې تصریح شوې وی او استینافی تـصمیم تـه اړتیـا لـری، بایـد پـه عادلانه ډول دهغو په هکله تصمیم ونیول شی او نیول شوی تصمیم د محکمې په سندونو کې په لیکلې توګه درج او وساتل شی.

و- پـه ټولـو هغـو قـضیو کې چې د محکمې د قضائی واک په محدوده کې، هغـې چې پـدې قـانون کې تـــصریح شـــوی دی واقـــع وی، استینافی غوښتنلیک باید، په هغه ترتیـب سـره چـې پـدې قـانون کـې تـصریح شـوی دی، د اسـتیناف پـه محکمـه کـې درج شـی، پـه هغـو حالاتو کې چې د استیناف محکمه یـې تثبیـت کـړی چـې اسـتینافی غوښتنلیک داسې موضوع په بر کې

در قـــضیهٔ مـــــشابه تطبیـــق نمایـد، بکـــــار ببـرد. محکمـه بایـد صـلاحیت صـــــدور قـرار هـــای مـشخص را در ارتبـــاط بـــه قـضیهٔ تـــحت بررسـی دارا باشد.

هـ- در اصدار فیصله های محکمهٔ اســتیناف عـــسکری ودر تمـــام موضوعات که بصـــورت واضـــح و روشـــن در قـــضـــیه تـــصـــریح گـــردیده و بـه تـصمیم استینافی ضرورت دارد، باید بطور عادلانه در مـورد آن تـصمیم اتخـاذ گـردد وتـصمیم اتخـاذ شـده در اسـناد مـــحکمه بـــشکل تحریـــری درج ونگهداری شود.

و- در تمام قضایای که در محدودهٔ صلاحیت قضائی محکمه طوریکه در ایـن قـانون تـصریح شـده اسـت واقـــع بـــاشـــــد،در خـــــواست استینافی باید به ترتیب که در ایـن قـانون تـصریح شـده،در مـــحکمهٔ اســـــتیناف درج گـــــــردد. در حـــالاتیکه محکمهٔ استیناف تثبیت نمایـد کـه در خواسـت اسـتینافی موضـوعی را دربـر دارد کـه ممکـن بـــــرآن صـــــلاحیت قـــــضائی

لـری چې ممکـن پـر هغـې بانـدې قضائی واک ونلری، محکمه باید مناسبې محکمـې تـه د قـضیې د احـالې پـه اړه خپـل قـرار یـا د استیناف غوښتنې رد صادر کړی.

(۱۳) ماده :

الف_ د مـحکمـې رئـیس باید د استیناف د محـکمې پـلان (د کـار وختونـه) وټـاکی. البتـه پـدې هکله د هغه اجراآت د ستردرستیز د څـارنې او لارښـوونې تـابع دی. د محکمې رئیس باید د لارښـوونو د صـادرولو پـه وسـیله د قـضیو د څېړنـې ډول او د څېړنـې نېټـه وټاکی.

ب - مـحکمه بـاید خپـل اصـلی دفترونه د کابل په ښـار کـې جوړ او وسـاتی. کـه څـه هـم هـر څـو د محکمـې قـضائی هیئتونـه، د افغانستان په هر ښار او ولایت کې د هغو قضیو د څېړنې لپاره چې د دغسې محکمې په وړاندې څېړنې تـه معطلـی وی، محاکمـه دایـره کړی.

نداشـــــته باشـــــد ،محکمه بایـد قـرار خـود را در رابطـه بـــه احـــاله قـــضیه بـــه محکمۀ مناسب و یـا رد استیناف خواهی صادر نماید.

مادۀ (۱۳) :

الـف- رئـیس مـحکمه بایـد پـلان (اوقـات کـاری) محکمۀ اسـتیناف را تعیـین نمایـد. البتـه اجراآت وی در این مـورد تـابع نظارت وهدایت رئیس حقوق ستردرستیز می‌باشد. رئیس محکمه باید بوسیلۀ صدور هـدایات طـرز رسـیدگی وتـاریخ رسـیدگی قـضـــایا را معیـــین سازد.

ب - محکمه باید دفاتر اصلی خود را در شـهر کابـل ایجـاد وحفـظ نمایـد. گرچـه هر چند هیئـت هـای قضائی محکمه، محاکمه را در هر شهر و یا ولایت افغانستان بمنظور بررســی قــضایـــا کـــــه در پیـشگاه همچـو محـــــکمه معطـل بـــــه بررســی بـــــاشند ،دایر نماید.

(۱۴) ماده :
الف _ داستیناف دمحکمې د لیک مـدیر د محکمـې د سـندونو د ساتنې او خونـدې کولـو پـه داسې ډول چې پـه قـانون یـا مقـرره کـې تصریح شوی دی، مسئول دی.
ب - د محکمـې د قراروناـو او تـصمیمونو تنظیمـول، خپـرول او وېشل به د ستردرستیز د حقوقو د رئـیس لخـوا لـه جـوړو شـوو طرزالعملونـو سره پـه مطابقـت کـې صورت مومی.

مادۀ (۱۴):
الـف - مـدیر تحریـرات محکمـۀ استیناف، مسئول نگهداری وحفظ اسـناد محکمـه بـه نحـو یکـه در قـانون ویـا مقـرره تـصریح گردیـده است، می‌باشد.
ب - تـنظیم،نشر وتوزیع قرارها و تـصامیم محکمـه در مطابقـت بـا طـرز العمـل هـای ایجـاد شـده توسـط رئـیس حقـوق ستردرسـتیز صـورت خـواهد گرفت.

شپږم فصل
سترې محکمې ته د عسکری قضیو په هکله فرجام غوښتنه

(۱۵) ماده :
د عـسکری اسـتیناف د محکمـې چې ددې قـانون په واسطه جوړېږی د تـصمیمونو پـه هکلـه فرجـام غوښتنه بایـد د افغانـستان سترې محکمې تـه پـه هغـه ډول او ترتیـب سـره چـې د افغانـستان د اسـلامی جمهوریـت د محکمـو د تـشکیل او واکونو پـه قـانون کـې تـصریح شـوی دی، صورت ومومی.

فصل ششم
فرجام خواهی در مورد قضایای عسکری به ستره محکمه

مادۀ (۱۵) :
فـرجام خـواهی در مـورد تـصامیم محکمـۀ اسـتیناف عـسکری کـه توسط ایـن قـانون ایجاد می‌گردد ، باید به ستره محکمۀ افغانستان به نحـوه و تـرتیبی کـه در قـانون تـشکیل وصـلاحیت هـای محـاکم جمهـوری اسـلامی افغانـستان تـصریح شـده، صـورت بگیرد.

اووم فصل
متفرقه حکمونه

(۱۶) ماده :

د دفـاع وزیـر بایـد د دفـاع پـه وزارت، ستردرسـتیز او ملـی اردو کې د نظم او دسپلین د تأمینولو په غـــرض قواعـــد او کـــړنلارې اووهمدارنګه دعسکری محکمو په کار کې آسانتیاوې رامنځته کړی

(۱۷) ماده :

هغـه جزایـی قـضیې دې چـې ددې قـانون لـه انفـاذ د مخـه د عـدلی تحقیق یـا تعقیب په پراو کې قرار لری او د ملی اردو په منسوبانو یا ددې قانون په تـابع اشخاصو پورې اړه ولری هغو عـسکری محکمو تـه چې ددې قانون په واسطه جوړېږی، احـاله او تـسلیم کـړل شـی. د هغـو اشخاصـو جزایـی قـضیې چې ددې قانون تـابع ندی (د پولیسو او ملی امنیـت منـسوبان) د اړونـد تقنینـی سند د تصویب تر وختـه پورې چې قـضیې بـه یـې ملکـی محکمـو تـه ولېږدوی، د پخوا په شان په نظامی مرستیالی کې څېړل کېږی او باقی

فصل هفتم
احکام متفرقه

ماده (۱۶) :

وزیـر دفـاع بایـد قواعـد و طـرز العمـل های را غـرض تـأمین نظم و دســـــپلین در وزارت دفـــــاع، ستردرستیز واردوی ملی وهمچنـان تسهیلات در کـار محـاکم عـسکری را ایجاد نماید.

مادۀ (۱۷) :

قضایای جزائی که قبل از انفاذ این قانون در مرحلۀ تحقیق ویـا تعقیب عـدلی قـرار داشـته و بـه منـسوبین اردوی ملی و یـا اشخاص تـابع ایـن قـانون ارتبـاط داشـته باشـد ، بـه محـاکم عـسکری کـه توسـط ایـن قـانون ایجـاد مـی گردد ،احـاله وتسلیم داده شود. قضایای جزائی اشخاصـی کـه تـابع ایـن قـانون نیستند (منسوبین پولیس وامنیت ملی) تا زمان تصویب سند تقینیی مربوطـه کـه قـضایای شـانرا بـه محـاکم ملکـی انتـقال خواهد داد ، کمافی السابق در معاونیت نظامی رسـیدگی گردیـده وبـاقی خواهنـد

پاتې کېږی.

(۱۸) ماده :

دغه قانون د توشېح له نېټې وروسته نافذ دی، ټول هغه قوانین او اصولنامې چې ددې قانون یا د افغانستان د اساسی قانون له حکمونو سره مغایر نه وی،د تطبیق او رعایت وړ دی.

ماند.

مادۀ (۱۸) :

این قانون بعد از تاریخ توشیح نافذ میباشد .تمام قوانین واصولنامه های که مغایر با احکام این قانون ویا قانون اساسی افغانستان نباشد ،قابل تطبیق و رعایت می‌باشد

مقررۀ تنظیم امور معارف قضائی

د افغانستان د اسلامي
جمهوريت
ستره محکمه

ګڼه: (۱۳۷۲)
نېټه: ۱۳۸۷/۱۱/۳۰

د عدليې وزير محترم سرور دانش!

د قضائي پوهنې ذ چارو دسمون مقرره چې د ۱۳۸۷/۱۲/۲۳ نېټې (۸۱۱) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۹) فصلونو او (۳۰) مادو کې د محررينو د زده کړې مقرره چې د ۱۳۸۷/۱/۱۸ نېټې (۲۵) ګڼې مصوبې پرنبسټ په (۵) فصلونو او (۲۵) مادو کې، د افغانستان د قضاتو د مجمع اساسنامه چې د ۱۳۸۷/۳/۱۴ نېټې (۲۱۳) ګڼې مصوبې پربنست په (۵) فصلونو او (۲۳) مادو کې، د قضاتو د سرغړونو رسيدګۍ مقرره چې د ۱۳۸۷/۳/۲۱ (۲۲۰) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۵) فصلونو او (۱۶) مادو کې، د کنترول او مراقبت د اداري مقرره د ۱۳۸۷/۹/۱۲ نېټې (۵۶۳) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۱۴) مادو کې د وثايقو او سندونو د ثبت د

ستره محکمهٔ
جمهوری اسلامی
افغانستان

شماره: (۱۳۷۲)
تاریخ: ۱۳۸۷/۱۱/۳۰

محترم سرور دانش وزیر عدلیه!

مقررهٔ تنظیم امور معارف قضایی به اساس مصوبهٔ شماره (۸۱۱) مؤرخ ۱۳۸۷/۱۲/۲۳ به داخل (۹) فصل و (۳۰) ماده، مقررهٔ آموزش محررین به اساس مصوبهٔ شماره (۲۵) مؤرخ ۱۳۸۷/۱/۱۸ بداخل (۵) فصل و (۲۵) ماده، اساسنامه مجمع قضات افغانستان به اساس مصوبهٔ شماره (۲۱۳) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۱۴ به داخل (۵) فصل و (۲۳) ماده، مقررهٔ رسیدگی به تخلفات قضات که به اساس مصوبهٔ شماره (۲۲۰) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۲۱ بداخل (۵) فصل و (۱۶) ماده مقررهٔ ادارهٔ کنترول و مراقبت به اساس مصوبهٔ شماره (۵۶۳) مؤرخ ۱۳۸۷/۹/۱۲ بداخل (۱۴) ماده، مقررهٔ فعالیت ادارهٔ مرکزی ثبت اسناد و وثایق به اساس مصوبهٔ

مرکـزي اداري د فعالیـت مقـرره ۱۳۸۷/۱۰/۲۰ نیټې (۷۱۱) ګڼې مـصوبې پربنـسټ پـه (۱۲) مـادو کـې، د قاضـیانو لپـاره د قـضائي سـلوك د ډول مقـرره، د ۱۳۸۶/۳/۲۹ نېټـې (۲۲۵) ګڼـې مصوبې پربنسټ په (۴) فصلونو او (۲۴) مادو کې، د ستري محکمې عـالي شـوري لخـوا تـصویب شـوې دي په رسمي جریده کې د خپرېدو په غرض تاسو ته درولېږل شوې.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت
دستري محکمي رئیس
پوهاند عبدالسلام عظیمي

شـماره (۷۱۱) مـؤرخ ۱۳۸۶/۱۰/۲۰ بـداخل (۱۲) مـاده، مقـررۀ طـرز سـلوك قـضائی بـرای قـضات بـه اسـاس مـصوبۀ شـماره (۲۲۵) مـؤرخ ۱۳۸۶/۳/۲۹ بـداخل (۴) فـصل و (۲۴) مـاده، و از طـرف شـورای عـالی سـتره محکمـه تـصویب گردیـده اسـت، غـرض نـشر در جریـده رسـمی بـه شـما ارسـال گردید.

پوهاند عبدالسلام عظیمی
رئیس ستره محکمه جمهوری
اسلامی افغانستان

د قضایی پوهنې د چارو د تنظیم مقرره لومړی فصل عمومی حکمونه

لومړی ماده:
دغه مقرره د افغانستان د اسلامی جمهوریت دقضائیه قوې په چوکاټ کې،دقضایی پوهنې چارې تنظیموی.

دوه یمه ماده:
قضایی پوهنه پدې مقرره کې لاندې مفاهیم احتوی کوی:
الف- قضایی زده کړه او ښوونې.
ب- د قوانینو او حقوقی مسئلو څرګندول او پوهول.
ج- د محکمو د فعالیت له کیفیت څخه عامه خبرتیا.
د- د قضایی رپوټونو تنظیم، تدوین او خپرول اود جرمی علتونو او انګیزو څرګندول.
هـ- دحقوقی قضایی آثارو د تألیف، تدوین، ژباړې او خپرولو په چارو کې د قضایی قوې او نورو مراجعو د اړتیاوو پوره کول.

مقررهٔ تنظیم امور معارف قضائی فصل اول احکام عمومی

مادهٔ اول:
این مقرره امور معارف قضائی را در چوکات قوهٔ قضائیه جمهوری اسلامی افغانستان تنظیم می نماید.

مادهٔ دوم:
دراین مقرره معارف قضائی مفاهیم ذیل را احتوا می نماید:
الف- آموزش و تعلیمات قضائی.
ب- توضیح و تفهیم قوانین و مسایل حقوقی.
ج- آگاهی عامه از کیفیت فعالیت محاکم.
د- تنظیم، تدوین و نشر راپورهای قضائی و توضیح علل و انگیزه های جرمی.
هـ- اکمال نیازمندی های قوهٔ قضائی و سایر مراجع در امور تألیف، تدوین، ترجمه و انتشار آثار حقوقی قضائی.

درېیمه ماده:

پدې مقرره کې در ج شوې موخې، له لاندې لارو څخه برابرېږي:

الف- د قضایی ستاژ د کورس او نورو قصیر المدت کورسونو تنظیمول.

ب- د قضایی او توضیحی سیمینارونو تنظیمول.

ج- د قضاء د مجلې او میزان جریدې خپرول.

د- د تألیف، تدوین او ژباړې په شمول په حقوقی - قضایی مختلفو برخو کې، دکتابونو او رسالو خپرول.

هـ - دمتخصصینو او محققینو په همکاری د جزاء د قانون، مدنی قانون او نورو قوانینو پرتوضیح او تشریح باندې کار.

و- دسترې محکمې دمصوبو، متحدالمالونو او لازښودونو تنظیم اود هغو خپرول.

ز- دمحکمو له قطعی فیصلو، قضایی رپوټونو اود علنی غونډو له بهیر څخه په ګټې اخیستنې سره د سمعی او بصری برنامو تنظمیول.

ح- په ادارو، مؤسسو اود خلکو په

مادۀ سوم:

اهداف مندرج این مقرره از طرق ذیل فراهم می گردد:

الف- تنظیم کورس ستاژ قضائی و سایر کورس های قصیر المدت.

ب- تنظیم سیمینارهای قضائی و توضیحی.

ج- نشر مجلۀ قضا و جریدۀ میزان.

د- نشر کتب و رساله ها در رشته های مختلف حقوقی - قضائی اعم از تألیف، تدوین وترجمه.

هـ- کار روی توضیح و تشریح قانون جزاء،قانون مدنی وسایر قوانین به همکاری متخصصین و محققین.

و- تنظیم مصوبات، متحدالمالها، و رهنمودهای ستره محکمه و نشر آن.

ز- تنظیم برنامه های سمعی و بصری با استفاده از فیصله های قطعی، راپورهای قضائی و جریان جلسات علنی محاکم.

ح- تنظیم برنامه های تبلیغ حقوقی

منځ کې د حقوقی تبلیغ د برنامو تنظیمول.
ط- د مصاحبې، راپورتاژ او مناظرو د چارو تنظیمول.
ی -د محکمو په قطعی فیصلو کې د شاملو د قضایی رپوټونو تنظیم او خپرول د هغو په خاص او حقوقی سیستم سره.
ک- حقوقی پوښتنو او استهداګانو ته توضیح ورکول.
ل- د انټرنټ له لارې د قضایی پوهنې تعمیمول.

در ادارات، مؤسسات و در میان مردم.
ط- تنظیم امور مصاحبه، راپورتاژ و مناظره ها.
ی- تنظیم و نشر راپورهای قضائی شامل فیصله های قطعی محاکم به سیستم خاص و حقوقی آن.
ك- توضیح به پرسش ها و استهدآت حقوقی.
ل- تعمیم معارف قضائی از طریق انترنت.

دوه یم فصل
د حقوقی تبلیغ د هم غړی مېسیون

فصل دوم
کمیسیون هماهنگی تبلیغ حقوقی

څلورمه ماده:
ددې مقررې دحکمونو د تطبیق په منظور، د سترې محکمې د حقوقی تبلیغ دهم غړی کمېسیون جوړېږی.

مادۀ چهارم:
به منظور تطبیق احکام این مقرره کمیسیون هماهنگی تبلیغ حقوقی ستره محکمه تشکیل می گردد.

پنځمه ماده:
د هم غړی کمېسیون مرکب دی له:
۱- د سترې محکمې د عمومی جزاء د دیوان رئیس، د رئیس په توګه.

مادۀ پنجم:
کمیسیون هم آهنگی مرکب است از:
۱- رئیس دیوان جزای عمومی ستره محکمه بحیث رئیس.

۲- د ستړي محکمې ویاند ، د غړی په توګه.
۳- د قضایی قوې اداری عمومی آمر، د غړی په توګه.
۴- د ستړي محکمې د عالی شوری د دارالانشاء رئیس، د غړی په توګه.
۵- د تدقیق او مطالعاتو رئیس، د غړی اود کمېسیون دمنشی په توګه.
۶- د ستړي محکمې د خپرونو رئیس،د غړی په توګه.
۷- د ستړي محکمې مالی او اداری رئیس، دغړی په توګه.

۲- سخنگوی ستره محکمه به حیث عضو.
۳- آمر عمومی اداری قوه قضائی به حیث عضو.
۴- رئیس دارالانشاء شورایعالی ستره محکمه بحیث عضو.
۵- رئیس تدقیق و مطالعات بحیث عضو و منشی کمیسیون.
۶- رئیس نشرات ستره محکمه بحیث عضو.
۷- رئیس مالی و اداری ستره محکمه بحیث عضو.

شپږمه ماده:
د کمېسیون د کارپلان اود غونډې وختونه پخپله دکمېسیون لخوا تنظیم او تطبیقېږی.

مادۀ ششم:
پلان کار و اوقات جلسۀ کمیسیون از طرف خودکمیسیون تنظیم و تطبیق می گردد.

اووم ماده :
دکمېسیون غونډې دغړو په دوو ثلثو سره جوړې او تصمیمونه یې د حاضروغړو درأیو په اکثریت نیول کېږی.

مادۀ هفتم:
جلسات کمیسیون با دوثلث اعضاء دایر وتصامیم آن به اکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ می گردد.

اتمه ماده:
دکمېسیون دندې او واکونه عبارت دی له:

مادۀ هشتم:
وظایف وصلاحیت های کمیسیون عبارت اند از:

۱- د قضایی پوهنې د ستراتیژۍ د طرح تصویبول.
۲- د کمېسیون د فعالیت د پلان تصویبول.
۳- د قضایی پوهنې په اړه د ستړې محکمې د ادارو د فعالیت دپلان تصویبول.

۱- تصویب طرح ستراتیژی معارف قضائی.
۲- تصویب پلان فعالیت کمیسیون.
۳- تصویب پلان فعالیت ادارات ستره محکمه به ارتباط معارف قضائی.

درېیم فصل
قضایی زده کړه

فصل سوم
آموزش قضائی

نهمه ماده:
قاضیانو اود قضائیه قوې نورو منسوبینو ته قضایی زده کړه، له لاندې لارو څخه صورت مومی:
الف- د قضایی ستاژ کورس.
ب_ د قصیر المدت کورسونو، زده کړه ییزو او توضیحی سیمینارونو، کنفرانسونو او ورکشاپونو جوړول.

مادۀ نهم:
آموزش قضائی برای قضات وسایر منسوبین قوۀ قضائیه از طریق ذیل صورت می گیرد:
الف- کورس ستاژ قضائی.
ب- تدویر کورس های قصیرالمدت، سیمینارهای آموزشی و توضیحی، کنفرانس ها وورکشاپ ها.

لسمه ماده:
دښوو نیز نصاب د قضایی زده کړې چارې او په اړوندو ساحو کې په هغۀ پورې تړلې مسئلې، د جلا تقنینی سندونو مطابق صورت مومی.

مادۀ دهم:
امور آموزش قضائی نصاب تعلیمی و مسایل متعلق به آن در ساحات مربوط بر طبق اسناد تقنینی جداگانه صورت می گیرد.

څلورم فصل
قضایی خپرونې

یوولسمه ماده:
د حقوقی آثارو د تعمیم او تکثیر په ساحه کې د قضائیه قوې ارتیاوې له لاندې ناحیو څخه مطرح دی:
۱- د قضایی ستاژ د کورس او نورو قصیر المدت کورسونو د درسی موادود ارتیا تأمینول.
۲- دمنسوبینو دمسلکی او حقوقی پوهې دکچې د لوړېدو په خاطر دکتابونو، دقضا مجلې، مصوبو، متحدالمالونو،لارښودونو او نورو رسالو په شمول ، د حقوقی آثارو تنظیمول او تعمیم.
۳- د سترې محکمې اود قضائیه قوې د نورو ټولنو د فعالیتونو د څرګندولو په منظور، دمیزان د جریدې خپرول.
۴- خلکو ته د قضائیه قوې د پېژندګلوی د څرګندولو اود سترې محکمې د ادارو د قضایی فعالیتونو د انعکاس په خاطر، د انټرنټی پاڼې په وسیله د اړینو معلوماتو د خپرولو اهتمام.

فصل چهارم
انتشارات قضائی

مادۀ یازدهم:
ضرورت های قوۀ قضائیه در ساحه تعمیم و تکثیر آثار حقوقی از نواحی ذیل مطرح می باشد:
۱- تأمین ضرورت مواد درسی کورس ستاژ قضائی وسایر کورس های قصیر المدت.
۲- تنظیم و تعمیم آثار حقوقی به خاطر ارتقای سطح دانش و مسلکی و حقوقی منسوبین شامل کتب، مجله قضاء، مصوبات، متحدالمال ها، رهنمود هاو سایر رساله ها.
۳- نشر جریدۀ میزان به منظور انعکاس فعالیت های ستره محکمه و سایر نهادهای قوۀ قضائیه.
۴- اهتمام از پخش معلومات های ضروری بوسیله صفحۀ انترنیتی بخاطر انعکاس معرفی قوۀ قضائیه برای مردم و انعکاس فعالیتهای قضائی و ادارات ستره محکمه.

دوولسمه ماده:
په پورتنیو ساحو کې د قضایی خپرونو چارې، د خاصو او په هغو پورې د اړوندو مقراتو او لایحو پربنسټ سرته رسېږی.

مادۀ دوازدهم:
امور انتشارات قضائی در ساحات فوق بر اساس مقررات و لوایح خاص و مربوط آن انجام می گیرد.

دیارلسمه ماده:
اړونده اداره پدې فصل کې درج شوې چارې، د لیک دهیئت او نورو اړوندو کمیټو او کمېسیونونو چې د سترې محکمې د مقام لخوا ټاکل کېږی، په همکارۍ سازمانوی او اجراء کوی.

مادۀ سیزدهم:
ادارۀ مربوط امور مندرج این فصل را به همکاری هیأت تحریر و سایر کمیته ها و کمیسیون های مربوط که از جانب مقام ستره محکمه تعیین می گردد، سازماندهی و اجراء می نماید.

پنځم فصل
دحقوقی – قضایی آثاروتنظیم

فصل پنجم
تنظیم آثار حقوقی – قضائی

څوارلسمه ماده:
په (حقوقی – قضایی) ساحه کې د کتابونو، رسالو او موادو برابرول چې د اهل خبره وو(متخصصینو، څېړونکو، د فقهې او حقوقو د علومو د پوهانو) په مرسته صورت مومی، د آثارو په تنظیم کې شامل دی.

مادۀ چهاردهم:
تنظیم آثار در ساحه (حقوقی – قضائی) شامل تهیه کتب، رساله ها و موادی است که به کمك اهل خبره (متخصصین، محققین، دانشمندان علوم فقه و حقوق) صورت می گیرد.

پنځلسمه ماده :
دقضائی پوهې دتعمیم او دقضائیه حقوقی فرهنګ دېډاینې په خاطر،

مادۀ پانزدهم:
به خاطر تعمیم معارف قضائی و غنای فرهنگ حقوقی قضائیه آثار

حقوقی آثار په لاندې ساحو کې تنظیم او خپرولو ته چمتو کېږي:
الف ـ په حقوقی مدنی ، سوادګری او مدنی ساحوکې توضیحی کتابونه.
ب ـ حقوقی آثار چې داساسی قانون بیانوونکی وی او په خاصه دقضاء په ساحه پورې اړوندوی .
ج ـ دتېروکارونو په دوام، دمحکمو په اجراآتو پورې داړوندو قضایی او اداری متحد المالونو تنظیم اوتدوینول.
د ـ دسترې محکمې دلارښودونو او نورو مصوبو تنظیمول.
هـ ـ دمتنی او شکلی قوانینو په خاصه دمدنی قانون او د جزاء دقانون شرح او توضیح.

شپږم فصل
سمعی او بصری برنامې

شپاړسمه ماده:
په سمعی اوبصری برنامو کې هغه توضیحی پروګرامونه شامل دی چې د(قضاء او قانون) په اړه درادیو، تلویزیون ، انترنت او لنډو

حقوقی در ساحات ذیل تنظیم و آماده نشر می گردد:
الف- کتب توضیحی در ساحات حقوقی مدنی، تجارت و مدنی.
ب- آثار حقوقی که مبین توضیح قانون اساسی و سایر قوانین بوده و به خصوص به ساحۀ قضاء مربوط باشد.
ج- تنظیم و تدوین متحدالمال های قضائی و اداری مربوط به اجراآت محاکم به ادامۀ کارهای گذشته.
د - تنظیم رهنمود ها و سایر مصوبات ستره محکمه.
هـ- شرح وتوضیح قوانین متنی وشکلی به خصوص قانون مدنی و قانون جزاء.

فصل ششم
برنامه های سمعی و بصری

مادۀ شانزدهم:
برنامه های سمعی و بصری شامل پروگرام های توضیحی است که بارتباط (قضاء و قانون) ازطریق رادیو، تلویزیون، انترنت و

سینمائی فلمونه له لارې خپرېږی.

اوولسمه ماده :
دسمعی او بصری برنامو په تنظیم کې په مختلفو قضیو کې دقانون د تطبیق لارې چارې ، دقوانینو او حقوقی مسئلو توضیح، له قضائیه قوې او دهغې له اړوندو ټولنو سره بلدتیا ، په اساسی قانون او اړوندو قوانینو کې دبشر دحقوقو او داتباعو دحقوقو اووجایبو توضیح، دافغانستان په اسلامی جمهوریت کې دمحکمو سیستم ، دکورنۍ حقوق، د اطفالو حقوق، دجرمونو علتونه او انګېزې او له تاو تریخوالی، جرمونو او له قانون څخه له سر غړونوڅخه دمخنیوی لارې او نور لازم او اړین معلوماتونه په پام کې نیول کېږی.

اتلسمه ماده :
په اړوندو ساحوکې سمعی او بصری برنامې دخاصو مقرراتو او لایحو مطابق د اړوندې ادارې له لارې دهم غړی دکمېسیون تر نظر لاندې اجراء کېږی.

فلمهای سینمائی کوتاه پخش می گردد.

مادۀ هفدهم:
در تنظیم برنامه های سمعی و بصری شیوه های تطبیق قانون در قضایای مختلفه، توضیح قوانین و مسایل حقوقی، آشنائی با قوه قضائیه و نهادهای مربوط آن، توضیح حقوق بشر و حقوق اساسی اتباع ووجایب آن در قانون اساسی و قوانین مربوط، سیستم محاکم در جمهوری اسلامی افغانستان، حقوق خانواده، حقوق اطفال، علل و انگیزه های جرایم و طرق جلوگیری از خشونت ها ، جرایم و تخلفات قانونی و سایر معلومات های لازم و ضروری در نظر گرفته می شود.

مادۀ هجدهم:
برنامه های سمعی و بصری ساحات مربوط طبق مقررات و لوایح خاص از طریق ادارۀ مربوط تحت نظر کمیسیون هماهنگی مورداجراء قرار می گیرد.

نولسمه ماده:
د سمعی او بصری برنامو کاری پلان، د هم غړی د کمیسیون له تصویب وروسته، د تطبیق ډګر ته راځی.

شلمه ماده:
د سمعی او بصری برنامو تنظیم او تطبیق د هم غړی د کمیسیون له ارزونې وروسته، د سترې محکمې رئیس او د سترې محکمې عالی شوری ته وړاندې کېږی.

مادۀ نزدهم:
پلان کاری برنامه های سمعی و بصری بعد از تصویب کمیسیون هماهنگی به منصه تطبیق قرارداده می شود.

مادۀ بیستم:
تنظیم وتطبیق برنامه های سمعی و بصری بعد از ارزیابی کمیسیون هم آهنگی به رئیس ستره محکمه و شورای‌عالی ستره محکمه ارائه می گردد.

اووم فصل
شفاهی حقوقی تبلیغ

یوویشتمه ماده:
په ستره محکمه کې شفاهی حقوقی تبلیغ، له لاندې لارو څخه په یوې صورت مومی:
الف-دتوضیحی سیمینارونوجوړول.
ب- د کاری کنفرانسونو او ورکشاپونو جوړول.
ج- په ادارو، مؤسسو اود خلکو په ټولنو کې د قوانینو او حقوقی مسئلو توضیح.

فصل هفتم
تبلیغ شفاهی حقوقی

مادۀ بیست ویکم:
تبلیغ شفاهی حقوقی در ستره محکمه به یکی از طرق ذیل صورت گرفته می تواند:
الف- تدویرسیمینارهای توضیحی.
ب- تدویر کنفرانس ها و ورکشاپ های کاری.
ج- توضیح قوانین و مسایل حقوقی در ادارات، مؤسسات و مجامع مردم.

دوه ویشتمه ماده:
پدې فصل کې د درج شوو مسئلو د مطلوب تطبیق په منظور، هغه خاص لارښودونه چې د سترې محکمې د رئیس په منظورۍ رسېږی ، تنظیم او عملی کېږی.

درویشتمه ماده:
دشفاهی حقوقی تبلیغ د چارو تنظیم، دسترې محکمې د اړوندو ادارو د هڅو په شریکولوسره صورت مومی.
د سترې محکمې مالی او اداری ریاست پدې فصل کې د درج شوو برنامو د سمې اجراء لپاره، د ترانسپورتی وسایلو او نورو اړتیاوو د تأمیندو په برخه کې د هڅې او همکاریۍ په شریکولو مکلف دی.

اتم فصل
متفرقه حکمونه

څلېریشتمه ماده:
ددې مقررې د موخو د پلې کېدو په خاطر، لاندې تقنینی سندونه هم تر تطبیق او اجراء لاندې نیول کېږی:

مادۀ بیست و دوم:
به منظور تطبیق مطلوب مسایل مندرج این فصل رهنمودهای خاص که به منظوری رئیس ستره محکمه می رسد ، تنظیم و مورد عمل قرار می گیرد.

مادۀ بیست وسوم:
تنظیم امور تبلیغ شفاهی حقوقی به تشریك مساعی ادارات ذیربط ستره محکمه صورت می گیرد.
ریاست مالی واداری ستره محکمه در زمینه تأمین وسایل ترانسپورتی و سایر نیازمندی ها جهت اجرای سالم برنامه های مندرج این فصل مکلف به تشریك مساعی وهمکاری است.

فصل هشتم
احکام متفرقه

مادۀ بیست و چهارم:
به خاطر تحقق اهداف این مقرره، اسناد تقنینی ذیل نیز مورد تطبیق و اجراء قرار می گیرد:

۱- د قضاء د مجلې اساسنامه.
۲- د میزان د جریدې اساسنامه.
۳- د قضاء د کتابتون دد نډو لایحه.
۴- د سترې محکمې د خپرونو د اداري د دندو لایحه.
۵- د تدقیق او مطالعاتو د ریاست د دندو لایحه.
۶- د افغانستان اسلامی جمهوریت د سترې محکمې د ویب سایت کړنلاره.
۷- د سترې محکمې نور مقررات، لایحې، تعلیماتنامې او لارښودونۀ چې پدې مقرره کې د درج شوو مسئلو په ارتباط وضع شوی وی.

پنځه ویشتمه ماده:

ددې مقررې د تطبیق په منظور، د سترې محکمې د اړوندو ادارو دندې او مکلفیتونه د (حقوقی تبلیغ په اړه د سترې محکمې د ادارو د فعالیت پلان) اود (هم غږې د کمېسیون د فعالیت) په پلان کې چې د هم غږې د کمېسیون له تصویب وروسته تر تطبیق لاندې نیول کېږی، تصریح او تسجیل کېږی، اړوندې اداري دې د

۱-اساسنامۀ مجلۀ قضاء.
۲- اساسنامۀ جریدۀ میزان .
۳- لایحۀ کتابخانه قضاء .
۴- لایحه وظایف ادارۀ نشرات ستره محکمه .
۵- لایحۀ وظایف ریاست تدقیق و مطالعات .
۶- طرزالعمل ویب سایت ستره محکمه جمهوری اسلامی افغانستان.
۷- سایرمقررات لوایح ، تعلیماتنامه ها و رهنمود های ستره محکمه که بارتباط مسایل مندرج این مقرره وضع گردیده باشد .

مادۀ بیست و پنجم :

وظایف و مکلفیت های ادارات مربوط ستره محکمه به منظور تطبیق این مقرره در (پلان فعالیت ادارات ستره محکمه به ارتباط تبلیغ حقوقی) و در پلان (فعالیت کمیسیون هم آهنگی)که بعد از تصویب کمیسیون هماهنگی مورد تطبیق قرار می گیرد ، تصریح و تسجیل می یابد .

پورتنیو تنظیم شوو پلانونو مطابق، اجراآت وکړی، له خپل فعالیت څخه دې رپوټ ورکړی.

شپږویشتمه ماده:
تر هغۀ وختـه چې د (قضایی پوهنې) د فعالیتونو د حق الزحمې مقرره تنظیم او له پراوونو څخه تېرېږی، د هغو فعالیتونو حق‌الزحمه چې ددې مقررې د موخو د پلې کېدو په منظور، سرته رسېږی، د علمی او څېړنیزو فعالیتونو د حق الزحمو د مقررې او د خپرنیزو فعالیتونو د حق الزحمې د مقررې د حکمونو مطابق چې دمخه نافذې شوېدی، د اجراء وړ ده.

نهم فصل
نهایی حکمونه

اووه ویشتمه ماده:
د سترې محکمې لخوا پدې مقرره کې د درج شوو مسئلو د تطبیق په خاطر، له ملی او خصوصی خپرنیزو ارګانونو سره له تفاهم وروسته، موافقه لیکونه د سترې محکمې لخوا تنظیم او لاسلیک کېږی.

ادارات مربوط طبق پلان های تنظیم شدۀ فوق اجراآت نموده از فعالیت شان گزارش دهند .

مادۀ بیست وششم :
تا زمانیکه مقررۀ حق الزحمه فعالیت های (معارف قضائی) تنظیم وطی مراحل می نماید حق الزحمۀ فعالیت های که به منظور تحقق اهداف این مقرره انجام می شود مطابق احکام مقررۀ حق الزحمه فعالیت های علمی وتحقیقی ومقررۀ حق الزحمۀ فعالیت های نشراتی که قبلاً نافذ گردیده است، قابل اجراء می باشد.

فصل نهم
احکام نهائی

مادۀ بیست و هفتم :
به خاطر تطبیق مسایل مندرج این مقرره از جانب ستره محکمه با ارگان های نشراتی ملی وخصوصی بعد از تفاهم ، توافق نامه ها تنظیم و به امضاء می رسد .

اته ویشتمه ماده:
پدې مقرره کې ددرج شوو مسئلو د لاښه تطبیق په خاطر له لاندې مقاماتو سره: د لوړو زده کړو، د اطلاعاتو اوفرهنګ ارشاد او اوقافو، له مخدرو موادو سره د مبارزې وزارتونو اود علومو اکاډمۍ، مدنی ټولنې او نورو ملی او بین المللی فرهنګی مؤسسو سره لازم تماسونه نیول کېږی اوعندالایجاب موافقه لیکونه لاسلیک کېږی.

نهه ویشتمه ماده:
د قضایی پوهنې د موخو د تطبیق په منظور، د بین المللی سر چینو مرستې او کومکونه جلبېږی.
د قضائیه قوې اداری عمومی آمریت مؤظف دی څو پدې برخه کې د تفاهم او توافق زمینه برابره کړی.

دېرشمه ماده:
دغه مقرره په (۳۰) مادو کې، د ستړې محکمې د عالی شوری له تصویب وروسته نافذه ده.

مادۀ بیست وهشتم :
به خاطر تطبیق هرچه بیشتر مسایل مندرج این مقرره با مقامات ذیل : وزارت های تحصیلات عالی و مسلکی، اطلاعات و فرهنگ، وزارت ارشاد واوقاف، مبارزه باامواد مخدر و اکادمی علوم، جامعه مدنی و سایر مؤسسات فرهنگی ملی وبین المللی تماس های لازم برقراروعندالایجاب توافق نامه ها به امضاء می رسد .

مادۀ بیست و نهم :
به منظورتحقق اهداف معارف قضائی مساعدت وکمك های مندرج منابع بین المللی جلب می گردد.
آمریت عمومی اداری قوۀ قضائیه مؤظف است تا زمینۀ تفاهم و توافق را دراین زمینۀ مهیا ومساعد گرداند.

مادۀ سی ام :
این مقرره بداخل (۳۰) ماده بعد ازتصویب شورای عالی ستره محکمه نافذ است .

مقررهٔ آموزش محررین

د محررینو د زده کړې مقرره
لومړی فصل
عمومی حکمونه

لومړی ماده:
دغه مقرره د محررینو په زده کړې پورې اړوندې چارې تنظیموی.

دوه یمه ماده:
دمحررینـــو دزده کـــړې کـــورس د ســـترې محکمـــې د تـــدقیق او مطالعـاتو دلـوی ریاست دقـضایی ښـوونو د اداري پـه چوکـاټ کـې جوړېږی.

دریمه ماده:
د محررینـو د زده کړې د کـورس د جوړېـدو موخـه دمحکمـو د اداری پرسونل روزل اود هغوی دمسلکی پوهې د سطح لوړول دی.

څلورمه ماده:
د محررینو د زده کړې کورس په لاندې دوه ډوله جوړېږی:
الف- د هغو کسانو لپاره د ستاژ کـورس چـې د ماموریـت سـابقه (مخینه) نلری اود محرری په دندې د مقرربدو په غرض کاندید ، وی.

مقررهٔ آموزش محررین
فصل اول
احکام عمومی

مادهٔ اول:
این مقرره امور مربوط به آموزش محررین راتنظیم می نماید.

مادهٔ دوم:
کـــورس آمـــوزش محـــررین در چوکـــــات ادارهٔ تعلیمـــــات قـضائی ریاسـت عمـومی تـدقیق ومطالعـات سـتره محکمـه تـدویر می یابد.

مادهٔ سوم:
هـدف ازتـدویر کـورس آمـوزش محـررین ، تربیـهٔ پرسـونل اداری محـاکم وارتقـای سـطح دانـش مسلکی آنهاست.

مادهٔ چهارم:
کورس آموزش محررین به دونوع ذیل دایر می گردد:
الف- کورس ستاژ برای کسانیکه ســـابقهٔ ماموریـــت نداشـــته وبـرای تقـرر بـه وظیفـه محـرری کاندید باشند.

ب- دخدمت دننه د زده کړی کورس د هغو محررینو لپاره چې د کاری سابقې لرونکی دی خو ستاژیې ندی لیدلی.

پنځمه ماده:
د محررینو د زده کړې د کورس موده، (۶) میاشتې اود سابقې لرونکو محررینو د خدمت دننه زده کړې لپاره (۴) میاشتې ده.

شپږمه ماده:
د کورس شاملین د قانون د حکمونو او د دغې مقررې د حکمونو له په پام کې نیولو سره د ماموریت له ټولو حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن کېږی.

دوه یم فصل
د شاملېدو شرایط
لومړی برخه- د محرری د ستاژ په کورس کې د شاملېدو شرایط

اوومه ماده:
دستاژ دکورس شاملان دکار د قانون،دملکی خدمتونو دکارکوونکو د قانون او نورو تقنینی سندونو د حکمونو له په پام کې نیولو سره، د کانکور د

ب - کورس آموزش داخل خدمت برای محررینی که دارای سابقهٔ کاری بوده ولی ستاژ ندیده اند.

مادهٔ پنجم:
مدت کورس آموزش محررین برای ستاژ (۶) ماه و برای آموزش داخل خدمت محررین سابقه دار (۴) ماه می باشد.

مادهٔ ششم :
شاملین کورس ازکلیه حقوق وامتیازات ماموریت بارعایت احکام قانون واحکام این مقرره مستفید می گردند.

فصل دوم
شرایط شمول
قسمت اول- شرایط شمول درکورس ستاژ محرری

مادهٔ هفتم:
مشمولین کورس ستاژ بارعایت احکام قانون کار، قانون کارکنان خدمات ملکی وسایر اسناد تقنینی ازطریق امتحان کانکور و

ازموینې او لاندې شرایطو له لارې غوره کېږی:

الف- د هېواد د پوهنتونونو د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو فارغان یا د هغوی معادل.

ب- د دینی مدرسو فارغان چې د نمرو اوسط یې په سلو کې له (۷۰) څخه لږ نه وی.

ج- هغه کسان چې د قضایی ستاژ د کورس دکانکور ازموینه یې تېره کړې وی، په هغهٔ صورت کې چې د قضایی ستاژ په کورس کې د شاملېدو معیاری نمری پوره نکړی شی، د قضایی ښوونو د عالی کمیټې په تجویز د محررینو د کانکور په ازموینه کې له شاملېدو پرته د محرری د ستاژ د زده کړې په کورس کې منل کېدی شی. پدې شرط چې د قضایی ستاژ د کانکور په پایله کې، د پاتې اشخاصو په منځ کې لوړه نمره ولری.

اتمه ماده:

د ستاژ د کورس مشمولین کورس ته له داخلېدو دمخه، لاندې ژمنلیک لاسلیک کوی او ستړې محکمې ته یې سپاری:

شرایط ذیل انتخاب می شوند:

الف- فارغان پوهنځی های حقوق وشرعیات پوهنتون های کشور ویامعادل آن.

ب - فارغان مدارس دینی که اوسط نمرات شان از(۷۰) فیصد کمتر نباشد.

ج- کسانیکه امتحان کانکور کورس ستاژ قضائی راسپری نموده باشند ، درصورتی که نمرهٔ معیاری شمول در کورس ستاژ قضائی راتکمیل کرده نتوانند ، به تجویز کمیتهٔ عالی تعلیمات قضائی درکورس آموزش ستاژ محرری بدون شمول در امتحان کانکورمحررین، پذیرفته شده می توانند . مشروط براینکه در نتیجهٔ کانکور ستاژ قضائی درمیان اشخاص باقیمانده بلند ترین نمره را حایز باشند.

مادهٔ هشتم:

مشمولین کورس ستاژ قبل از دخول به کورس ،تعهد نامهٔ ذیل را امضاء نموده وبه ستره محکمه می سپارند:

" زه ..... د .... زوی د ..... پوهنځی ..... مدرسې د ..... کال فارغ التحصیل چې د محررینو د زده کړې په کورس کې د شاملېدو داوطلب یم ژمنه کوم څو د ستاژ د دورې له بریالی بشپړولو وروسته له هغو محکمو څخه په یوه کې چې د سترې محکمې په خوښه وټاکل شم، په پوره رضامندۍ او له تعلل پرته دندې ته روانېږم".

د پورتنی ژمنلیك یو نقل د بشری سرچینو ریاست ته استول کېږی څو د استخدام په وخت کې په پام کې ونیول شی.

دوه یمه برخه – دخدمت دننه د زده کړې کورسونه

نهمه ماده:

سابقه لرونکو محررینو ته د خدمت دننه زده کړو د کورسونو د جوړېدو موخه داده څو د هغوی د مسلکی پوهې سطح لوړه شی او په عصری پوهې سبمال شی.

لسمه ماده:

د تدقیق او مطالعاتو لوی ریاست د بشری سرچینو د ریاست (د کارمندانو د ذاتی چارو اداره) په

« اینجانب ... فرزند ... فارغ التحصیل ... سال... پوهنځی.... مدرسه ... که داوطلب شمول به کورس آموزش محررین می باشم تعهد میکنم تابعدازتکمیل موفقانه دورۀ ستاژ به هریك از محاکمی که حسب صوابدید ستره محکمه تعیین شوم بکمال رضامندی و بدون تعلل بالای وظیفه رهسپار می گردم».

یك نقل تعهد نامۀ فوق بریاست منابع بشری ارسال می گردد تا حین استخدام مد نظر گر فته شود.

قسمت دوم- کورس های آموزش داخل خدمت

مادۀ نهم:

هدف از تدویر کورس های آموزش داخل خدمت برای محررین سابقه‌دار این است تاسطح دانش مسلکی شان ارتقاء یابد وبه دانش عصری مجهز گردند.

مادۀ دهم:

ریاست عمومی تدقیق ومطالعات به همکاری ریاست منابع بشری (ادارۀ امور ذاتی کارمندان)

همکاری د سابقه لرونکو محررینو ټول شمېر تثبیت او هغوی ته په متناوبه توګه په کورسونو کې زده کړه ورکوی.

یوولسمه ماده:
د بشری سرچینو ریاست (د کارمندانو د ذاتی چارو اداره) مؤظف دی څو د محکمو محررین تر تدریجی او متناوب پلان لاندې کورس ته ورمعرفی کړی.

تعداد مجموع محررین سابقه دار را تثبیت وآنهارابطور متناوب درکورس ها آموزش می دهد.

مادۀ یازدهم:
ریاست منابع بشری (اداره امور ذاتی کارمندان) موظف است تامحررین محاکم راطی پلان تدریجی ومتناوب به کورس معرفی نماید.

درېیم فصل
ښوونیز پروګرام

فصل سوم
پروگرام تعلیمی

دوولسمه ماده:
د محررینو د زده کړې دکورس ښوونیز نصاب دتدقیق او مطالعاتو د لوی ریاست لخوا تنظیم اود قضایی لوړو ښوونو د کمیټې له تصویب وروسته تر تطبیق لاندې نیول کېږی.

مادۀ دوازدهم:
نصاب تعلیمی کورس آموزش محررین از طرف ریاست عمومی تدقیق ومطالعات تنظیم وپس ازتصویب کمیتۀ عالی تعلیمات قضائی مورد تطبیق قرار می گیرد.

دیارلسمه ماده:
د کورس په پروګرام کې لاندې برخې شاملې دی:
الف- د مسلکی او فنی مضامینو تدریس اود قوانینو، مقرراتو، لوایحو او متحدالمالونو تشریح.

مادۀ سیزدهم:
پروگرام کورس شامل قسمت های ذیل می باشد:
الف-تدریس مضامین مسلکی وفنی وتشریح قوانین ، مقررات ، لوایح ومتحدالمال ها.

ب- د وثیقو او قضایی سندونو د تنظیم او لیکلو ډول.
ج- د اړتیا تر حده د کمپیوټر زده کړه.
د- په محکمو کې د عملی معلوماتو ترلاسه کول (د ستاژېرانو لپاره).
هـ - په محکمو کې د کار دسلوك تدریس.

څوارلسمه ماده:
د محرری د ستاژ کورس له شپږ میاشتنی دورې څخه یې څلور میاشتې نظری درسونو ته او دوه وروستۍ میاشتې په محکمو کې د ستاژ لپاره اختصاص شوې دی.
ستاژیران د تدقیق او مطالعاتو د لوی ریاست د ترتیب کړی پروګرام پربنسټ، اړوندو محکمو ته د عملی کارونو د زده کولو په غرض رسماً ورمعرفی کېږی.

پنځلسمه ماده:
د محررینو د زده کړې د کورس شاملان د نظری درسونو او عملی کارونو په بهیر کې د نظم او ډسپلین په پام کې نیولو باندې مکلف دی د ګډوډی، اغتشاش او اعتصاب اود درس یا عملی کار د

ب - طرز تنظیم وتحریروثایق واسنادقضائی.
ج- آموزش کمپیوتر به حدضرورت.
د- کسب معلومات عملی درمحاکم (برای ستاژیران).
هـ- تدریس سلوك کاردر محاکم.

مادۀ چهاردهم:
از دورۀ شش ماهه کورس ستاژ محرری ، چهارماه آن برای دروس نظر ی و دو ماه اخیر برای ستاژ درمحاکم اختصاص دارد.
ستاژیران به اساس پروگرام مرتبه ریاست عمومی تدقیق ومطالعات، به محاکم مربوط غرض فراگیری کار های عملی رسماً معرفی می شوند.

مادۀ پانزدهم:
مشمولین کورس آموزش محررین درجریان دروس نظری و کارهای عملی به رعایت نظم ودسپلین مکلف بوده حق اخلال، اغتشاش واعتصاب وترك دسته جمعی جریان درس یاکار عملی را

ډله ییز پربښودلو حق نلری.

شپاړسمه ماده:
که چېرې د کورس یو یا څو شاملین له ستونزې سره مخامخ شی چې له اداری اجراآتو څخه راپیدا شوې وی، موضوع د تدقیق او مطالعات د لوی ریاست له لارې د سلسلې مراتب له په پام کې نیولو سره د سترې محکمې مقام ته وړاندې کوی. د تدقیق او مطالعاتو لوی ریاست د امکان تر حده ستونزه حل کوی پرته لدې چې برخه کې د واکمن مقام لارښوونه ترلاسه کوی.

اوولسمه ماده:
سابقه لرونکی محررین چې عملاً به محکمو کې په عملی کارونو بوخت دی، د کورس په پای کې خپلو اصلی دندو ته ورمعرفی کېږی اود عملی کار د دورې تېرولو ته اړتیا نلری.

اتلسمه ماده :
سابقه لرونکی محررین د خدمت دننه زده کړې د کورسونو د زده کولو په وخت کې، په خدمتی ندارند.

مادۀ شانزدهم:
هرگاه یك یا چند مشمول کورس به مشکلی مواجه شوند که ناشی از اجراآت اداری باشد، موضوع را از طریق ریاست عمومی تدقیق ومطالعات بارعایت سلسله مراتب به مقام ستره محکمه تقدیم می نمایند. ریاست عمومی تدقیق ومطالعات تاحد امکان برفع مشکل می پردازد درغیر آن هدایت مقام ذیصلاح را در زمینه حاصل می نمایند

مادۀ هفدهم:
محررین سابقه دار که عملاً درمحاکم به کارهای عملی مصروف بوده اند، درختم کورس دوباره به وظائف اصلی شان معرفی می شوند وضرورت به سپری نمودن دوره کارعملی ندارند.

مادۀ هجدهم:
محررین سابقه دار هنگام فراگیری کورس های آموزش داخل خدمت ، درموقف خدمتی قرار داشته

موقف کې ځای لری قانونی حقوق یې لکه معاش، سفریه اونور امتیازونه د قانون مطابق د اجراء وړ دی.

حقوق قانونی شان اعم از معاش ، سفریه وسایر امتیازات طبق قانون قابل اجراء می باشد.

څلورم فصل
د ستاژ کوونکو په وړاندې د محکمو مکلفیتونه

فصل چهارم
مکلفیت های محاکم دربرابر ستاژکنندگان

نولسمه ماده:

د ستاژ ځایی محکمې د ستاژ کوونکو په وړاندې لاندې مکلفیتونه په غاړه لری:

الف-دمحکمې د قضایی او اداری اجراآتو او له مراجعینو سره دچلند د ډول په هکله د ستاژیرانو عمومی لارښوونه .

ب- د څېړنې وړ قضیو په هکله د لازمو معلوماتو او څرګندونو (توضیحاتو) ورکول.

ت- د قضایی سندونو په لاس ورکول اود هغو په هکله د لازمو څرګندونو وړاندې کول.

ث- د فیصلې، وثایقو د لیکلو له ډول او نورو چارو سره د ستاژیرانو آشنا کول.

ج- د ستاژ کوونکو د عملی اداری معلوماتو د لاښه ترلاسه

مادۀ نزدهم:

محاکم محل ستاژ دربرابر ستاژ کنندگان مکلفیت های آتی رابه عهده دارند:

الف- رهنمائی عمومی ستاژ یران درمورد اجراآت قضائی واداری محکمه وطرز برخورد با مراجعین .

ب- دادن معلومات وتوضیحات لازم درمورد قضایای مورد رسیدگی.

ت- بدسترس گذاشتن اسناد قضائی ودادن توضیحات لازم در بارۀ آن.

ث- آشناساختن ستاژیران به طرز تحریر فیصله ، وثایق و سایر امور.

ج- سایر همکاری های مطلوب ومثمر درمورد کسب بهتر

کولو په هکله، مطلوبې او ګټورې همکاری.

شلمه ماده:
دستاژ ځایی محکمې دهغوی د عملی کار په موده کې دستاژیرانو له پابندې اوعلاقمندی څخه څارنه کوی دحاضری راپور دهغوی د ښوونیز پرمختګ اوسلوك د څرنګوالی په هکله له مشخص نظر سره یوځای، د تدقیق اومطالعاتو لوی ریاست ته په محرمانه توګه ور استوی.

معلومات های عملی اداری ستاژ کنندگان.

مادۀ بیستم:
محاکم محل ستاژ ازپابندی وعلاقمندی ستاژیران درمدت کار عملی شان مراقبت نموده راپور حاضری راتوأم بانظر مشخص درموردچگونگی پیشرفت تعلیمی وسلوك آنها به ریاست عمومی تدقیق ومطالعات طورمحرمانه ارسال می نمایند.

پنځم فصل
متفرقه حکمونه

فصل پنجم
احکام متفرقه

یوویشتمه ماده:
د زده کړې د دورې په پای کې عملی او نظری وروستی آزموینه دکورس له شاملانو څخه اخیستل کېږی.
کامیابان د وړتیا له مخې د محرری اود هغې په مماثلو دندو په محکمو کې ټاکل کېږی.
د فارغانو په ټاکلو کې د ستاژ د ځای د استادانو، قاضیانو او اداری آمرانو لیکلې نظریې

مادۀ بیست ویکم:
در اخیر دورۀ آموزش، امتحان نهائی عملی ونظری از شاملین کورس اخذ می گردد.
کامیابان حسب لیاقت به وظایف محرری ومماثل آن درمحاکم تعیین می شوند.
درتعیین فارغان نظریات کتبی استادان ، قضات و آمران اداری محل ستاژ مؤثر

اغېزمنې ګڼل کېږی.

دوه ویشتمه ماده:
هغه اشخاص چې د ازموینې په پایله کې ناکام شی په لاندی ترتیب له هغوی سره چلند کېږی.
الف - هغه اشخاص چې نوی شامل شویدی، دمحرر په توګه دهغوی له منلو څخه معذرت غوښتل کېږی.
ب- دمحکمو محررین او اداری مامورین چې د ماموریت سابقه لری، دغه ناکامی یې د سجل په فورمو کې معامله کیږی او په هماغه کال کې د قانون د احکامو مطابق له ترفیع څخه پاتې کېږی او مکلفیږی څو دکورس له پایته رسېدو وروسته دیوۀ کال په ترڅ کې د کورس وروستی ازموینه بیا تېره کړی.

درویشتمه ماده:
د ازموینې وختونه او کړنلاره د قضایی ښوونو د عالی کمیټې لخوا ټاکل کېږی.

څلېریشتمه ماده:
د محررینو د زده کړې د کورس فارغان چې څرګنده وړتیا او کافی پنداشته می شود.

مادۀ بیست ودوم:
اشخاصی که درنتیجه امتحان ناکام شوند به ترتیب ذیل با آنها معامله می شود:
الف - اشخاصی که جدیداً شامل شده اند از پذیرش شان بحیث محرر معذرت خواسته می شود.
ب - محررین ومامورین اداری محاکم که سابقۀ ماموریت دارند، این ناکامی درفورمه های سجل شان معامله می گردد و در همان سال مطابق به احکام قانون از ترفیع بازمی مانند ومکلف می شوند تا درخلال یك سال بعد ازختم کورس امتحان نهائی کورس را مجدداً سپری کنند.

مادۀ بیست و سوم:
اوقات وطرزالعمل امتحان از طرف کمیتۀ عالی تعلیمات قضائی تعیین می گردد.

مادۀ بیست وچهار م :
فارغان کورس آموزش محررین که لیاقت برازنده واهلیت کافی

اهلیت له ځانه وښیی او د حقوقو، شرعیاتو د لوړو زده کړو لرونکی یا د رسمی دینی مدرسو د (۱۴) ټولګی فارغ وی، د خدمت د یوې پنځه کلنې دورې له بشپړولو وورسته د ستړې محکمې له خوښې سره سم د کانکور له ازموینې پرته، د قضایی ستاژ په کورس کې شاملېدی شی.

ازخودتبارزبدهند و دارای تحصیلات عالی حقوق ، شرعیات ویا فارغ صنف (۱۴) مدارس رسمی دینی باشند بعد از اکمال یك دوره خدمت پنج ساله برحسب صوابدید ستره محکمه بدون امتحان کانکور، درکورس ستاژ قضائی شامل شده می توانند.

پنځه ویشتمه ماده:

دغه مقرره د ستړې محکمې د عالی شوری د تصویب له نېټې څخه نافذ ېږی.

مادۀ بیست وپنجم:

این مقرره ازتاریخ تصویب شورای عالی ستره محکمه نافذ می گردد.

ددې مقررې په نافذېدو سره د ۱۳۵۰ کال مصوب د قضاء د مجلې د ۱۳۵۰ کال په درېیمه ګڼه کې خپارۀ شوی د قضائیه قوې د عالی شوری (محرریښو پورې اړوندو مقررات) ملغی دی.

با انفاذ این مقرره ، (مقررات مربوط به ستاژ محررین) مصوب سال ۱۳۵۰ شورای عالی قوۀ قضائیه ، منتشرۀ شمارۀ سوم سال ۱۳۵۰ مجلۀ قضاء ملغی می باشد.

اساسنامۀ مجمع قضات افغانستان

د افغانستان د قاضیانو د مجمع تولنې اساسنامه

لومړی فصل

عمومی حکمونه

لومړۍ ماده:
دغه اساسنامه، د افغانستان په اسلامی جمهوریت کې د قاضیانو په مجمع پورې اړوندې چارې تنظیموی.

دوه یمه ماده:
د افغانستان د قاضیانو مجمع لدې وروسته پدې اساسنامه کې د (مجمع) په نوم یادېږی.

دریمه ماده:
ددې اساسنامې په مقصد قاضی هغۀ چاته ویل کېږی چې قضایی انسلاک یې، د قانون د حکمونو مطابق، د سترې محکمې په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظوری ترلاسه اود سترې محکمې په مربوطاتو کې دنده سرته ورسوی.

څلورمه ماده:
د مجمع مقر د کابل په ښار کې دی، د لزوم په صورت کې د هغې

اساسنامۀ مجمع قضات افغانستان

فصل اول

احکام عمومی

مادۀ اول:
این اساسنامه، امور مربوط به مجمع قضات را در جمهوری اسلامی افغانستان تنظیم می نماید.

مادۀ دوم :
مجمع قضات افغانستان من بعد در این اساسنامه بنام (مجمع) یاد می گردد.

مادۀ سوم:
به مقصد این اساسنامه قاضی به کسی اطلاق می گردد که انسلاك قضائی وی مطابق به احکام قانون، به پیشنهاد ستره محکمه ومنظوری رئیس جمهور حاصل و درمربوطات ستره محکمه ایفای وظیفه نماید.

مادۀ چهارم:
مقر مجمع در شهر کابل قراردارد. درصورت لزوم فروعات آن

فروعات د نورو اووه ګونو زونونو په مرکزونو کې هم جوړېدی شی.

درمراکز زون های هفت گانه دیگرنیز تأسیس شده می تواند.

دوه یم فصل
موخې

پنځمه ماده:
مجمع د لاندې موخو د پلی کېدو په منظور، جوړېږی:
۱- په هېواد کې د قانون د حاکمیت د ډېر ښه او اغېزمن تأمین او د عدالت د تطبیق په منظور، د قاضیانو چمتو کول.
۲- د قاضیانو د مسلکی او تجربوی ودې د زمینې برابرول.
۳- د حقوقی زده کړې، د بهرنیو ژبو او نورو مسلکی وړتیاوو د پیاوړتیا په منظور، له بورسونو څخه ښه ګټه اخیستنه اود قصیر المدت کورسونو جوړول.
۴- د قضایی تجربو د تبادلې د زمینې برابرول اود قضایی پوهنې په تعمیم کې کارنده ګډون.
۵- نورې هغه مسئلې چې تأمینېدل یې د سترې محکمې لخوا اړین تشخیص شی.

فصل دوم
اهداف

مادۀ پنجم:
مجمع به منظور تحقق اهداف ذیل تشکیل می گردد:
۱-بسیج نمودن قضات به منظور تأمین بهتر ومؤثر حاکمیت قانون وتطبیق عدالت درکشور.
۲- فراهم نمودن زمینۀ رشدمسلکی وتجربوی قضات.
۳- استفادۀ بهتر از بورس ها وتدویر کورس های قصیر المدت به منظور آموزش حقوقی، تقویۀ لسان های خارجی وسایر قابلیت های مسلکی .
۴-مساعد نمودن زمینۀ تبادل تجارب قضائی واشتراك فعال در تأمین معارف قضائی.
۵- سایر مسایلی که تأمین آن ازطرف ستره محکمه ضروری تشخیص گردد.

شپږمه ماده:
ستره محکمه ددې اساسنامې په پنځمه ماده کې د درج شوو موخو د پلی کېدو په مقصد لایحې، کړنلاره او لارم لارښودونه وضع او نافذ وی.

درېیم فصل
تشکیل او ترکیب

اوومه ماده:
(۱) د قاضیانو مجمع له لاندې اشخاصو څخه جوړېدی شی:
۱- هغه قاضیان چې بالفعل په محکمو کې د قضاوت په چاره بوخت دی.
۲- هغه قاضیان چې د قضایی انسلاک لرونکی دی او دعدلیې وزارت، لویې څارنوالی، کورنیو چارو وزارت یا د ملی امنیت له مسلکی څانګو څخه په یوه کې په خدمت بوخت وی.
۳- هغه قاضیان چې د قضاء له دندې څخه متقاعد او په بله دنده بوخت نه وی.
(۲) د ستریې محکمې د عالی شوری غړی د مجمع غړیتوب نشی ترلاسه کولی.

مادۀ ششم:
ستره محکمه به مقصد تحقق اهداف مندرج مادۀ پنجم این اساسنامه لوایح ، طرزالعمل ورهنمود های لازم راوضع ونافذ می نماید.

فصل سوم
تشکیل و ترکیب

مادۀ هفتم:
(۱) مجمع قضات مرکب از اشخاص ذیل بوده می تواند:
۱- قضاتیکه بالفعل در محاکم به امر قضاوت اشتغال دارند.
۲-قضاتیکه دارای انسلاك قضائی بوده ودریکی از ادارات مسلکی وزارت عدلیه ، لوی څارنوالی ، وزارت داخله ویاامنیت ملی مصروف خدمت باشند.
۳- قضاتیکه از وظیفۀ قضاء متقاعد ودر وظیفۀ دیگری اشتغال نداشته باشند.
(۲) اعضای شورای عالی ستره محکمه عضویت مجمع راحاصل کرده نمی توانند.

اتمه ماده:
په مجمع کې ددې اساسنامې د اوومی مادې په (۱) فقره کې د درج شوو قاضیانو شاملېدل حتمی اود هغې په (۲او۳) جز کې د درج شوو قاضیانو لپاره اجباری ندی بلکې بشپړ په اختیاری او داوطلبانه توګه صورت مومی.

نهمه ماده:
د قاضیانو مجمع، له رئیس، سکرتر (منشی) او کمیټو څخه جوړه ده.

لسمه ماده:
دمجمع رئیس د سری رأیې اخستنې له لارې د دوو کلونو مودې لپاره او منشی یې د یوۀ کال لپاره غوره کېږی.
د رئیس او منشی بیا غوره کېدل یوازې د دوه یم ځل لپاره مانع نلری.

یوولسمه ماده:
مجمع د فرهنګی، مالی کمیټو اود کنترول او څارنې د کمیټې لرونکې ده.
عندالایجاب ،د اړتیا له مخې، نورې کمیټې جوړېدی شی.

مادۀ هشتم:
شمول در مجمع برای قضات مندرج فقره (۱) مادۀ هفتم این اساسنامه حتمی وبرای قضات مندرج اجزای (۲و۳) آن اجباری نبوده بلکه کاملاً بطور اختیاری وداوطلبانه صورت می گیرد.

مادۀ نهم:
مجمع قضات مرکب از رئیس، سکرتر (منشی) و کمیته ها می باشد.

مادۀ دهم:
رئیس مجمع ازطریق رأی گیری سری برای مدت (۲) سال ومنشی آن برای مدت یکسال، انتخاب می گردد.
انتخاب مجدد رئیس ومنشی صرف برای باردوم مانع ندارد.

مادۀ یازدهم:
مجمع دارای کمیتۀ فرهنگی، کمیتۀ مالی ، کمیتۀ نظارت و کنترول می باشد.
عندالایجاب ،سایر کمیته ها بنابر ضرورت ایجاد شده می تواند.

دنوروکمیټــو دنــدې او واکونــه دارټیا لـه مخې په اړوندوکړنلارو کې تنظیمېږی .
پــه کــړنلارو کــې دکمیټــې ډول، دکمېټــو دغــړو شــمېر، مــوخې او دندې څرګند ېږی .

دوولسمه ماده:
مجمــــع د دوه ډولــــه غونــــډو لرونکې ده:
۱- عمـومی غونـډې لـه هـر ولایـت څخه له دریو دریو تنو استازو څخه جوړې.
۲- د کمیټو غونډې.

دیارلسمه ماده:
عمـومی غونـډه د مجمـع د تـصمیم نیولو ډېره لوړه مرجع ده.
عمــومی غونــډه پــه هــرو (شــپږو میاشــتو) کــې یــو ځـل جــوړېږی.
د دوو عمـومی غونـډو پـه فاصـله کې د کمیټو رئیسان، منشیان او مسئولین د مجمع د چارو د اجراء مسئولیت په غاړه لری.
د مجمــع رئــیس د هغــۀ فعالیــت رپوټ چې د دوو عمومی غونډو په فاصله کې یې صورت موندلی، د ارزونې لپـاره عمـومی غونـډې تـه وړاندې کوی.

صلاحیت ها ووظایف سایر کمیته هـا بنـابر ضـرورت در طرزالعمـل های مر بوط تنظیم می شود.
در طرز العمل نوع کمیته، تعداد اعضای کمیته، اهداف و وظایف توضیح می‌گردد.

مادۀ دوازدهم:
مجمـع در مجمـوع دارای دو نـوع جلسه می باشد:
۱_جلــسۀ عمــومی مرکــب از ســه ســه نفرنماینــده از هــر ولایت.
۲_جلسات کمیته ها.

مادۀ سیزدهم:
جلسه عمـومی عـالی تـرین مرجـع تصمیم گیری مجمع می باشد.
جلسۀ عمومی در هر (شش ماه) یك بار دایر می شود.
در فاصـله بـین دو جلسۀ عمـومی رئـیس، منـشی و مـسؤلین کمیتـه ها مسئولیت اجرای امور مجمع را بعهده دارند.
رئــیس مجمــع گــزارش فعالیــت را کــه در فاصــله بــین دو جلــسه عمــومی صــورت گرفتــه اســت جهـت ارزیـابی بـه جلسه عمـومی ارائه می نماید.

څوارلسمه ماده:
دمجمع عمومی غونډې د هغې د غړو د دوو ثلثو په پوره کېدو سره جوړېږی.
د عمومی غونډو تصویبونه د حاضرو غړو په اکثریت رأیو سره نیول کېږی.

ماده چهاردهم:
جلسات عمومی مجمع با اکمال دو ثلث اعضای آن دایر می گردد.
تصاویب جلسۀ عمومی به اکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ می گردد.

څلورم فصل
مالی چارې

فصل چهارم
امور مالی

پنځلسمه ماده:
دمجمع مالی چارې له لاندې سرچینو څخه تأمینېږی:
۱- د هغو خپرونو او حقوقی آثارو د پلورنې له درکه چې د مجمع لخوا برابر او خپرېږی.
۲- د سترې محکمې له مالی مرستې څخه.
۳- د بین المللی سرچینو له مرستو څخه.

مادۀ پانزدهم:
